بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** صنعتي اقتصاد

**څانګه:** محاسبه، او د تجارت اقتصاد

**تدوین کوونکی:** عبدالرحمن سروري

**ژباړونکی:** نورالله حقمل

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- محمد نسیم پسرلی
- عبدالجمیل ممتاز


**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول :** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** علی مومنی

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۶۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**ISBN کوډ:** ISBN 978[illegible]



Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلوخو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو

ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاوېدان

نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!

د يوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پياوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زيار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هيواد انکشافي اهدافو ته د رسيدو لارې چارې طی کوي او د يوه نيکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمينوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د څمکې په عمران او د يوه سوکاله ژوند د اسبابو او ايجاباتو د تکميل لپاره خپل اغيزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځايه ده چې د يوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپيريال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هيڅ حالت کې نه نفی کيږي او نه هم منقطع کيږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت مسووليت او مکلفيت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانينو ته په ژمنتيا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ستر او سپيڅلي هدف ته د رسيدو په خاطر د انساني ظرفيت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنيکي کادرونو روزنه او پراختيا يو اړين مقصد دی. همدا په تخنيکي او مسلکي زده کړو مزين تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سيستماتيک ډول د هيواد انکشاف محقق او ميسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنيز نظام د اسلام له سپيڅلو احکامو څخه الهام اخيستی، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي بايد په علمي معيارونو داسې اساس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړيتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفيت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربيت او په سوچه اسلامي روحيې د هغوی پالنه نه يوازې پخپل ذات کې يوه اساسي وجيبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه يې وژغوري او د نورو له سياسي او اقتصادي احتياج څخه يې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربيون بايد په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نيکمرغه افغانستان ارمان، يوازې او يوازې د دوی په پياوړو متو، ويښ احساس او نه ستړي کيدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنيکي زده کړو له امله کيدای شي په ډيرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو ليکوالانو، مولفينو، ژباړونکو، سموونکو او تدقيق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهير کې د ټولو کورنيو او بهرنيو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له کومي مننه کوم. له درنو او پياوړو استادانو څخه رجامندانه هيله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدريس او فعاله تدريب سره دې د زړه په ټول خلوص، صميمي هڅو او وجداني پيکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نيکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هيله

**فاروق وردګ**

د افغانستان اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| خپرکي | سرلیکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | صنعت د ملي اقتصاد د مهم او اساسي سکتور په توګه | ۱ |
| دویم | په صنعتي شرکتونو کې د تولید عملیه | ۱۷ |
| درییم | په صنایعو کې مزد او معاش | ۳۱ |
| څلورم | صنعت او صنعتي کېدل | ۴۷ |
| پنځم | په صنایعو کې د کار مؤثریت | ۵۳ |
| شپږم | د صنایعو د څانګو ترکیب | ۶۱ |
| اووم | په صنایعو کې اقتصادي رهبري | ۶۹ |
| اتم | صنعتي مارکېټ او د هغه اړوند اصطلاحات | ۷۷ |
| نهم | د صنعتي اقتصاد تیوري | ۸۷ |
| لسم | صنعت په اقتصادي پرمختګ کې مخ پروړاندې څانګه | ۹۳ |
| یوو لسم | د صنعتي اقتصاد له نظره د صنعت تحلیل او شننه | ۱۰۵ |
| دولسم | د صنعتي کیدلو اهمیت او عوامل | ۱۱۳ |
| دیارلسم | د صنعتي ودې نظریات | ۱۱۹ |
| سرچینې او اخیستنې | | ۱۲۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سریزه**

هغه مطالب چې د (تصدۍ اقتصاد) تر عنوان لاندې تنظیم او لیکل شوي دي، په هغو موضوعاتو کې شامل دي چې د صنعت او صنعتي اقتصاد د برخې مینوال په ځانګړي ډول د محاسبې د څانګې محصلین ترې استفاده کولای شي.

صنعت ته لاسرسی او د هغه له مزایاوو څخه استفاده، ددې غوښتنه کوي چې په لومړي سر کې د صنعتي اقتصاد په اړه یو لړ ذهني تیورۍ او د دغه علم په اړه نور معلومات ولرو، له دې امله چې صنعتي اقتصاد، د اقتصاد پوهنې د یوې څانګې په توګه اوږده سابقه نه لري او په ځانګړي ډول په افغانستان کې په دې اړه ډیر لږ لیکل شوي آثار شتون لري، مګر له دې سره سره بیاهم هڅه شوې چې له مختلفو منابعو او سرچینو څخه کار واخیستل شي څو لږ تر لږه د دغه مضمون د اړتیا وړ مطالب تهیه او تدوین کړای شي.

صنعتي کیدل د افغانانو په ګډون د ټولو نړیوالو لپاره یو ملي او ولسي آرمان دی، څکه ټول خلک غواړي چې له مادي او معنوي اړخه آسوده وي.

د پرمختللو هیوادونو له ودې او پراختیا څخه سطحي برداشت د دغو هیوادونو په اړه کلي تصویر نه شي وړاندې کولای او نه هم په یو شمیر زیربنایي پروژو کې د توسعې اساس او بنیاد باندې خلاصه کولای شي، په حقیقت کې دغو ننیو پرمختللو او صنعتي هیوادونو ستونزمنې لارې پلې کړې دي او له ګڼو موانعو څخه تیر شوی او په دې توګه یې د خپل تکامل او صنعتي کیدو لارې لنډې کړې دي.

مګر د افغانستان په څېر هیوادونه چې د مختلفو دلایلو له امله له صنعتي کیدو څخه شنډې ته پاتې دي، باید د داسې علمي او منطقي اصولو او اساساتو له مخې یې لاملونه و څیړل شي چې د افغانستان له جغرافیې او نورو خصوصیاتو سره موافقت ولري.

صنعتي اقتصاد او د دغې څانګې د علم او فن زده کړه سربیره پر دې چې د اقتصاد، تجارت او محاسبې د څانګو د زده کوونکو او څیړونکو لپاره ضروري ګڼل کیږي، دغه راز د نورو څانګو لکه د مدیریت، پلان جوړونې او د انجنیرۍ د څانګو متخصصینو لپاره هم خورا ګټور ګڼل کیدای شي.

په دې ټولګه کې کوښښ شوی چې د صنعتي اقتصاد، تیورۍ، مډلونه او اصطلاحات د امکان تر حده په ساده توګه بیان شي، د صنعتي اقتصاد اساسي موضوعات، صنعت، د صنایعو رهبري او کار، صنتعتي اصطلاحات، تیورۍ، د صنعت تحلیل او ارزیابي، د صنعتي کیدو عوامل، او د صنعتي رشد په اړه د اقتصادي مکتبونو نظریات تشکیلوي.

هیله من یم چې تهیه شوي موضوعات به د (صنعتي اقتصاد) تر نامه لاندې د محاسبې د څانګې د محصلینو لپاره ګټور تمام شي.

په درناوي

عبدالرحمن سروری

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب ټولیزه موخه:**

د دغه کتاب په لوستلو سره به محصلین د صنعتي اقتصاد له عمومي مفاهیمو، د صنعت له تأثیر، په صنعتي رشد کې د کار او رهبرۍ د ونډې، صنعتي نظریاتو او سیاستونو او په دې برخه کې ډېرو نورو مهمو موضوعاتو په اړه معلومات حاصل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## صنعت د ملي اقتصاد د مهم او اساسي سکتور په توګه

**عمومي موخه:**
د ملي اقتصاد د پراختيا او انکشاف په بر خه کې د مهم او اساسي سکتور په توګه د صنعت نقش، د هغه د تعريف او مشخصاتو په هکله د معلوماتو ترلاسه کول او له سترو ماشيني صنايعو سره د لاسي صنايعو توپير په ګوته کول.

**د زده کړې موخې:** محصلين به د دې څپرکي په پای کې وکړای شي د لاندې مواردو په هکله معلوامات ولري:

- د صنعتي اقتصاد د ساحې او تاريخچې په هکله معلومات .
- د اقتصادي پراختيا په برخه کې د صنعت د نقش اهميت او مشخصاتو په باره کې معلومات.
- د صنعتي اقتصاد د محدودې يا چاپيريال پېژندل او له سترو صنعتي ماشيني صنايعو سره د لاسي صنايعو توپير يا پرتله.
- د تجارت د بېلانس په برخه کې د صنعت رول او په وارداتو باندې د هغه تعويض.
- د صنعتي اقتصاد له تعريف او مفهوم سره اشنايي .

**د صنعتي اقتصاد لنډه تاريخچه:**

د صنعتي اقتصاد اصطلاح په دې وروستيو کلونو کې خپل ځان ته د علماوو پام ور وګرځاوه او په (۱۹۵۰)ميلادي کال کې د آندروز (Andrews ) د ليکنې په واسطه توضيح شو. تر دغې نيټې وړاندې د صنعتي اقتصاد تحليل او شننه د اقتصاد له علم څخه د يوه ګوښې څانګې په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطالعه کېدله، خو د وخت  په تېرېدلو سره  د صنعتي اقتصاد اهمیت مخ په زیاتېدو شو او د اقتصاد پوهانو ځانګړې پاملرنه یې جلبه کړه.

باید وویل شي چې د بشر  په واسطه صنعتي فعالیتونو یوه پیچلې او له خنډنه ډکه لاره طی کړې ده چې په لومړي سر کې د کرنیزو او زراعتي وسایلو له تولید څخه پیل کیږي او له هغه وروسته د اوسپنې له کشف کېدلو او د هغې له وېلې کېدلو سره  د آلاتو، ابزارو او د فاعي وسایلو تولید صنعت او صنعتي فن ته پراختیا ورکړه.

صنعت د هغې زمانې په کلیو او ښارونو  کې د میلې یا اړم په  څېر د ساده میخانیکي ماشینونو په توګه  کارول کېده چې وروسته دغه ساده دستګاوې یا ماشینونه د مونوفکتور په نامه یاد شول.

نژدې   ۱,۸ میلیونه کاله وړاندې د لومړي ځل لپاره د  پلیستوسن (plestosine) په تاریخي دوره کې انسانانو د تیږو له تراشلو او له تیږو څخه د ابزارو یا آلاتو په جوړولو باندې پیل وکړ، نو ویل کیږي  چې د صنعت پیل له همدې تاریخی نقطې څخه پیل کیږي، له دغې دورې وروسته د انسانی ژوند  زیات وخت د الاتو او ابزارو په تولید او د خوراک، څښاک او مسکن په څېر د اړتیا وړ توکیو په تولید او تیارولو  باندې مصرفېده.

په ځانګړې توګه د صنایعو او صنعتي شرکتونو  د چلند میتود  د صنعتي انقلاب له وخته همیشه د اقتصاد د علم د خاوندانو او پوهانو د توجه وړ ګرځېدلی دې ، خو د یوې ځانګړې برخې په توګه د صنعتي اقتصاد تر عنوان لاندې د اقتصاد  دغه برخه  د    (۱۹۵۰)په لومړیو کې مطرح شوه او له هغه وروسته  د هارورډ په پوهنتون کې د صنعتي اقتصاد په نامه  د یوې ایجاد شوې رشتې په توګه لوستل کېده او په دې توګه  یې په (۱۹۵۰) کال کې پراختیا ومونده.

صنعت د تاریخ په یوه معینه مرحله کې د ټولنیز ډومین له وېش سره منځته راغی چې  د صنتعګري او کرهنې تر منځ یې صورت ونیو  چې په بې ساري توګه  د تولیدي ځواکونو او اقتصادي ودې   لامل وګرځېده. په ځوارلسمه پیړۍ کې د لومړي ځل لپاره  اوسپنیز وسایل د کار ساحې ته وارد شول  چې په ګړندۍ توګه د محصولاتو د زیاتوالي لامل وګرزېدل.

د اوسپنې ویلی کېدل او له هغې څخه د  اوبدلو د وسایلو جوړېدل،  د لاسي صنایعو د تولید لومړنۍ رشته وه  چې  د وخت په تېرېدو سره د صنعتي فن او تولیدي وړتیا لامل و ګرځېده .  د صنعت له ورته پرمختګ سره انسانانو وکړای شول طبیعی ماحول او سر چینې مهار کړي او په هغه کې شته طبیعي لورېنې د خپلو ورځنیو اړتیاوو او حوایجو د لرې کولو لپاره وکاروي.

انګستان لومړنی هیواد ؤ چې د صنعتي انقلاب بنسټ یې کېښود او په ټوله اروپا کې یې پراختیا و موندله. صنعتي انقلاب چې په اتلسمه پیړۍ کې پیل شو، دټولي بشري ټولنې لپاره یې د یوه زیري معنا لرله چې د انساني ژوند د بدلون لامل وګرځېد او د ځمکي په کره کې یې د بشر ژوند ته  نوی رنګ ور کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د صنعتي اقتصاد ساحه یا محدوده:**

له (۱۹۵۰)ام میلادي کال څخه وړاندې د صنعتي اقتصاد اصطلاح د اقتصاد له علم څخه دیوې جلا څانګې په توګه بې اهمیته مفهوم ارزول کېده چې د صنعت د اقتصاد، صنعت او تجارت ، د کار او کسب د اقتصاد، صنعتي ادارې په څېر داسې نور نومونه ورکول کېدل.

د امریکا په متحدو ایالاتو کې دغه رشته د صنعتي ادارې په نامه یادیږي ، په داسې کې حال چې په اروپا کې د صنعتي اقتصاد اصطلاح زیاته مروجه ده. د دغې موضوع د تحقیق د عناوینو او میتودونو په باره کې هم د نظر یووالی شتون نه لري.

د صنعتي اقتصاد لومړنۍ رشته د هارورډ په پوهنتون کې د (۱۹۳۰)په لومړۍ لسیزه کې پیل شوه او دچمبرلین( Chambarlin)او مسون (Mason)له لوري تدریس کېدله. د صنعتي اقتصاد د څېړنې او تحلیل په صورت کې هم اړوند تصامیم د سر چینو د محدودیت او غوښتنو د پراختیا د اصل له مخې نیول کیږي تر څو د دغو محدودوسرچینو په واسطه نامحدودې غوښتنې پوره کړای شي. د صنعتي اقتصاد دغه نظر د کوچني اقتصاد یا Micro Economics له هغه سره توپیر نه لري، همدغه لامل دی چې ځینی علما صنعتي اقتصاد د کوچني اقتصاد د یوې برخې په توګه پېژني.

د صنعتي اقتصاد په مطالعه کې حداقل دوه روشونه شتون لري چې لومړنی هغه یې له ادارې جوړښت څخه عبارت دی چې د صنعتي ادارې بشپړ انځور وړاندې کوي.

دوهم روش یا میتود یې د قیمت له تیوري سره تړاو لري چې د بازار د جوړښت او تګلاري د وضاحت په موخه د میکرو اقتصاد له موډلونو څخه استفاده کوي.

د جوړښت، ادارې او کنټرول د میتود له مخې یو صنعت د هغه له اړوند شرکتونو سره تړاو لري، په دې معنا چې سیال شرکتونه د کومو میتودونو له مخې په بازار کې د سیالۍ یا رقابت ټیټه درجه تامینولای شي او د کوم پلان یا نوښت له مخې د تولید موفقیت، د شرکت او مصرف کوونکو په ګټه عیارولای شي.

د یوه صنعت جوړښت د تکنالوژي، صنعتي مهارت او د محصول لپاره د تقاضا په څېر په یو لړ اصلي فکتورونو باندې اتکاء لري. د مثال په توګه که په یوه صنعتي واحد کې داسې ټکنالوژي نصب شي چې د تولید د زیاتوالي او د مصرف د کموالي لامل وګرځي، په دې صورت کې د دې احتمال شته چې شرکت څو نورې څانګې هم ولرلای شي، خو که چېرته بازار ته یوازې د یوه شرکت (انحصاري شرکت) له لوري محصولات عرضه کیږي، په دې صورت کې ممکن نوموړی شرکت د قیمت د تعین څواک هم ولري چې د تولید تر نهایی مصرف زیات وي. خو که چېرته اصلي شرایط داسې وي چې د انحصاري اموالو لپاره تقاضا نسبتاً لېږ ارتجاعیت ولري یعنې دا چې خلک د قیمت د تغییر او بدلون په وړاندې لږ حساسیت ولري، په دې صورت کې د اړوند بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیمت تر هغه وخت لوړ وي چې تقاضا یې په نسبی توګه ارتجاعیت لرونکي وي.

**دوهم روش:** د قیمت یا قیمت ګذاري تیوري ده چې له تحلیل سره یې تړلې انګیزې د افرادو او شرکتونو په وړاندې قرار لر ي تر څو د بازار وضعیت په ښه توګه توضیح کړای شي.

د خپل فعالیت لپاره هر شرکت دوه ډوله اړیکې په نظر کې نیسي چې یو ډول یې د شرکت له داخلي اړیکو او بل ډول یې د شرکت له باندنیو اړیکو څخه عبارت دي.

د شرکت داخلي اړیکې د تولید د مصارفو، د تولید د عواملو د استعمال او داسې نورو په څېر کورني مسایل په بر کې نیسي ، خو باندنۍ اړیکې له شرکت سره د نورو شرکتونو د اړیکو، د دولت د سیاستونو، نړیوال بازار او داسې نورو په څېر یو لړ باندني مسایل په بر کې نیسي.

د شرکت د کورنیو دندو بحث له تولید سره تړاو لري او د ګټورتوب او موثریت په څېر یو لړ مفاهیم احتوا کوي چې څواکمن او موثر فعالیت یې د صنعت په پراختیا او په ټولیزه سطحه په اقتصادي انکشاف باندې مثبت تاثیرات غورځوي.

د شرکتونو او اداراتو شتون د تولید د عواملو او روشونو په اړه د زیاتې همغږۍ له کبله دی چې د وخت په تېرېدلو سره یې تخصص ته لاره هواره کړې ده.

په پخوا وختونو کې د شرکت مالک او مدیر سره یو ول، خو د شرکتونو له پراختیا سره مالکیت له مدیریت څخه د ګوښې ځانګې په توګه معرفي شو.

د بازار جوړښت او د مالکیت څرنګوالي ته په کتنې سره شرکتونه بېلابېلې موخې تعقیبوي. ممکن دغه شرکتونه د خصوصي دولتي او یا عام المنفعه سکتور برخې وي چې هره یوه یې د ځانګړو موخو لپاره فعالیت کوي، خو په ټولیزه توګه ویلای شو چې دشرکت او تصدي نهایي موخه د زیات مفاد لاسته راوړل دي او دغه مقصد ته د رسېدلو لپاره په کار ده چې یا خو حداقل مصرف او یا حد اکثر درآمد او یا د دغو دواړو ترکیبي حالت ولري او په ورته زمان کې د بازار ډول او جوړښت په ښه توګه و پېژندلای شي او انحصاري، رقابتي او ازاد بازارونه په ښه توګه یو له بل څخه تفکیک کړای شي او هر ډول پرېکړه چې کوي، باید د بازار د شرایطو د تشخیص په اساس وي.

په پخوا وختونو کې نظر دا وو چې جوړښت په اداره او اداره په کړو وړو یا چلند باندې تاثیر کوي، خو په اوس وخت کې د ورته مقصد لپاره د جانبینو تر منځ اړیکه د دغه اصل په توګه منل شوې ده. یعنې یو تولید کونکی د نوښت یا صنعتي ابداع په مرسته مصرف را کمولای شي او په دې توګه خپل سیالان د سیالۍ له ډګر څخه ایستلای شي او که چېرته بازار انحصاري بڼه ولري، نو خپل پلانونه په داسې توګه طرحه کولای شي چې په ضمن کې د شرکت مفاد اکثر حد ته رسېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د صنعتي اقتصاد تعريف او مفهوم**

مخکې له دې چې د صنعتي اقتصاد په تعريف او مفهوم باندې خبرې وکړو، په کار ده چې د صنعت په برخه کې يو څه وويل شي.

صنعت د ملي اقتصاد د يوه مهم او ستر سکتور په توګه د سړي سرعايد په لوړولو او د ملي عايد په اوچتولو کې ستر رول لري . همدا رنګه صنعت د توليد د يوه مهم سکتور په توګه مادي نعمتونه د عامه اړتياوو د رفع کولو په موخه د خلکو په واک کې ورکوي او د توليد د وسايلو د توليد د اوليه موادو، د توليد له معدنی زيرمو څخه د خامو موادو د استخراج، د ثقيله او خفيفه صنايعو لپاره د ماشين آلاتو د تهيې، د ساختماني موادو د توليد، د انرژي په موخه د ماشينونو او مؤسساتو د توليد او د ملي اقتصاد د ټولو سکتورونو د وسايلو او تاسيساتو د توليد او اکمال په برخه کې رغنده رول او نقش لري.

صنايع برسېره پر دې چې د اقتصاد د مختلفو سکتورونو په برخه کې مهم رول لري، د ابتدايی، منځنيو او عالي تعليماتو، صحې موسساتو، د درملو د توليد او داسې نورو په څېر د ټولنيزو او کلتوري موسساتو د خدمت او تجهيز د امکاناتو په برخه کې هم غښتلی رول لري.

د دې تر څنګ د صنايعو په انکشاف او د وارداتو په تعويض کې هم مهم رول لري او د يوه هېواد د تادياتو او تجارت بېلانس مثبت لوري ته بيايي او له هېواد څخه د اسعارو د وتلو مخنيوی کوي.

همدا شان د يوه هېواد د اقتصادي، اجتماعي، سياسي او دفاعی قدرت د تحکيم په برخه کې زيات رول لري.

صنعتي اقتصاد چې پخوا د اقتصاد د علم د يوې ځانګړې رشتې په توګه مطالعه کېده، نن ورځ تر ځانګړيو عناوينو لاندې له خورا اهميت او ګټور توب څخه برخمن دی. صنعتي اقتصاد د تصدي اقتصاد له تحليلونو او مډلونو څخه زياته استفاده کوي او له همدغو تحليلونو څخه د صنعتي شرکتونو په برخه کې هم استفاده کيږي.

صنعتي اقتصاد هم د بل هر اقتصاد په څېر له محدودو سر چينو څخه د زياتې استفادې او يا زيات حاصل او غوره پايلې د تر لاسه کولو توصيه کوي.

صنعتي اقتصاد يا صنعتي اداره د کوچني يا ميکرو اقتصاد په خلاف يوازې يوه موخه نه تعقيبوي، بلکې د ځو مقاصدو د لاسته راوړلو هڅې کوي او تر ډېره ځايه د محدوديت د رفعه کولو هلې ځلې کوي، له همدې کبله د اقتصاد يوه فعاله رشته ګڼله کيږي. په دې برسېره له صنعتي شرکتونو سره په تړاو د هغوی د بېلابېلو اړخونو په اړه هم د نظري بحثونو او عملي جنبې عمق ته رسيژي.له کار او کسب، د عمومي مالکيت د قوانينو له کنټرول او داسې نورو سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړاو د دولت او اقتصادي بازارونو  سياستونه په ژوره توګه مطالعه کوي.

همدا شان  صنعتي اقتصاد د اوليګو پوليستي بازار په هکله  هم  زيات بحث کوي . په عمومي توګه د صنعتي اقتصاد په اړه  د ملتونو د ثروت په نامه د کتاب له نشر کېدلو وروسته د کوچني  اقتصاد اړوند تحليلونو د هغو بازارونو د مختلفو جوانبو په هکله مطالعات پيل کړل چې ناکامل رقابت په کې حاکم و. همدغه لامل دی چې استيګلر (Stigler ) صنعتي اقتصاد داسی توجيه کوي( صنعتي اقتصاد يوازې  د اقتصاد د مجموعې پای نه دی، بلکې د قيمت له سنتي تيوري سره په يوه وخت کې  يوځای دی).

خو اقتصاد پوهان د ادم سميت د قيمت په تيوري باندې وفادار پاتې شويدي، ځکه صنعتي اقتصاد، د اقتصاد د يوې ځانګې په توګه د اقتصاد پوهانو له لوري مطالعه کېږي. پورتنيو مطالبو ته په کتنې سره صنعتي اقتصاد د دريو اصلي موضوعی قوانيو په واسطه تعريف کېږي.

- د شرکتونو د رفتار، مقياس او ادارې تعينونکي عوامل.

- د بازار جوړښت له هغو ټولو موضوعاتو څخه دی چې په صنعتي اقتصاد کې مطالعه کيږي.

**د صنعت عمده او اساسي مشخصات**

صنعت په حقيقت کې د انسانانو له لوري د اړتياوو د پوره کولو په منظور د شيانو له استحصال او تغيير شکل څخه عبارت دې.

- صنعت د اقتصاد د علم يوه فعاله رشته ده  چې د صنعتي شرکتونو ټول اړخونه تر تحقيق او څېړنې لاندې نيسي.

- د صنعت بله مشخصه دا ده چې د صنعت  او صنعتي اقتصاد په سکتور کې د دولت سياستونه تر مطالعې لاندې نيسي.

- د صنعت سکتور د ثقيله صنايعو، ماشيني صنايعو او سپکو صنايعو په برخه کې د صنعتي کېدلو او انکشاف مراحل  پرله پسې توګه تعقيبوي.

- د صنعتي کېدلو يوه مشخصه د صنعت په مختلفو برخو کې د ماهر کار د ځواک، وړتيا او فن له منځته راوړلو څخه عبارت دی. په خصوصي صنعتي شرکتونوکې د انساني کار د ځواک د منځته راوړلو لپاره پانګه اچونه ګټوره نه ده، ځکه په خصوصي شرکتونو کې د تل لپاره د کار د انساني قوې د پاتې کېدلو يو مخيز  تضمين شتون نه لري. خو په دولتي شرکتونو کې د کار  د قوې په برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانګه اچونه د پانګې اچونې غوره انتخاب ګڼل کیږي.

هغه مهم خصوصیات چې د صنعتي طرحو د کښلو لپاره په پراخه کچه بیانیږي، د (روزن اشتاین روډن) له نظره ، په بشپړه توګه له صنایعو سره تړاو لري چې د صنعت له مهمو بحثونو څخه دي.

د معاصرو صنایعو د مشخصاتو له لړ څخه یو هم د ټولو سکتورونو او ټولنې لپاره د مادي، تخنیکي، تولیدي وسایلو د مجددې، مسلسلې او بلاوقفه تولید اړتیا ده.

**د لاسي تولیدي وسایلو سره د سترو ماشیني صنایعو توپیر.**

صنعت له خپلې ابتداء څخه تر اوسه پورې د تدریجي انکشافي مراحل طی کړي دي. صنایع د خپل اصلي مفهوم له مخې د لاسي ماشین له کلمې څخه پیل شوي او د سترو ورځنیو صنایعو، مغلقې تکنالوژي او فابریکاتي مرحلې پړاو ته رسېدلې ده.

لومړني لاسي صنایع له سترو ماشیني صنایعو سره توپیر لري چې په لنډه توګه ترې یادونه کوو:

۱ – د لاسي تولید په صورت کې د تولید چارې په انفرادي توګه تر سره کیږي . په ورته کار ځای کې د پانګې تشکیل یوه معمولي موضوع ده، خو د کار سختوالی یې په مراتبو زیات دی.

د لاسي صنایعو په صورت کې د کار د استاد مهارتونه له یوه نسل څخه بل نسل ته لېږدول کیږي او د استاد شهرت د هغه په لاس د تولید شویو شیانو د کیفیت او جنسیت د ښه والي نمایندګي کوي. که چېرته په ورځنیو پر مخ تللیو صنعتي شرکتونو او فابریکو کې د کار وېش په ژوره او اساسي توګه شتون ولري، د کار سختوالی خپل ځای د سرمایې سختوالي ته پرېږدي ،یعنې په دې مرحله کې د کار تر عامل د سرمایې هغه زیات نقش لري او په دې توګه تولید هم په زیاته اندازه تر سره کیږي.

د کار وېش د کاري قوې د تولیدي ځواک او اړوند مهارت په بهبود او غوراوي کې ستر نقش لري. په یوه ټولنه کې په حرفه او مشاغلو باندې د کار وېشل هغه وخت حس کېدی شي چې د تولیدي فعالیتونو د جریان څرنګوالی د ځانګرو صنایعو په برخه کې مطالعه او ارزیابی شي. د مثال په توګه د سنجاق په څېر یو ساده صنعت په نظر کې نیسو، هغه کس چې په ورته برخه کې هیڅ ډول مهارت نه لري او په ورته صنعت کې له استعمالېدونکو ماشینونو سره هیڅ بلدتیا ونه لري، نو په یوه ورځ کې کم شمېر سنجاقونه تولید کولای شي، خو که چېرته له کوم بل روش څخه استفاده وشي، یا دغه کار فني کسانو ته وسپارل شي، نه یوازې دا چې ټول فعالیت د پاملرنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړ ګرځي، بلکې په دې فعالیت کې یو لړ نورې رشتې هم منځته راتلای شي.

په دې ترتیب چې یو کس سیم یا اوسپنیز تار په ځټک وهلو نری کړي، بل نفر یې مستقیم شکل ته وا ړوي، درېیم کس یې په مناسب سایز سره پرې کاندي، څلورم کس یې تېره کاندي او پنځم کس یې د سر د برخې په پلنولو سره کار ته اماده کاندي،نو ویل کیږي چې دغه ساده کار په پنځو مراحلو کې بشپړیږي. د بسته بندۍ کار یې بیا هم څو مراحلو ته اړتیا لري.

څنګه چې د یوه سنجاق د جوړولو مختلف مراحل نږدې اتلسو بېلابېلو عملونو ته اړتیا لري، نو شونې ده چې په ځینو کارځایونو کې د افرادو محدودیت احساس شي، په داسې حال کې چې په ځینو نورو کارخانو کې یو کس، دوه یا درې دندې په مخ بیایي.

د مثال په توګه په یوه کوچنۍ کارخانه کې چې ۱۵ نفره کارګر لري او هر یو یې یوه یا څو دندې په مخ بیایي، د ورځې په اوږدو کې ۶ کیلو سنجاقونه جوړوي چې هره کیلو یې ۹۲۰۰۰ سنجاقونه کیږي، په داسې حال کې چې که هر یو یې وغواړي په یوازې سر له کوم پخواني مهارت پرته په مستقله توګه د تولید مراحل تر سره کړي، څرګنده ده چې دومره سنجاقونه نه شي جوړولای لکه، پخوا چې دغه ګروپ په ګډه سره جوړول ، حتی د ورځې ۲۰ سنجاقونه هم نه شي جوړولای چې دغه پېښه د کار د وېش او مختلفو فعالیتونو د ترکیب پایله په ډاګه کوي.

په تولید کې دغه زیاتوالی چې د کار د وېش مستقیمه پایله ده، درې خصوصیات په ځان کې لري.

الف- د کارګرانو د مهارت د میزان لوړوالی.

ب- د وخت سپما چې په معمولي توګه د فعالیت په مختلفو برخو کې ضایع کیږي.

ج- د ماشینونو اختراع چې د تولید د کرښې مطابق، یوه کس ته د څو کارونو د تر سره کولو وړتیا ورکوي.

د کار د وېش په پایله کې د تولیداتو څو برابره زیاتوالی صورت مومي او هر فرد وړتیا تر لاسه کوي. هغه کار چې د تر سره کولو فرصت یې نه لري، نورو ته پرېږدي. په ورته حالاتو کې افراد امکان تر لاسه کوي تر څو اضافی شمېر تولیدي شیان، د نورو د اضافی شیانو په مقابل کې مبادله کړي او په دې توګه د اړتیا وړ توکي د ټولنې د اقشارو تر منځ توزیع شي.

**۲** – د لاسي صنایعو په کار ځایونو کې تولید معین محل او معینو مشتریانو ته اړتیا لري او فرمایش یې د کار په استاد باندې د پخواني اعتماد او د کار د اسنادو د پیژندګلوي له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت نیسي، خو په هغه صنعت کې چې د فابریکې او پر مختللي صنتعي. شرکت په سطحه صورت نیسي، د مشتریانو حلقه یې پراخیږي او پلور یې له محلي او ملي پولو څخه تجاوز کوي او ځانته نړیوال شکل غوره کوي.

که څه هم د صنعت په پر مختللې مرحله کې زیاتره تولیدات د پخواني فرمایش په اساس صورت نه نیسي، خو بیا هم په ورته مرحله کې یو لړ تولیدات شته چې په کتلوي توګه یې صورت نه دی موندلی، بلکې په واحد او منفرد شکل د پخواني فرمایش له مخې تر سره کیږي، لکه لویې بیړۍ، الوتکې او داسې نور.

۳ – د لاسي صنایعو په یوه کار ځای کې د سرمایې مقدار کم، خو د کار شدت زیات وي چې البته دغه ټکی د کارګرو د زیاتوالي مفهوم نه لري، ځکه د کار وسایل ساده، بسیط، کوچني او ځینې وخت له ډېرو ساده ماشینونو څخه استفاده کیږي، خو په پرمخ تللیو صنعتي فابریکو او موسساتو کې نسبت دې ته چې تولید کتلوي شکل لري، تولید د مختلف النوعه نورمونو له مخې صورت نیسي او همدا شان د سرمایې شدت زیات وي او د کار وسایل په میکانیزه کېدلو برسېره اتوماتیک شکل هم اختیاروي.

۴ – د لاسي کار په یوه کار ځای کې ټولنیز روابط نسبتاً غښتلي وي. د کار استاد خپل شاګردان له هر قوم څخه نه انتخابوي، بلکې یوازې د خپلې کورنۍ غړیو ته د کار د تر سره کولو روزنه ورکوي، خو په ورځینو صنعتي شرکتونو او فابریکو کې د استخدام پروسه له فامیلي شکل څخه وتلې ده او د کارکوونکو او متصدیانو تر منځ اړیکې یوازې د قوانینو او مقرراتو له مخې تامینیږي.

په افغانستان کې هم لاسي صنایع له پخوا را هیسې مروج دې جې خورا اهمیت لري او تر اوسه هم د ملي اقتصاد په برخه کې موثر نقش لري، خو ماشیني صنایع تر اوسه پورې په افغانستان کې ابتدایي شکل لري. که څه هم زموږ هېواد د تولید د لومړنیو سر چینو، طبیعي سر چینو د کار د طبیعي عواملو له درکه یو غني هېواد دی، خو تخنیکي او مسلکي پوهې د کموالي له کبله له دغو امکاناتو سره سره د دغه هېواد و ګړي په بېوزلۍ او فقر کې ډوب دي . د دوی حالت د هغه کس له حالت سره ورته والی لري چې د سیند په غاړه له تندې مري او یا په رڼا ورځ په تیاره یا ظلمت کې ایسار شوې وي او د لمر له رڼا څخه استفاده نه شي کولای.

**د ملي اقتصاد په برخه کې د صنعت عمده او اساسي نقش**

په اوسني وخت کې صنعت او په مجموع کې ثقیل او خفیف صنایع نه یوازې دا چې د پرمختللیو هیوادونو په اقتصادي انکشاف کې ستر رول لري، بلکې مخ په وده هیوادونه هم هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پړاو ته رسېدلي دي چې  د وروسته پاتې والي اصطلاح نه ور باندې اطلاق کېږي. په دې برسېره زیاتره مخ په وده هېوادونه د صنعتي انکشاف په پایله کې  د اقتصادي ودې هغه پړاو ته رسېدلي دي. چې  د پرمختلییو او صنعتي هېوادونو په قطار کې ځای نیسي او دا د هغو تحولاتو پایله ده چې په دې وروستیو کلونو کې یې  په مجموعي توګه د دغو هېوادونو اقتصادي جوړښت ته د صنایعو د ایجاد او پراختیا په بڼه نوی رونق ورکړی دی.

صنعت د تولید د مهم سکتور په توګه  له تخنیکي مخې د ملي اقتصاد د ټولو سکتورونو لپاره مادي نعمات مجهز کوي او د کرهنې، ترانسپورټ، تجارت، ساختمان، مواصلاتو، مخابراتو او داسې نورو په څېر د ټولو اقتصادي  سکتورونو د تخنیکي او اقتصادي سطحې له لوړ والي سره تړاو لري.

د صنعت سکتور د ټولنیز او اقتصادي انکشاف په موخه ، د ماشین الاتو په تولید برسېره د صنعتي سکتور د خامو موادو او ټولنیزې استهلاکي او مصرفي امتعې زیاته برخه تولید او تهیه کوي.

د تولید د سطحې تخنیکي ارتقا او  د ماشین الاتو په واسطه  د ملي اقتصاد د ټولو سکتورونو تجهیز پخپله د اقتصادي ودې لامل ګرځي.  دغه اهداف یوازې د صنعتي انکشاف په ترڅ کې میسر کیدای شي.

**د مثال په توګه، په ځینو اقتصادي سکتورونو کې د صنعت د یو لړ اثراتو یادونه کوو:**

صنعت د تراکتور، تهریشر، کیمیاوي سرې، درملو، کرنیز تحقیقاتي لابراتوار او داسې نورو په څېر پر مختللی سامان الات او اسانتیاوې د کرنیز سکتور په واک کې ورکوي چې په خپل نوبت سره د کرنیزو محصولاتو د زیاتوالي او اړوند سکتور د ودې او پر مختګ لامل ګرځي.

د ترانسپورټ او مواصلاتو د انکشاف په برخه کې د صنایعو نقش خورا اهمیت لري چې ټول صنعتي او کرنیز محصولات، خام استخراجي مواد ، افراد او اشخاص له مواصلاتي خطونو څخه په استفادې سره د ترانسپورتي وسایلو د استعمال په واسطه په کم وخت او لږو مصارفو سره له یوه ځای څخه بل ځای ته انتقال کیدی شي، چې دا هم د صنعت د سکتور له لوري د ترانسپورت د سکتور په واک کې ورکول کېږي.

صنایع د تجارت د سکتور په برخه کې چې د ملي اقتصاد خورا مهم سکتور ګڼل کېږي ، هم غښتلی رول لري. ځکه د افرادو، کورنیو، شرکتونو او دولت  اړتیاوې د تجارت په واسطه دهغوی په واک کې ورکول کېږي چې د تجارت د ښه بهیر لپاره  بیا هم  ټول تخنیکي امکانات د صنعت له لوري برابرېږي.

صنعت نه یوازې د اقتصادي سکتورونو د مادي او تخنیکي تحکیم په برخه کې اساسي نقش

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، بلکې د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي برخو په ځېر د ژوند په نورو اړخونو کې هم ارزښتمند رول لري. په مخ پر وده هېوادونو کې د اقتصادي ژوند اساس يوازې په کرهنې، مالدارۍ او خفيفه لاسي صنايعو باندې متکي دی.

په اوسني وخت کې په زياتره هېوادونو کې د جغرافيايی او طبيعي شرايطو، له سر چينو څخه د استفادې دځرنګوالي، له انساني قوې څخه د استفاده کولو د طرز، د اقتصادي سيستم د ډول او د دولتونو د اقتصادي سياست له مخې په هېوادونو کې د صنعت د متفاوت نقش او توسعې شاهدان يو. ځکه هغه مخ پر وده هيوادونه چې د جنګ او طبيعی حوادثو په ځېر يې لړ موانع او محدوديتونه در لودل، نسبتاً نا ارامه هيوادونو ته يې زياته صنعتي وده تر لاسه کړه.

څنګه چې په (۱۸-۱۹)پيړۍ کې د صنعت اساس د پرمختلليو هيوادونو له لوري اېښودل شوی دی، او له بل لوري مخ په وده هېوادونو د اقتصادي پرمختګ په موخه خپله ټوله پاملرنه په صنعتي وده باندې متمرکزه کړېده، سره له دې چې پر مختللي هېوادونه يا د صنعت وارثان د مخ په وده هيوادونو له ورته هڅو سره تضاد لري، خو له دې سره سره مخ پر وده هيوادونه هڅه کوي تر څو دغه فاصله را کمه کړي او هېوادونه يې په صنعتي هيوادونو باندې بدل شي تر څو خپلې سر چينې په کار واچوي، د خود کفايي مرحلې ته په رسېدلو سره د نورو له احتياج نه خلاصون و مومي چې په ترڅ کې يې سياسي استقلال هم تامين کيدای شي.

دې ټکي ته په پام سره چې د وروسته پاتې هېوادونو په اقتصادي او ټولنيز چاپيريال کې خورا نامساعد عوامل شتون لري، خو له دې سره سره اړوند دولتونه هڅه کوي تر څو په دې مورد کې له موثرو سياستونو او پاليسيو څخه په استفادې سره ګام په ګام د ترقي او پرمختګ موخې تعقيب کړي.

هغه څېړنې چې په دې برخه کې د ملګرو ملتونو د ټولنيزې ادارې له لوري تر سره شوې، څرګندوي چې د نړۍ زياتره ولسونو دخپلې پاملرنې او توجه زياته برخه د صنعتي پرمختګ لور ته سوق کړې ده. دا په دې معنا نه دی چې ګواکې هغوی د نورو سکتورونو په برخه کې له غفلت څخه کار اخلي، بلکې هڅه کوي چې صنعت او کرهنه يې هم پر موازي توګه په مخ ولاړه شي.

پورتنيو ټکيو ته په کتنې سره ويلای شو چې په يوه ټولنه کې د صنعت د توليد ځواک د هغې ټولنې د تکامل او ترقي تر ټولو غوره شاخص يا متمايزه نښه ده.

**د هېواد په وارداتي تعويض او د تجارت د بېلانس په تقويه کې د صنعت رول**

ټولنيز محصولات چې په يوه معينه دوره، معمولاً يوه کال کې په يوه هېواد کې توليدېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو مقدار يې د صادراتو تر عنوان لاندې باندنيو هېوادونو ته استول کيږي او د دغو محصولاتو د معادل ارزش په عوض کې د تجارت د بېلانس د ماذاد په نامه هيواد ته پولي جريان صورت نيسي چې په پايله کې يې د يوه هېواد ثروت زياتوالی مومي.

برعکس هېواد ته د باندنيو هېوادونو وارد شوي محصولات د وارداتو په نامه يادېږی چې د ارزښت د معادل عوض په توګه يې د هېواد له دارايي څخه تاديه صورت نيسي چې دغه پېښه د تجارت د کسر په نامه يادېږی.

نو په دې اساس د صادراتي او وارداتي اقلامو، اموالو او خدمتونو تر منځ توپير چې په پيسو باندې افاده کيږي، د تجارت د بېلانس په نامه يادېږی. دغه توپير ممکن مثبت او يا منفي شکل ولري. که چېرته د تجارت بېلانس مثبت شکل ولري، د تجارت دماذاد په نامه او که منفي شکل ولري د تجارت د کسر په نومونو يادېږی. يعنې که چېرته په يوه معينه دوره کې د صادراتو کچه د وارداتو تر هغې لوړه شي، دغه حالت د تجارت د ماذاد په نامه او که د وادراتو کچه د صادراتو تر هغې لوړه شي، نو د تجارت د کسر په نومونو يادېږی چې په تناسب يې د مملکت له دارايي څخه باندني هيواد ته پولي جريان صورت نيسي او د همدغه کسر په اندازه په ملي ثروت کې کموالې را منځته کيږي.

که چېرته د يوه هيواد صادرات او ورادات سره مساوي وي، نوويل کيږي چې د هيواد د تجارت بېلانس د صفر په حالت کې قرار لري او په خارجي تجارت کې يې تعادل شتون لري

**د وارداتو د تعويض په برخه کې د صنعت د نقش او رول په هکله ويلای شو:**

کوم هيوادونه چې له صنعتي رشد او انکشاف څخه برخمن دي او صنعتي وړتيا يې تر لاسه کړې ده، له خپلې داخلي اړتيا څخه اضافي محصولات باندنيو هيوادونو ته صادروي چې په وارداتو باندې د صادراتو عوض کول کنټرول کيږي . ورته بهير د يوه هيواد د تجارت د تقويې او ماذاد لامل ګرځي او په بدل کې يې هيواد ته باندني اسعار وارديږی چې په خپل نوبت سره د تجارت په ښه والي کې خورا مثبت رول لري او په ورته زمان کې د اسعارو له دغه جريان څخه په کور د ننه د مجددې سرمايه ګذارۍ په توګه استفاده کيږي.

**د لومړي څپرکي د مطالبو لنډيز:**

د دغې مجموعې په لومړي څپرکي کې هغه مطالب او موضوعات را غونډ شوي چې د صنعتي اقتصاد د تنکيو زده کوونکو لپاره اړين ول چې په دې ځای کې يې په لاندې ډول لنډيز کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې د هر علم موخه او موضوع تر زده کولو د مخه د هغه علم د تاریخ او ریښې په هکله معلومات لرل اړین بلل کیږي، همدغه لامل دی چې موږ هم په لومړي سر کې د صنعتي اقتصاد تاریخچې ته سر ور ښکاره کړ چې په ضمن کې مو د صنعتي اقتصاد د فعالیت له محدودې او قلمرو څخه هم یادونه وکړه.

د تعریف او مفهوم په برخه کې مو د اقتصاد د علم د یوې ځانګړې رشتې په توګه د استهلاکي محصولاتو د تولید د څرنګوالي، تولید، د لومړنیو تولیدي موادو د استخراج، د خدمتونو د وړاندې کولو، د دولت او اقتصادي بازارونو د سیاستونو او داسې نورو په څېر دصنعتي اقتصاد د اړوند موضوعاتو په هکله لنډ بحث وکړ.

د صنعتي اقتصاد د مشخصاتو، او له سترو ماشیني صنایعو سره د سپکو لاسي صنایعو توپیر په ګوته کول او د کار له ورځني وېش څخه یادونه، د دغه څپرکي دوهم مهم بحث ګڼل کېده. د اقتصادي پراختیا او د اقتصاد په نورو اړوندو سکتورونو باندې د صنعتي اقتصاد د مثبتو اثراتو یادونه هم وشوه او په دې و پوهېدو چې د صنعتي اقتصاد له کبله د یوه هیواد صادرات زیاتوالی مومي او په وارداتو باندې د هغوی تعویض، هیواد ته ذاتی ګټې ور په برخه کوي ، البته په دې برخه کې وویل شول چې د ورته تعویض په ترڅ کې د یوه هیواد د تجارت بېلانس غښتلی کیږي او د صادراتو په بدل کې هیواد ته را بهېدونکي باندني اسعار د مجددې سرمایه ګذاري لپاره مناسب شرایط برابروي چې په خپل نوبت سره د ملي اقتصاد د بهبود او پراختیا لامل ګرځي.

د ملي اقتصاد د اساسي سکتور په توګه صنعتي اقتصاد د تیرې د تراشلو له دوې څخه (چې نژدې ۱،۸ میلیونه کاله سابقه لري) تر اوسه پورې خورا پېچلې او له خنډونو ډکه لار طی کړی ده چې په تدریجي توګه یې ساحې او اهمیت پراختیا موندله. دا هم و ویل شول چې د اقتصاد دغه رشته په بېلا بېلو هیوادونو کې په مختلفو نومونو سره یاده شوه، چې په امریکا کې د (صنعتي اداري) او په اروپا کې د(صنتعې اقتصاد) نومونه یادولای شو.

په عمومي توګه د صنعت وده د وارداتو په تعویض، د تجارت په وده او د تادیاتو د بېلانس په ښه والي کې مهم رول لري او مخ په وده هیوادونو ته د اقتصادي ضعف په وړاندې اقتصادي سېک ورکوي او په هیوادونو کې د اقتصادي، اجتماعي او سیاسي ځواک د تحکیم له مخې خورا مهم رول لوبوي. په صنعتي اقتصاد کې هم د اقتصاد د نورو څانګو په څېر په دې ټینګار کیږي چې له محدودو سر چینو څخه دې زیاتې اړتیاوې پوره شي.

صنعتي اقتصاد تر ډېره ځایه د میکرو یا کوچني اقتصاد له موډلونوڅخه استفاده کوي، خو د میکرو د اقتصاد پر خلاف یوازې د یوې موخې د تعقیب هڅه نه کوي، بلکې د یو لړ موخو د تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسه کولو توصیه کوي، نو په دې توګه ویلای شو چې صنعتي اقتصاد، د اقتصاد د علم یوه فعاله څانګه ده.

د دغه څېړکي د موضوعاتو د څېړلو په پایله کې ویلای شو چې د صنعتي تولیداتو د تولید ځواک، د جوامعو د ترقۍ او تکامل تر ټولو غوره شاخص ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لومړي څپرکي پوښتنې**

د اوسپنې د کشف کېدلو او د هغې ویلې کېدلو د صنعت په تحول کې څه رول درلود او په لومړي ځل له فلزاتو څخه په کومه برخه کې استفاده وشوه؟

۱- د تیږو تراشل په کومه دوره کې دود شول او دانسانانو په ژوند کې یې څه نقش درلود؟
۲- صنعتي انقلاب د لومړي ځل لپاره په کوم هیواد کې ظهور وکړ او په ټولنه باندې یې څه اثرات و شیندل؟
۳- صنعتي اقتصاد په نورو کومو نومونو سره یادیږی؟
۴- صنعتي اقتصاد کوم روشونه یا میتودونه مطالعه کوي؟
۵- صنعتي اقتصاد تعریف کړئ؟
۶- صنعتي اقتصاد د د ولت کوم ډول سیاستونه په نظر کې نیسي؟
۷- د صنعتي اقتصاد عمومي بحث د کوم ډول بازار ونو په هکله دی؟
۸- د صنعت اساسي مشخصات بیان کړئ؟
۹- له ماشیني صنایعو سره د لاسي کارگاه توپیر په گوته کړئ؟
۱۰- د کار وېش، د کار په ښه والي کې څه نقش لري؟
۱۱- صنعت د ملي اقتصاد په نورو سکتورونو باندې څه ډول تاثیرات لري؟
۱۲- د یوې ټولنې د تکامل تر ټولو غوره شاخص څه شی دی؟
۱۳- په مخ په ودې هیوادونو کې د اقتصادي ژوند اساس د اقتصاد په کومو برخو باندې متکي دی؟
۱۴- د تجارت ماذاد او کسر واضح کړئ؟
۱۵- د تجارت د بېلانس په تقویت کې صنعت څه رول لري، واضح یې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم څپرکي

# په صنعتي شرکتونو کې د تولید عملیه

**تولیزه موخه:**
په بشپړه توګه د تولید د ارزښت او مفهوم پېژندګلوي

**د زده کړې موخې:** له محصلینو نه تمه کیږي چې د څپرکي له ختمېدلو وروسته د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

- د تولید د ارزښت او مفهوم په هکله د بشپړو معلوماتو لرل.
- د تولید د تیوري په هکله معلومات او له شکلونو سره جوخت د تولید د تابع په هکله معلومات لرل.
- د تولید په هکله د پراخو او لنډو معلوماتو لرل.
- د صنعتي تولیداتو د پلان ګذارۍ او د هغوی د اشکالو په هکله معلومات لرل.
- د اساسي، اجرایوي تخصصي پروګرامونو په هکله معلومات لرل.

### تولید او صنایع

انسان د خپل ژوند د بقا په موخه بېلا بېلو توکو او خدمتونو ته اړتیا لري چې دغه شیان د یوې ټولنې د تکاملي بهیر د درجې له مخې یو تر بله توپیر لري چې د مادي غوښتونو په نامه یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان د خپلو دغو اړتیاوو د پوره کولو په موخه مجبور دی چې په تولید لاس پورې کړي.

د دې لپاره چې انسان تولید و کاندي، باید چې کار وکړي. په دې توګه دغه تولید د انسان د کار او فعالیت هغه ساحه په بر کې نیسي چې موخه یې د انساني ژوند د اړینو توکو منځته راوړل وي. بشري ټولنه نه شي کولای له تولید نه پرته شتون ولري. بشري جوامع بدلون مومي، راتلونکي نسلونه د تېرو نسلونو ځای نیسي، اقتصادي سیستمونه تغییر خوري ، خو تولید د تل لپاره د بشري ټولنې د لازمي اړتیا په توګه په خپل حال پاتې کیږي.

لکه څنګه چې بشري ټولنه له مصرف څخه صرف نظر نه شي کولای، په همدې توګه نه شي کولای تولید متوقف کړي. په دې ځای کې اړتیا لیدله کیږ ي چې د تولید تیوري او توابع په لنډه توګه بیان شي.

**الف- د تولید تیوري:**

د تولید تیوري د عرضې له موضوع سره سروکار لري. د عرضې او تقاضا له ترکیب څخه د شیانو قیمت تعین کولای شو. د تولید تیوري نه یوازې د شیانو د قیمت په برخه کې ، بلکې د عواملو د قیمت، د سر چینو د تخصیص او د عاید د توزیع په برخه کې هم مهم رول لري. همدا شان، دغه تیوري له ځینو اړخونو څخه د تقاضا له تیوري سره ورته والي یا مشابهت هم لري. د تقاضا په تیوري کې یو مصرف کوونکی فرد د یوه اقتصادي واحد په توګه فرض کیږي ، دغه مصرف کونکی خپل عاید په هغه ډول مصرفوي، تر څو د خپلو اړتیاوو په برخه کې تر ټولو لوړ رضایت تر لاسه کړي او خپل مطلوبیت اعظمي حد ته ورسوي.

لوړ حد ته د تولید د رسولو په موخه یو شرکت له سر چینو څخه د پیسو په توګه استفاده کوي. د تولید تیوري تر ډېره ځایه د شیانو له عرضې سره سروکار لري او څرګنده ده چې د یوه توکي عرضه د تولید له مصارفو سره تړا لري چې د تولید لګښت هم له دوو عواملو سره اړیکه لري.

- د عواملو او حاصلاتو تر منځ فزیکي اړیکه.

- د عواملو قیمت.

د تولید د عواملو او حاصلاتو تر منځ اړیکه د تولید مصارف تعینوي او د عواملو اوحاصلاتو تر منځ همدغه اړیکه ده چې د تولید د تیوري اصلي موضوع تشکیلوي.

**په بل عبارت:** د تولید تیوري د تولید له فزیکي قوانینو سره تړاو لري.

تولید په حاصلاتو باندې د بدلون اړتیا لري چې د عامل او حاصل تر منځ دغه رابطه د تولید د تابع په نامه یادیږي.

د تولید د تیوري پایله د تولید د تابع مطالعه ده. د تولید د عواملو په تغییر سره د تولید

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدار هم تغيير كوي.

د توليد د تيوري اهميت په دې کې دی چې له يوه لوري د توليد د مصرف او مقدار تر منځ د اړيکې اساس څرګندوي او له بل لوري د توليد د عواملو لپاره د شرکت د تقاضا د تيوري بنسټ څرګندوي.

د توليد مصارف، د محصولاتو د عرضې بهير اداره کوي او له تقاضا سره يو ځای د محصول قيمت هم تعينوي. څنګه چې د توليد د عواملو قيمت د توليد په مصرف باندې تاثير کوي، نو د توليد د عواملو لپاره تقاضا د هغوی د عرضې تر څنګ د هغوی قيمت هم تعينوي.

د توليد تيوري د شرکت د تيوري لپاره خورا اهميت لري. د شرکت تيوري له دې سره تړاو لري چې، په کومه اندازه توليد تر سره شي، ترڅو د شرکت مفاد اعظمي حد ته ورسيږي. د شرکت يا تصدي په اقتصاد کې د توليد تيوري د توليد دعواملو د نسبي قيمتونو د تيوري لپاره له فوق العاده اهميت څخه برخمنه ده. په همدې توګه د توليد تيوري دملي اقتصاد لپاره هم د اهميت وړ ده.

**ب - د توليد تابع:**

د توليد تابع د نهايي مطلوبيت د نزولي کېدلو قانون تشريح کوي. په بل عبارت د اقتصادي موضوعاتو د وړاند وينې په موخه د عرضې او تقاضا اړيکې ته د توليد تابع ويل کيږي.

هغه اړيکه چې له کبله يې يو متغير بدلون په بل متغير باندې اثر واچوي، د صنعتي اقتصاد په اصطلاح کې تابعي اړيکې بلل کيږي.دغه تابعې اړيکې کولای شي په عرضه او تقاضا باندې د قيمت د اثر او يا په اقتصادي ودې باندې د ټولنې د ودې د اثر څرګندونه وکړي. دغه تابعې اړيکې د ګراف يا د معادلاتو دجدول په واسطه بيانيږي، خو د موضوع د ساده ګۍ په موخه تر ډېره ځايه له معادلاتو څخه استفاده کيږي. ځکه په يوه زماني نقطه کې شونې ده چې څو عوامل په نظر کې و نيول شي.

**د تقاضا اړيکه په لاندې ډول ليکلای شو:**

$D_d = f(p)$ په پورتنۍ معادله کې درې عناصر شتون لري. ليواليتا لرو، پوه شو چې د تقاضا مقدار ($D_d$) په څه ډول په قيمت کې د تغيير ( p ) له امله متاثر کيږي. په بل عبارت: تقاضا له قيمت سره تړاو لري، نو په دې اساس د($D_d$) اصطلاح اړوند يا تړلی متغير بلل کيږي. ځکه په هغه ($D_d$)کې تغيير راتلل په قيمت (p)کې له تغيير راتلو سره تړاو لري او د (p)متغير قيمت مستقل دی او (f)د تابع نمونه ده.

په دې توګه پورتنۍ معادله په داسې ډول تعريف کولای شو چې : ( د تقاضا مقدار د قيمت تابع دی).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولید دتابع اصطلاح د عامل او حاصل تر منځ د فزیکي اړیکې شتون په ګوته کوي . په دې ځای کې په شرکتونو کې د تولید د عواملو د شاملو سر چینو لپاره د عوامل کلمه کارول شوې ده، او د تولید کلمه د شیانو او خدمتونو په تولید پورې اړه لري.

(فرکسن) د تولید تابع دا ډول تعریف کوي: شته تکنالوژي او د مهارت فعلي وضعیت ته په کتنې سره،د تولید تابع له هغه جدول څخه عبارت دی چې د عواملو له یوې مجموعې څخه د تولید اکثر مقدار ترلاسه کولای شي.

(استګلر) د تولید تابع د اقتصاد پوهانو د فني پوهې په دود لنډوي.


معمولاً د تولید تابع د ریاضي په شکل افاده کیږی چې په لاندې ډول لیکل کیږي:

$$Q = f(a, b, c....)$$

Q د (c, b, a ...) په څېر د شیانو د عواملو ښودونکې ده. د Q تولید شوی مقدار د زمان په هر واحد کې د (c, b, a ...)مقدار سر چینو تابع ده چې د شرکت په واسطه په هر زماني واحد کې تر استفادې لاندې نیول کیږي.


د تولید تابع معمولاً د یوه ګراف په شکل لیکل کیږي چې دوه ابعاده لري. په اړوند متغیراتو یا Vriables کې تغییر یا Variation یا خو له منحني سره یو ځای ښودل کیږي او یا د تولید د تابع له منحني سره یو ځای ښودل کیږي.

الف شکل د c ,bمقادیرو له ثابت فرض کېدلو سره د تولید او کار د قوې تر منځ اړیکه په ګوته کوي.




شکل الف

(c) ketabton.com: The Digital Library




شکل ب

(ب) شکل د کار د قوې او ټولو عواملو له ثابتوالي سره د تولید او سرمایې د مختلفو مقادیرو تر منځ اړیکه په ګوته کوي.

په (الف) شکل کې د کار د قوې له زیاتوالي او د ټولو متغیرو له ثابتوالي سره تولید زیاتوالی مومي او موږ د منحني په طول کې حرکت کوو، که چېرته د کارګرو مقدار، سرمایه او نور متغیرات یعنې c, b , a زیاتوالی وکړي،بیا هم د تولید دتابع منحني پورته لور ته انتقالیږي.

په (ب) شکل کې تولید د سرمایې تابع فرض شویدی او نور ټول متغیرات ثابت فرض شوي دي، یعنې تولید د سرمایې تابع دی، خو که چېرته له سرمایې څخه پر ته نور متغیرات تغییر وکړي، بیا هم تولید تغییر کوي او د تولید منحني پورته لور ته خوځیږي.

**د تولید د تابع په مورد کې دوو موضوعاتو ته کلکه پاملرنه کیږي:**

لومړي دا چې د تولید تابع په یوه معینه زماني مقطع پورې اړه لري او د وهم دا چې دغه تابع د تکنالوژي د وضعیت له مخې تعینیږي ،یعنې کله چې تکنالوژي پرمختګ کوي، د تولید تابع تغییر کوي.

په اقتصادي تیوري کې د تولید یا عواملو او حاصلاتو دوه ډوله تابعي اړیکې لرو. الف – کله چې د تولید ځینې عوامل ثابت او ځینې یې متغیر وي، د عامل او حاصل دغه ډول اړیکه د متغیراتو د نسبتونو د قانون اصلي موضوع جوړوي . که په لنډ مهال کې ځینې عوامل ثابت وي، د متغیراتو د نسبتونو قانون د لنډ مهاله تولید له تابع سره اړیکه نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب- موږ هغه وخت د تولید تابع مطالعه کوو چې د تولید ټول عوامل متغیر وي. دغه موضوع د (بهره به قیاس) د قانون موضوع ده. څنګه چې په اوږده مهال کې ټول عوامل تغییر کولای شي، نو (بهره به قیاس) مسله هم د اوږد مهاله تولید تابع ګرځي.

**تولید د پراخ مفهوم له مخې:**

تولید د هغه د وسیع مفهوم له مخې د امتعې او خدمتونو د منځته راوړلو په موخه د تولید د عواملو له هر ډول ترکیب څخه عبارت دی. دغه اصطلاح تر ډېره ځایه په ملي اقتصاد کې معمول ده چې د تهیې او تولید یا تمویل او پلور په څېر، د صنعتي شرکت ټولې دندې په بر کې نیسي.

په هغو صنعتي شرکتونو کې چې تر ډېره ځایه ماشین او تخنیک په کي د انسان ځای نیولای وي او له بله لوري زیاته سرمایه ګذاري په کې تر سره کیږي، دغه وضعیت پخپله د مصارفو او لګښتونو په کموالي کې رغنده رول لري او د فې واحد تولید د مصرف د کموالي له امله د صنعتي شرکت د مفاد د زیاتوالي لامل ګرځي.

**تولید د محدود مفهوم له مخې:**

کله چې په صنعتي شرکتونو کې تولید د هغه د محدود مفهوم له مخې مطالعه کیږي، باید لاندې ټکي په پام کې و نیول شي.

الف- په ابتدایي او استخراجي شرکتونو یا فعالیت ځایونو کې د خامو موادو استحصال.

ب- په تولیدي شرکتونو کې د محصولاتو تولید.

ج – د خامو موادو په کار اچول او په محصولاتو باندې د هغوی د شکل بدلول چې د ارزښت د زیاتوالي لامل ګرځي.

د – د شرکتونو په واسطه د خدمتونو اجرا کول.

**تولید د ښه محدود مفهوم له مخې:**

د هغه د ښه محدود مفهوم له مخې تولید محض له تولید څخه عبارت دی چې د بشرې اړتیاوو د رفع کېدلو په غرض د شیانو د ایجاد او منځته راوړلو په موخه د اقتصادي او تخنیکی امورو د ترکیب یا انضمام له کبله صورت نیسي. له دې تعریف څخه پایله تر لاسه کیږي چې تولید اقتصادي او تخنیکي جنبه لري چې له تخنیکي او اقتصادي ظرفیتونو څخه استفاده کول، د مصارفو ، مولدیت ، د صنعتي شرکت د بقا او مفاد د اړتیا له نقطه نظره د تولید د عواملو غوره ترکیب مسایل یې اهیمت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اخري لسيزو کې د علم او تخنيک د ګړندي پرمختګ له امله صنعتي شرکتونو او فابريکو ايجاب کړه چې د توليد پروسه دې د اقتصادي پرنسيبونو له مخې صورت ونيسي، تر څو يې په پايله کې د صنعتي محصولاتو کيفيت او کميت بهبود يا ښه والي و مومي.

**د صنعتي توليداتو پلان:**

د يوه اقتصاد مهمې برخې د صنعت، کرهنې او خدماتو د سکتورونو په څېر يو شمېر اقتصادي څانګې په بر کې نيسي چې د يو لړ مصارفو په بدل کې د شيانو او خدمتونو د تهيې په بنه د راتلونکې اړتياوې تامينوي. د صنعتي توليداتو د عملي کېدلو لپاره ضروري ده چې د توليد د ظرفيت مطابق يو منظم پلان طرحه او عملي شي.

د توليد پلان ګذاري په حقيقت کې د توليدي پروسې او د هغې د تطبيق طرحې يا پلان ګذاري امتزاج دی. دغه موضوع بيا هم د توليد لپاره د اړينو عواملو او توليدي جريان پلانګذاري احتوا کوي.

د پلانګذاري څانګړي عناصر په حقيقت کې د پلانونو يوه مجموعه تشکيلوي چې په يوه برخه کې يې تير وتنه په نورو ټولو برخو کې د پلان تطبيق له ګواښ او خطر سره مخ کوي.

د پلان ګذاري په واسطه برنامه يا پروګرام تثبيت کيږي چې له مخې يې په يوه معينه دوره کې د صنعتي شرکت له لوري د توليد کېدونکو شيانو د مقدار او ډول په هکله تصميم نيول کيږي.

په عمومي توګه د پلور پلان د توليدي پلان اساسي برخه تشکيلوي. که چېرته د پلور په پلان کې د کميت او کيفيت له نظره صنعتي محصولاتو ته د مستهليکينو اړتياوې تثبيت نه شي، د ګدام ، لېږد را لېږد او داسې نورو په څېر د يو لړ مصارفو د زياتوالي لامل ګرځي او له اقتصادي نظره صنعتي شرکت متضرر کيږي.

په صنعتي شرکتونو کې د محصولاتو د پلور او توليدله پلان سره په تړاو لاندې موضوعات په نظر کې نيول کيږي.

الف – د توليدي حجم د غوره ودې په موخه د غوره شرايطو تامين.

ب – د توليد دپروسې دوامدر او بلاوقفه بهير.

ج – د صنعتي محصولاتو د کيفيت لوړ ول.

د- د ټولنې لومړنيو اړتياوو ته د کتنې له مخې د امتعې ښه والي.

په صنعتي شرکتونو کې د توليد عملي پلان، د توليد د عواملو په برخه کې پلان ګذاري، د توليد د عملي پلان او د مالي چارو د پلان له تهيې څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له زماني نقطه نظره د صنعتي شرکتونو په شمول د ټولو شرکتونو پلان ګذاري یا د پلان طرحه په لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله برخو وېشل کیږي، چې د صنعتي شرکت د موخو او ستراتیژۍ له مخې پټیيل کیږي. د هر ډول پلانګذارۍ اساس او بنیاد د شته او راتلونکو ستونزو له تشخیص او تحلیل او د هغوی د حل د امکاناتو له لټون څخه عبات دی، نو په دې توګه پلان ګذاري یو موخه نه، بلکې پټېل شوې موخې ته د رسېدلو وسیله ده.

د یوه صنعتي شرکت پلان هغه وخت موثر او د تطبیق وړثابتېدلای شي، چې د تولید له عواملو، د دولت له سیاستونو، د پیسو او سرمایې د بازار له سیاستونو، د بازار د ډول او وضعیت له مطالعې، د پلور د بازار او اړتیاوو له تشخیص سره په تړاو د ټولو داخلي او خارجي سر چینو په هکله هر اړخیز معلومات ولري.

بالاخره د صنعتي پلانګذارۍ اهمیت په دې کې نغښتی، تر څو د صنعتي شرکت د ساختمان او تشکیلاتو د څرنګوالي، د مختلفو تولیدي رشتو دتنظیم ا و دکار د وېش، د تمویل د پانګې د سر چینو د تهیې، له مناسبې تکنالوژي څخه استفاده کول،د تولیدي سر چینو او تولیداتو تر منځ د مناسب تناسب د تثبیت او اقتصادیت په څېر د صنعتي تولیداتو ټول پرواګرام، کاري او عملي بهیر په کې څېړل شوی وی.

**د مرکبو تولیداتو پلانګذاري:**

دغه ډول پلانګذارۍ په یوه تولیدي صنعتي واحد کې چې له یوه محصول څخه زیات شیان تولیدوي، د تولیدي مقدار پټېیل ، د مختلفو محصولاتو حجم ته په کتو سره د مختلفو کار ځایونود تولیدي ظرفیت او لومړنیو یا خامو موادو ته لاس رسي او د پلور د قیمت له مخې د محصولاتو د ټمام شوي قیمت دتخمیني وړاند وینې په څېر د یو لړ موضوعاتو د شننې له مخې تر سره کیږي. دغه موضوع د یوه شرکت یا تولیدي یونټ یا واحد د فعالیت د پیل ابتدایي او اصولي دنده شمېرل کیږي، خو هغه صنعتي شرکتونه چې ګڼ شمېر محصولات تولیدوي،لکه د موټر وجوړولو شرکت چې د بار وړلو، د ښاري موټرو، مینوبوسونو، سرویس موټرانو او لویو بار وړونکو موټرو په څېر کوچني او ستر موټر جوړوي، یا د برقي وسایلو د تولید کارخانه چې مختلف برقي وسایل جوړوي، د خپلو محصولاتو د تقاضا د حجم د وړاند وینې لپاره د پخوانۍ تقاضا په څېر د هغو ټولو اقتصادي عواملو له احصایې څخه استفاده کوي چې په تقاضا باندې اثر کوي.

د محصولاتو د پلور قیمت اوټمام شد مصارف هم د صنعتي حسابدارۍ د ځانګړو روشونو له مخې مشخص کیږي. په ورته حال کې په کار دی چې د محصول په اړه د صنعتي دستګاوو او اړوند ماشین الاتو بالقوه ظرفیت په ابتدایي مراحلو کې مشخص شي.

د هغوی د غوره تخمین په موخې د کار او وخت د ارزیابۍ، د تولید د تخنیکي جریاناتو د اصولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او برسي په څېر د صنايعو د انجنيري له ميتودونو څخه استفاده کول غوره لاره ده. وروسته له دې چې توليدي ظرفيت، د لومړنيو موادو تعين، د يوه واحد توليدي محصول په توليد کې د اړتيا وړ مقدار کاري قوه او داسې نور فکتورونه ارزيابي شي ، کولای شو هغه د مرکب توليد په پلان ګذارۍ کې شامل کړو.

**معمولاً مرکب توليد له دوو ليد لوريو څخه تر مطالعې لاندې نيول کيږي:-**

١ - توليدي ترکيب يا د توليد بېلا بېلې سر چينې.
٢ - د يوه معين محصول د توليد په موخه د بېلا بېلو لمړينو موادو امتزاج يا ترکيب.

څنګه چې د ورته خامو موادو د ترکيب ډول سره يو شان نه دی، نو له دې کبله په کار دی چې د يوه مورد نظر توکي د توليد لپاره د خامو موادو مختلف مقادير يو تر بله ممزوج يا ګډ کړل شي او په پايله کې متفاوت مصارف را منځته شي.

په دې صورت کې په پلان کې هغه ډول ترکيب په نظر کې نيول کيږي چې د خامو مصرفي موادو مجموعي قيمت اقل حد ته و رسيږي. په بل عبارت بايد و ړاند وينه وشي چې له هرې خامې مادې څخه کوم مقدار يې مصرف شي ، تر څو د نظر وړتوکي د منځته راوړلو لپاره د مصرفي موادو مجموعي مصارف اصغري حد ته نزول وکړي.

دغه ډول امتزاج تر ډېره ځايه د نفتو په صنعت کې د خامو نفتو او د هغوی د مشتقاتو د اختلاط ، د فلزاتو په توليد کې د خامو معدني موادو د اختلاط، د نساجي په صنعت کې د الياف د تر لاسه کولو په موخه، دېنبې، وړۍ او نورو موادو د اختلاط په شکل ليدل کيږي چې په صنايع کې استعماليږي.

د يو لړ محصولاتو د توليد لپاره ځانګړي ماشينونه يا دستګاوې شتون لري چې له تنظيم او عيارېدلو سره کولای شي چې ځانګړي توليدات په مختلفو مقاديرو سره توليد کاندي. د مثال په توګه د نفتي مشتقاتو لپاره د خامو نفتو د تهيې دستګاه، او داسې نور.

په دې ځای کې موخه دا ده تر څو د صنعت هغه موډل يا نمونه انتخاب شي چې د نظر وړموخې په لاسته راوړلو برسېره، له ضايعاتو څخه هم مخنيوی وکړای شي.

**د توليدي پروګرام پلانګذاري**

يو فرد يا پر مخ تللی صنعتي شرکت خپلو موخو ته د رسېدلو لپاره پلان ته اړتيا لري. نو په دې اساس د بشپړو موخو د تعقيب په مقصد برنامه ريزي يا پلان ګذاري يو داسې واقعيت دی چې سترګې ترې نه شي پيټېدلای. يعنې که چېرته موخه د يوې ميلمستيا جوړېدل او يا د يوه محصول

(c) ketabton.com: The Digital Library

تولیدوي، بیا هم برنامه ریزي یا Planing ته اړتیا شته ، ځکه یوه برنامه یا Planپه لاندې واقعیتونو استوار دی (ټول بنستونه په یوه متحول چاپېریال کې فعالیت کوي).

**پلان او برنامه ریزۍ په لاندې ډول تعریف کولای شو:**

۱. د موخې پتېیل او هغې ته د رسېدلو د لارو چارو لټون.

۲. د هغو کارې مواردو په هکله تصمیم نیول چې تر سره کېدل یې اړین ګڼل شوي وي.

۳. په راتلونکي وخت کې د مطلوب وضعیت تجسم، طراحي او د هغه د لاسته راوړلو لپاره د وسایلو او اسانتیاوو برابرول.

**د خپلې اصلي څېرې له مخې پلان ګذاري په لانډې ډول تعریف کولای شو:**

(د مورد نظر موخې د تر لاسه کولو لپاره  د هغه له فزیکي لټون او کاري فعالیت له اپیل نه وړاندې ذهني تلاش د پلان ګذاري په نامه یادیږی.)

په دې ځای کې موخه دا ده چې د یوه صنعتي شرکت د تولید د پروګرام په پلان ګذاري کې له ستراتیژیکي پلانونو څخه پیل، تر منځ مهاله، لنډ مهاله، اجرایوي، قسمي او جزیی پروګرامونو پورې ټول  اړین پلانونه په بر کې نیسي.

معمولاً  د اقتصاد د نورو برخو په څېر، د صنعتي اقتصاد په برخه کې هم درې ډوله برنامه ریزي شتون لري:

۱. اساسي یا ستراتیژیکي برنامه ریزي د هغو اداره شویو پلانونو سلسله یا لړۍ ده چې لاندې مراحل طی کوي.

الف – د لیري موخو  او دندو تعین.

ب -  په بېلا بېلو موخو باندې د ماموریتونو وېشل.

ج – د سیاستونو یا خط مشي تعین.

د – د اجرایوي یا تاکتیکي پروګرامونو طرحه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اجرايوي يا عملياتي برنامه ريزي:**

دغه ډول برنامه ريزي په ترتيب سره لاندې موارد په بر کې نيسي:

الف- د لنډ مهاله برنامو تهيه (د وختونو او بوديجې تعين)

ب – د موقعيت، کميت، کيفيت او مصارفو په څېر د عملي کوونکو معيارونو په نظر کې نيول.

ج – د انحراف د مواردو کنټرول او مراقبت.

د – د نويو برنامو تهيه.

**تخصصي برنامه ريزي (په نورو دندو کې برنامه ريزي)**

**الف – د توليد کنټرول او پلانګذاري:** دغه ډول پلان ګذاري د ټولنې او بازار د وړاند وينې وړ اړتياوو د تامين په موخه د توليداتو او محصولاتو د توليد لپاره د تعليم او تخصصي تربيت د تحصيل په برخه کې د شرکت له اړتياوو څخه عبارت ده.

**ب – د پرسونل پلانګذاري يا Personal Planing:** له ورته برنامې څخه موخه د هغو افرادو له تعين څخه عبارت ده چې په راتلونکې کې د شرکت د موخو د تامين لپاره ګمارل کيږي. په ورته بهير کې کارکوونکو ته اړونده روزنه ورکول کيږي، د کاري لياقت په اساس ترفيع ورکول کيږي. همدا شان دلزوم په صورت کې ترفيع ورکول کيږي او يا خو له کار څخه رخصت کيږي.

**ج – مالي پلانګذاري يا Financial Planing:** دغه ډول پلانګذاري د صنعتي شرکت او د هغه د مالکينو د موخو د تعقيب په موخه د مصرف کېدونکو مالي سر چينو له تعين او څرنګوالي څخه عبارت دی.

**د توليد د تطبيق پلانګذاري:**

وروسته له دې چې په مختلفو برخو کې توليدي پلانونه طرحه شي، د پلان دعملي کېدلو وخت را رسيږي چې په دې صورت کې د توليد د تطبيق د ډول او څرنګوالي په برخه کې د اوضاع او شرايطو مطابق معينه او مشخصه پلانګذاري طرحه ا و د توليد د عملي جريان پروسه تطبيق کيږي. د توليد د پروسې د عملي کېدلو لپاره په کار دی، تر څو له بودجې ا و تعين شوي وخت سره په تړاو په لومړي سر کې د لنډ مهاله پروګرامونو تعميل په نظر کې ونيول شي.

په ورته بهير کې د هغو حالاتو د نظارت او کنټرول تر څنګ چې د پلان د انحراف لامل ګرځي، د هغو معيارونو څرنګوالي ته هم دقيقه پاملرنه کيږي چې د کار او توليد له موقعيت، د توليد له کميت او کيفيت او توليد له مصارفو سره تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې د توليدي پلان د تطبيق مرحله پيل کيږي، تر څو د توليد د راتلونکو دورو لپاره نوې برنامه تنظيم شي.

**د دوهم څپرکي د مطالبو لنډيز**

بشر د خپل ژوند د تداوم په موخه بېلا بېلو توکيو او خدمتونو ته اړتيا لري او د دغو اړتياوو د رفع کولو په موخه اړ دی چې په توليدي چارو لاس پورې کړي.

بشري ټولنه له توليد پرته شتون نه شي لرلای.جوامع، نسلونه،اقتصادي نظامونه او سيستمونه بدلون مومي، خو توليد هميشه د يوي نه بېلېدونکي اړتيا په توګه په خپل حال پاتې کيږي.

د توليد د تحليل او ارزيابۍ لپاره په کار دی چې د توليد توابع او تيوري و پېژندل شي. د توليد تيوري د عرضې له برخې سره سر و کار لري چې د عرضې او تقاضا له تر کيب څخه د توليدي توکو يا شيانو قيمت تعينولای شو. د توليد په تيوري کې يو شرکت يو اقتصادي واحد فرض کيږي ، په داسې حال کې چې د تقاضا په تيوري کې يو مصرف کونکی فرد يو اقتصادي واحد ګڼل کيږي. د يوه توکي عرضه د هغه له مصارفو سره تړاو لري او د توليد مصارف هم له دوو عواملو سره تړاو لري.

- د حاصلاتو او عواملو تر منځ فزيکي اړيکه.
- د عواملو قيمت.

د توليد د تيوري اهميت په دې کې دی چې له يوه لوري د توليد د مقدار او مصرف تر منځ د شته اړيکې تحليل او اساس وړاندې کوي او له بل لوري د توليد د عواملو لپار ه د شرکت د تقاضا د تيوري اساس تشکيلوي.

د توليد تابع دا مفهوم پياده کوي چې ګواکې توليد د توليد د عواملو تابع دی. هغه اړيکې اوروابط چې له کبله يې يو متغير په بل متغير باندې تاثير غورزوي، په صنعتي اقتصاد کې د تابعي اړيکو په نامه يادېږی.

دغه روابط د عرضې او يا تقاضا په مقدار باندې د قيمت د اثراتو او يا په اقتصادي وده باندې د نفوس د ودې د اغېزو څرګندونه کوي.

**د تقاضا د اړيکې ډول په دې ډول ليکلای شو:**

$$D_d = f(P)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اقتصاد علماوو د تولید تابع په بېلابېلو ډولونو تعریف کړې ده، له دې ډلې څخه استګلر د تولید تابع د اقتصاد د فني پوهې په دود خلاصه کوي او په لاندې ډول یې افاده کوي:
$Q = f(a,b,c...)$ .

د تولید د تابع په اړه دوه موضوعات د یادولو وړ دي. لومړی دا چې د تولید تابع له یوې معینې زماني مقطع سره تړاو لري او بل دا چې د تولید تابع د تکنالوژي د وضعیت له مخې تعین کیږي.

تولید د خپل پراخ مفهوم له مخې د تولید د هر ډول عواملو له تر کیب څخه عبارت دی چې د غه اصطلاح تر ډېره بریده د ملي اقتصاد په سطحه کې معمول دی.

د خپل ساده مفهوم له مخې په تولیدي پروسه کې د خامو موادو د استحصال، استخراج، د محصولاتو د تولید، په کار باندې د هغوی د اچولو، د خامو موادو شکل ته د تغییر ورکولو او داسې نورو په څېر یو لړ موضوعات په بر کې نیسي.

د صنعتي تولیداتو پلانګذاري یو مهم او حیاتي امر دی چې په لمړۍ ګام کې یې د تولید د برنامې د پلان ګذاري مرحله او په دوهم ګام کې یې د تولید د پلانګذاري د تطبیق مرحله شامله ده.

د صنعتي تولید پلانګذاري کلي پلان، جزئي پلان او قسمي پلان په بر کې نیسي چې د پلان په یوه برخه کې تېروتنه، د پلان ټولې برخې له ګواښ او خطر سره مخ کولای شي.

پلان ګذاري د تهیې، تولید او پلور د پلانونو او مالي امورو په څېر د ټولو ساحاتو د همغږي په صورت کې ترتیب او تنظیم کیږي. همدا شان د وخت له نقطه نظره پلانونه په اوږد مهاله، منځ مهاله او لنډ مهاله هغو باندې وېشل شویدي.

د مرکب تولید پلانګذاري له دوو لید لوریو د مطالعې وړ دی.

- له بېلابېلو تولیدې سر چینو سره ترکیبي تولید.

- د یوه معین محصول لپاره د څو ډوله خامو موادو یو ځای کول.

همدا رنګه د تولید د برنامې پلانګذاري له ستراتیژیکي پلانګذاري( اجرایي یا عملیاتي پلانګذاري) او تخصصي(د نورو دندو برنامه ریزي) پلان ګذارۍ څخه تشکیل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دوهم څپرکي پوښتنې**

۱- د تولید تیوري څه اهیمت لري؟

۲- د انسان او بشري ټولنې په ژوند کې تولید څه رول لري؟

۳- د تولید تابع څه مفهوم پیاده کوي؟

۴- د تولید په تیوري کې د عواملو او حاصلاتو اړیکه واضح کړئ؟

۵- (فرګوسن) د تولید تابع څه ډول تعریف کوي؟

۶- تولید د هغه د پراخ مفهوم له مخې تعریف کړئ؟

۷- په هغه موضوع کې چې تولید د هغه د محدود مفهوم له مخې تعریف کوي، کوم ټکي په نظر کې نیول کیږي؟

۸- د صنعتي تولیداتو پلان واضح کړئ؟

۹- مرکب تولید له څو لوریو تر مطالعې لاندې نیول کیږي؟

۱۰- د برنامه ریزي په پلان کې کوم موضوعات په نظر کې نیول کیږي؟

۱۱- پلان ګذاري د هغې د اصلي شکل له مخې څه ډول تعریف کیږي؟

۱۲- په ستراتیژیکي برنامه ریزي کې کوم مراحل په پام کې نیول کیږي؟

۱۳- په تخصصي برنامه ریزي کې کوم موضوعات رعایت کیږي؟

۱۴- د تولید د  تطبیق پلان ګذاري څه مفهوم لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په صنایعو کې مزد او معاش

**ټولیزه موخه:**
د دې څپرکي مطالب په صنایعو او شرکتونو کې له مزد او معاش سره په تړاو هغه ټول موضوعات څېړل کیږي، چې د معلوماتو په صورت کي یې محصلین له لاندي مسایلو سره پیژنګلوي پیدا کولای شي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین د لاندې موارادو په هکله معلومات ولري:

- مزد څه مفهوم لري، د کوم ډول فعالیت په مقابل کې ورکول کیږي او په ورته حال کې یې تعینونکي معیارونه کوم دي.
- د دې څپرکي له مطالعې سره به محصلین د مختلفو صنعتي محصولاتو د زیاتوالي په برخه کې د مزد او معاش د نقش او اهمیت په برخه کې معلومات تر لاسه کړي.
- د څپرکي په اوږدو کې به محصلین د مزد له ډولونو سره آشنایي پیدا کړي او دا به تشخیص کړای شي چې کوم ډول مزد د کار او فعالیت دخصوصیاتو له مخې مناسب ګڼل کیږي.

### په صنایعو کې له مزد او معاش سره تړلي اساسي مفاهیم

مزد او معاش د کارګر له مؤلدیت، فعالیت او تخصص سره نژدې اړیکه لري. یعنې په هره اندازه چې په یوه کار کې د کارګر د کار او فعالیت نتیجه مثمره وي، په هماغه تناسب لوړ مزد تر لاسه کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې برسیره په هر ه اندازه چې کار ثقیل او ستونزمن وي ، د اجرا لپاره یې زیاتې جسمي او فکري قوې، لوړ استعداد او لوړې مسلکي او تخصصي پوهې ته اړتیا لیدل کیږي . د دې اصل له مخې د مزد او معاش ورکول هم باید د همدې تناسب له مخې په پام کې و نیول شي.

د نامساعدو او سختو شرایطو، نا مناسب چاپیریال، د کار ځای د لري والي، د ماشین آلاتو د لوړ غږ او غال مغال،لوګي او حرارت په څېر یو لړ نور عوامل چې کار ستونزمن کوي، د مزد او معاش په تعین کې تاثیر لري . د مزد او معاش د نسبي معیار د ټاکلو لپاره لاندې ټکي په پام کې نیول کیږي:

**الف** – جسمي او فکري ځواک چې د کار د اجرا لپاره اړین ګڼل کیږي.

**ب** – د کار محصول یا د کار پایله.

**ج** – د کار د ثقلت درجه، محیطي شرایط، تحصیلي درجه، په مسلکي رشته کې تعلیم او تخصص،کاري تجربه، په کار کې دقت ،د مسؤلیتونو احساس او داسې نور.

که څه هم د کار کړاو، ثقلت او ظرافت د مزد او معاش د تعین نسبي معیارونه دي، خو په ټولیزه توګه د مزد او معاش تعین کېدل، د کار په پایله پورې اړه لري. د مثال په توګه په ورته شرایطو کې دوه کارګران د کار د کیفیت او کمیت له نظره ناورته یا متفاوتې پایلې لري، په دې صورت کې یقیناً متفاوت مزد تر لاسه کوي . د یوه شرکت بقا او دوام هغه وخت تامین کیدی شي چې د کار مولدیت د هغه په مقابل کې تر ورکول کېدونکي پاداش (مزد او معاش)زیات وي. له بل لوري د مزد او معاش ارزښت د کارګرانو او کارمندانو د ژوند د سطحې د ارتقا تر ټولو اساسي شاخص ګڼل کیږي.

اوس نو که چېرته د مزد او معاش په اړه د هغه له ساده مفهوم څخه ووځو او ورته موضوع د صنعتي اقتصاد د تیوري او د پوهانو د نظریاتو له مخي مطالعه کړو، دې پایلې ته رسیږو چې په ورته وخت کې د یوه صنعتي شرکت کارکونکي او هم د هغه مدیره ډله د خپل لوړ مطلوبیت د تر لاسه کولو په لټه کې دي.

په اوسني وخت کې د زیاتره شرکتونو، مدیره ډله او مالکیت سره جلا دي، خو د مدیره ډلې موخه یوازې د لوړ مزد په ترلاسه کولو سره د خپل رضایت حاصلول نه دي ، بلکې د استراحت لپاره د کافی وخت ترلاسه کول هم د دوی د رضایت په حاصلولو کې شامل دی.

د (ویلیامسون) له نظره د صنعتي شرکتونو مدیران د لاندې عواملو په پام کې نیولو په صورت کې خپل رضایت اکثر حد ته رسولای شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مزد او معاش او د هر ډول خدمتونو اعاده:**

ځنګه چې مزد او معاش او نورې ښېګې د مديرانو د ژوند د مصارفو او رفاه تعينونکي عوامل دي او د هغوی د ژوند په سطحه باندې تاثير غورزوي نو له همدې کبله مديران د خپل مزد او معاش او ښېګڼو د زياتوالي په فکر کې دي.

**۱- د مديريت اړوند کارکوونکو شمېر:** په هره اندازه چې د مديريت په تشکيل کې د کارکوونکو شمېر زيات وي، په هماغه تناسب يې موقف او اعتبار او امتيازي حقوق هم لوړ وي. همدغه لامل دی چې مديران د خپلو صلاحيتونو او مادونانو د شمېر له زياتوالي سره ليوالتيا ښيي.

**۲- مديريتي تجملات:** د مدير مطلوبيت د هغو تجملاتو له مقدار سره هم تړاو لري چې د هغه په واک کې ورکول کيږي، لکه ښکلی تعمير، موبل او فرنيچر،ښکلی موټر، کمپيوټر، تلفون، انټرنيټي اسانتيا او داسې نور مصارف چې د صنعتي شرکت د ښه والي او بهبود لپاره اړين وي . حتي مديرانو ته ځينې نور مصارف هم ورکول کيږي . که څه هم دغه مصارف د شرکت د فعاليت لپاره ضروري نه وي، خو دا کار د دې لپاره تر سره کيږي تر څو د مدير رضايت تر لاسه شي او په ريښتيني ډول خپل کارونه او دندې تر سره کړي.

**۳- د پانګې اچونې او مصرف په برخه کې واک ورکول:** دغه انګېزه چې په مصرف او سرمايه ګذاري کې د مدير صلاحيتونه غښتلي کوي ،هم کولای شي د مدير رضايت لوړ کړای شي. دغه صلاحيت مدير ته د شرکت د فعاليتونو د اجرا لپاره د شرکت له امکاناتو څخه د استفادې کولو وړتيا ور ببښي . دا هم د هغو مواردو له ډلې څخه شمېرل کيږي چې د مزد د تعين تر څنګ د مديرانو د مزد د ډولونو په مورد کې مدنظر نيول کيږي.

**مزد او معاش له څه نه عبارت دی؟**

مزد له هغه پرداخت څخه عبارت دی چې د کار فرما يا دکار د څښتن له لوري کارکوونکو ته د جسمي يا فکري فعاليت د تر سره کېدلو په بدل کې ورکول کيږي، او يا دا چې د کار عايد چې د کارکوونکو د مزد يا پاداش په نامه يادېږي، د ملي عايد يوه برخه ده چې له کارکوونکو سره تړاو لري.

د مزد يا پاداش يا (Allowance, Bunus, Prremium) په برخه کې ضروري ده چې له فعاليت يا مولديت سره تطابقت ولري، ځکه فعاليتونه او مثمرې پايلې د کارګر د فزيکي ځواک د مصرف له کبله منځته راځي.

د مديرانو، رهبري هيئت، متخصيصينو، مسلکي او ماهرو کارګرانو او عادي کارګرانو مزد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی د تحصیل د سطحې، تجربې او په ټولیزه توګه د هغوی د پایلې د مثمریت په اساس ورکول کیږي.

د دولت یا کارفرمایانو له لوري د جوایزو، اضافه کارۍ او داسې نورو په ډول د کار د عاید یا مزد نور ډولونه غوره پایلې او ښه کار ته د کارکوونکو د تشویق په مقصد ورکول کیږي.

کار او د کار کولو وړتیا چې د تولید له مهمو عواملو څخه شمېرل کیږي، قیمت یې د بازار له لوري د عرضې او تقاضا له مخې تعین کیږي. که چېرته په بازار کې د کارکوونکو شمېر کم شي ، د مزد سطحه لوړیږي او برعکس که په بازار کې کاري قوه زیاته وي، نو د مزد سطحه کمیږي.


**د عادلانه مزد تعین د مزد ورکولو د غوره پرنسیب په توګه**

په مختلفو اقتصادي سیستمونو او مختلفو هیوادونو کې د مزد تعین کېدل متفاوت یا ناورته شکل لري. تر اوسه پورې د مزد ورکولو کوم مشخص او د منلو وړ نړیوال معیار شتون نه لري، تر څو د مزد عادلانه او غیر عادلانه ډولونه سره بېل کړای شي. د مثال په توګه یو کارګر چې د افغانستان په یوه تولیدي کارخانه کې د منل شویو معیارونو له مخې عادلانه او د قناعت وړ مزد تر لاسه کوي، د نړۍ په کوم بل پرمختللي هیواد کې چې د ژوند د سطحې معیار یې اوچت وي، هیڅکله هم عادلانه او قناعت بښونکی مزد نه شمېرل کیږي، ځکه دغه مقدار مزد په هماغه، یعنې پرمختللي هیواد کې کوم داسې مزد نه دی چې د هغه ورځنیو اړتیاوو ته ځواب و وایی.

د کلاسیکې اقتصادي تیوري له نظره، که چېرته د کار قوې ته د تقاضا مقدار او د کار د قوې د عرضې مقدار د مزد د نرخ د کموالي یا زیاتوالي په واسطه د تعادل نقطې ته راوړل شي، هیڅ اوږد مهاله بېکاري او یا د کار تر مقدار د کار د قوې زیاته عرضه شتون نه شي لرلای.

کلاسیک اقتصاد پوهان فرض کوي چې د کار د قوې د عرضې او تقاضا تر منځ د تعادل راوړلو په موخه د مزد نرخ تعدیل کیږي، چې د بېکارۍ د نه شتون ښودنه کوي. د دغې مسئلې د تثبیت په موخه فرض کوو چې د کار د قوې په تقاضا کې کموالی چې په لاندې شکل کې ښودل کیږي، د تقاضا منحني ته له D۰ څخه D۱ ته تغییر ورکوي. د تقاضا د دغه کموالی له کبله د مزد نرخ له W۰ څخه W۱ ته او د کار قوې ته د تقاضا مقدار له L۰ څخه L۱ ته نزول کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د کار د قوې په عرضه کې کموالی د کار د عرضې د منحني په امتداد ښودل شويدی. په شکل کې ښودل شوې د کار د قوې د عرضې په منحني باندې هره نقطه د هغه کار د مقدار ښودنه کوي چې کورنۍ غواړي د مزد په معين نرخ کې يې د کار بازار ته عرضه کړي.

د کلاسيکو اقتصاد پوهانو له نظره د کار بازار همېشه د تعادل په حالت کې قرار لري. که چېرته د کار د قوې لپاره تقاضا له D۰ څخه D۱ ته کموالی وکړي، تعادلي مزد له Wo څخه W۱ ته کموالی مومي او هر کس د (w)په مزد کې د ځان لپاره يو کار موندلی شي.

د کار د تقاضا په منحني باندې هره نقطه د کاري قوې د مقدار ښودنه کوي چې شرکتونه غواړي د مزد په معين نرخ کې استخدام وکړي. که چېرته کورنۍ تر فعلي توليد زياته تقاضا ولري ، په دې صورت کې د تقاضا کچه د توليد تر کچې زياتيږی چې په پايله کې يې د شيانو قيمت زياتوالی مومي او ورسره جوخت د کار قوې ته هم تقاضا زياتېدلای شي چې د مزد زياتوالي او بازار ته د زياتو کارګرانو د شاملېدو لاره هواروي.

په ساده ژبه ، هغه مزد او معاش چې د کارګر له مصرف کېدونکي جسمي او فکري انرژي سره مطابقت ولري او له ټولنيز نظره کارکوونکو ته د منلو وړ وي، عادلانه مزد ګڼل کيږي.

**د کارګرانو له مؤلديت سره د مزد مطابقت :**

په عمومي توګه د کار له مؤلديت سره د مزد رابطه يوه مستقيمه رابطه ده، ځکه په هره اندازه چې د کار مولديت او پايله ستره او باکيفيته وي، له هغه مزد او معاش سره متناسبه ده چې کارکونکي يې پيدا کوي .

سره له دې چې د کار پېچلتيا او ثقلت د کار د ارزښت د تعين يو نسبي معيار ګڼل کيږي، خو په عمومي توګه د کار د مزد او معاش معيار د کار په حاصل پورې اړه لري. د کار له مؤلديت سره د مزد د تطابق څرنګوالی د بازار د قانون له مخې صورت نيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهیږو چې د ډینامیک اقتصاد په ځینو شرایطو کې ځینې صنایع د توسعې په حال کې او ځینې صنایع خپلو فعالیتونو ته کموالی ورکوي.

د مثال په توګه د ۱۹۹۰ په لسیزه کې د کالیفورنیا په ایالت کې ساختماني صنایعو خپل فعالیتونه وروکړل.

که چېرته د صنعتي بحران له کبله د یوه ویلډینګ کار د فعالیت د سقوط پېښه وشېږو، دې پایلې ته رسیږو چې دغه شخص په خپل اړوند شغل کې خپلو مهارتونو ته د ساختماني صنعت په نورو برخو کې انکشاف ورکوي او له دغو مهارتونو څخه د صنعت په نورو برخو کې هغه ډول استفاده نه شي کیدی، لکه څنګه چې لازمه ده.

که چېرته نوموړی د هغه په اصلي شغل کې د کال ۲۸۰۰۰ ډالر ترلاسه کوي او دغه مزد د هغه د کار له مولدیت سره مطابقت ولري، ممکن په بل شغل کې د کال نژدې ۱۸۰۰۰ ډالر تر لاسه کړي، ایا دغه ویلډینګ کار به هغه کار خوښ کړي چې له درکه یې په کال کي۱۸۰۰۰ ډالر عاید تر لاسه کوي؟

په دې ځای کې لږ تر لږه دوه امکانات شتون لري چې نوموړی شخص دغه نوې دنده قبوله کړي:

**اول:** ممکن هغه په دې باور وي چې په ساختماني صنایعو کې رکود موقتي بڼه لري او په دې تمه وي چې ډیر ژر به خپله اصلي دنده تر لاسه کړي

**دوهم:** ممکن هغه په دې باوري شي چې په نورو صنایعو کې تر ۱۸۰۰۰ ډالر زیات عاید تر لاسه کولای شي. فرضیه د دې لپاره ده چې ویلډینګ کار پریکړه کوي چې په ۱۸۰۰۰ ډالر باندې کار نه کوی ، ځکه په ورته حالت کې د هغه د اصلي کار د مولدیت او ورکول کېدونکي مزد تر منځ تطابق شتون نه لري.

که چېرته د وخت په تېرېدو سره د صنایعو د تغییر درجه نوسان وکړي، یقیناً چې د ویلډینګ کار په څېر به زیات اشخاص له ورته وضعیت سره مخ شي.

**په تولید کې د مزد رول او نقش**

مزد د تولید په پروسه کې رغنده او موثر رول لري، په دې معنا چې د مزد زیاتوالی نه یوازې د تولید د مقدار د ز یاتوالي لامل ګرځي، بلکې د صنعتي تولیداتو د کیفي غوره والي سبب هم ګرځي.

که چېرته کاریګر و پوهیږي چې د ده کار او د کار لپاره د جسمي او فکري قوې مصرف د هغه له ورکول کېدونکي مزد سره تطابقت لري، په دې صورت کې له کار سره د هغه علاقه زیاتیږي او د تولید په برخه کې له خپل ځان نه د خلاقیت او ابتکار د ښودلو هڅه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرته د مزد اندازه کمه وي او یا د یو لړ عواملو له کبله کموالی وکړي، د مزد دغه کموالی له کار سره د کاریگر د بې علاقه ګۍ سبب کېږي چې په پایله کې له یوه لوري د تولید په مقدار کې کموالی رامنځته کېږي او له بله لوري له رواني پلوه کاریگر په ناسم حالت کې پاتې کېږي، نو په دې توګه د تولید کیفیت هم له زیان سره مخ کېږي.

په ورځني صنعت او پرمختللیو شرکتونو کې د مزد د تعادل په موخه د کارګرو د اتحادیو او کارفرمایانو د ډولنو تر منځ تفاهم او قرار داد صورت نیسي.

ځکه کارګران دې ته زړه نه ښه کوي چې په کم یا لږ مزد باندې هوکړه وکړي، نو په دې اساس کارګران له یوه کال څخه تر دریو کلونو پورې قراردادونه لاسلیک کوي چې دغه قراردادونه د هر کال لپاره د کارګرانو مزد تصریح کوي. نو که چېرته په ورته حالت کې اقتصادي فعالیتونه له رکود سره مخ هم شي او یا نزول وکړي او شرکتونه د لږو کارګرانو تقاضا کوي، بیا هم هغه مزد چې د قرارداد له مخې تعین شوې دی، کموالی نه مومي.

یو انفرادي شرکت تر هغه وخته د کارګرانو د استخدام انګېزه لري ،ترڅو د هغه شي ارزښت چې دوی یې تولیدوي،د مزد له نرخ سره مساوي او یا تر هغه ستر وي.

د کارګر د مزد او د هغه د مولدیت تر منځ د نسبي تناسب د تعین په موخه د مزد د اقل حد تعین ضروري دی چې معمولاً د هر کار لپاره په ساعت وار ډول تعینیږي.

د مثال په توګه په کال ۱۹۹۸ کې د مزد اقل حد په یوه ساعت کې ۵,۵ ډالره وو.

خو د کار بازار د شیانو او ونډو د بازار په څېر نه وي چې ایله د څو پانګه والو له لوري اداره کیږي او د هغوی په اراده باندې څرخیږي، ځکه د کار په بازار کې مزد د زرګونو شرکتونو له لوري تعینیږي او په میلیونونو کارګران د هغه په وړاندې عکس العمل ښودلای شي. د دغه اصل له مخې متصدیانو ته ستونزمنه وي چې مزد د بازار د تعادلي مزد مطابق تعدیل کړای شي.

**په صنایعو کې د مزد او معاش ډولونه**

مخکې له دې چې د مزد ورکولو په اړه بحث وکړو، غوره ده چې د مزد د تیوري او د کار قوې ته د تقاضا د څرنګوالي او د بېکارۍ د مسئلې په اړه بحث وکړو:


په دې توګه د لاندې دلایلو لنډه توضیح ضروري ده:

اوسنیز مزدونه، د مزد کارانو تیوری، نا ممکنه معلومات او د حد اقل مزد قانون.

الف- وسپنېز مزدونه: د بیکارۍ یو لامل دادی چې مزدونه په مزدلی خو اوسپینه وی، په وې معنی چې د مزد تعادل په یو. مشخصه سطح کې ښه پاتې وی او کمیږی نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د کار قوې ته تقاضا کمه شي، نو لکه څنګه چې په شکل کې لیدل کیږي،تعادلی مزد د w۰ په نقطه کې بند پاتې کیږي، په داسې حال کې  چې د کار قوې ته د تقاضا د پیداکېدلو له اثره اصلي مزد د –w۰ له نقطې څخه د w۱- نقطې ته لږوالی مومي، خو د مزد د غه نزول صورت نه دی نیولای ، اما تقاضا د Do له نقطې څخه د D۱ نقطې ته لږوالی کوي.




او د بېکارۍ نتیجه د L۱_ L۰  په اندازه وي. څنګه چې د L۰ مقدار هغه کار دی چې کورنۍ غواړي له wo مزد سره يې عرضه کړي او L۱ د کار هغه مقدار دی چې شرکتونه غواړي له wo مزد سره استخدام وکړي.

(L۱-L۰)د هغو کارګرانو شمېر دی چې د w۰ په مزد سره د کار کولو میل لري، خو کار نه شي پیدا کولای.

د مزد د اهنین په تیوري کې پوښتنه مطرح کیږي چې ولې د بېکارۍ د دورو په اوږدو کې لوړ مزد د بازار دتعادل په موخه کموالی نه مومي؟ په دې صورت کې د بیکاري پایله(L۰-L۱) ده ، په داسې حال کې چې که مزد w* ته نزول کړی وای، د بېکارۍ نتیجه به په (L۰ - L*) کې محدوده پاتې شوې وای.

د دغې پوښتنې د حل  لپاره یو لړ ځوابونه وړاندې شوي دي، خو اقتصاد پوهان یې له یوه سره هم موافق نه دی او د بېکارۍ شتون د یوې معما په توګه پاتې کیږي.

**ب – ټولنيز قراردادونه:** د دغو قراردادونو په اساس  صنعتي شرکتونه او د هغوی اړوند کارګران توافق ته رسیږي تر څو مزد ته کموالی ور نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د بحران یا افلاس په څېر په فوق العاده حالاتو کې د شرکتونو لپاره لازمه ده چې مزد ته کموالی ورکړي، اما د ټولنیزو دلایلو له مخې د مزد کموالي ممنوع دی.

د هر دلیل له مخې چې وي، کارگران د مزد د ښکته والي په مقابل کې له ځانه مقاومت ښيي او د هغه قرارداد له مخې چې د کارفرمایانو او کارگرانو تر منځ منځته راغلی دی، شرکتونه نه غواړی چې د شرکت او کارگرانو وضع مختله شي او په دې توگه دمزد سطحه له کموالي پرته په خپل حال پاتې کیږي.

**ج – مشخص قراردادونه:** یو زیات شمېر کارگران خاصتاً د صنعت د برخې کارگران چې د کارگرانو په اتحادیو کې شامل دي، له شرکتونو سره یو کلن یا درې کلن قراردادونه لاسلیک کوي.

هغه مزد چې د دې ډول قرار داد له مخې تعینیږي، د اقتصادي اوضاع له صعود او نزول سره تغییر مومي، خو د هغو شرکتونو د اقتصادي فعالیت د نزول په صورت کې مزد کموالی نه مومي چې د لړو کارگرانو تقاضا کوي.

**د – د موثر مزد تیوري:** دغه تیوري توضیح کوي چې د مزد له زیاتوالي سره د کارگرانو مولدیت هم زیاتیږي.

موثر مزد دا مفهوم لري چې شرکتونه دې د موثریت د زیاتوالي په موخه تر هغه نرخ لوړ مزد تادیه کړي چې د کار د عرضې مقدار د کار د تقاضا له مقدار سره مساوي وي. معمولاً یو انفرادي شرکت تر هغه وخته د کارگرانو د استخدام انگېزه لري، تر څو چې د کار په واسطه تولید شوي ارزښت د مزد تر نرخ لوړ او یا له هغه سره مساوي شي.

**هـ- نامکمل معلومات :** تر اوسه مو داسې فرض کوله چې گواکې شرکتونه حد اقل په بازار کې تعادلي مزد پیژني، خو په عمل کې شرکتونه په بازار کې د تعادلي نرخ په اړه کافي معلومات په واک کې نه لري او په دې صورت کې ممکن مزد په اشتباهي توگه تعین کړي چې د بازار د تعادل موجب نه گرځي. که چېرته د اقتصاد عملکرد ساده بڼه لرلای، کار فرمایانو به د څو میاشتو په اوږدو کې خپله تېروتنه اصلاح کړې واي، خو څنگه چې اقتصاد یوه پیچلې بڼه لري او هر وخت نوې اقتصادي پیښې واقع کیږي، نو له همدې کبله شرکتونو ته خورا ستونزمنه وي تر څو مزد د بازار د تعادلي مزد مطابق تعدیل کړای شي.

**د حد اقل مزد قوانین:**

دغه قانون د بېکارۍ یوه کوچنۍ برخه توضیح کوي او د مزد د نرخونو لپاره یوه معینه اندازه تعینوي. که چېرته د بازار تعادلي نرخ د ځینو کارگرانو لپاره یو کوچنی مبلغ وي، په دې صورت کې دغه گروپ کارگران بیکاره پاتې کیدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مزد ساده او عملي ډول په لاندې شکلونو سره ورکول کيږي:

**۱- مزد د وخت په اساس**

د مزد په دغه ډول تاديه کې يو معين وخت په نظر کې نيول کيږي او په کار کې د دغه تېر شوي وخت مطابق مزد تعين کيږي. په صنعتي شرکتونو کې د وخت مزد، د توليد له مقدار او حجم سره اړيکه نه لري، بلکې د ساعت، ورځې، اونۍ او يا مياشتې په څېر د معين وخت د تېرېدلو په اساس ورکول کيږي. په ورته سيستم کې د مزد ورکول د کارګرانو د فعاليت او مقدار له مخې نه ورکول کيږي ، بلکې د کار د وخت له مخې ورکول کيږي.

د وخت مزد د ورکولو د تطبيق ساحه په هغو مواردو کې اماده کيږي چې له اقتصادي نظره دشيانو او خدمتونو د توليد د اندازې او مقدار له مخې د مزد ورکول ګټور نه وي. د مثال په توګه دغه ډول مزد د هغه ډول صنعتي شيانو د توليد په مقابل کې ورکول کيږي چې د توليداتو د کميت او سرعت په پرتله، د هغوی کيفيت او دقت مهم ګڼل کيږي ، او يا د مزد له دغه ډول ميتود څخه هغه وخت استفاده کيږي چې د مزد محاسبه او سنجش ستونزمن وي او يا د دغې پروسې پای زيات لګښت ايجاب کړي.

د مثال په توګه: په هغو مواردو کې چې کارونه متفاوت او مختلف شکل ولري او يا د کار اجرا په مختلفو وقفو کې صورت نيسي، مثلاً د صنعتي شرکتونو ترميماتي چارې، د شرکتونو ترانسپورتي برخې، د صنعتي شرکتونو د ګدام داري او دفتر داري چارې او داسې نور فعاليتونه.

**۲-اکورد مزد:**

اکورد مزد هغه مزد ته ويل کيږي چې د في واحد توليدي معيار له مخې ورکول کيږي. د ورته مزد اندازه د توليد دکار د وخت د مصرف له مخې نه ورکول کيږي ، بلکې د توليداتو د تناسب له مخې ورکول کيږي. که چېرته توليدي فعاليت له تعين شوې اندازې څخه لوړ وي، په دې صورت کې د اضافی توليد په مقابل کې اضافی مزد ورکول کيږي.

معمولاً دغه ډول مزد په لاندې دوو شکلونو سره تاديه کيږي:

الف – د وخت اکورد مزد:

ب – پولي اکورد مزد:

د وخت په اکورد مزد کې د يو ډول مشخص توکي د توليد په موخه يو معين وخت په نظر کې نيول کيږي . که چېرته مدنظر فعاليت تر معين وخت په کم وخت کې توليد شي، يعنې په وخت کې سپما را منځته شي، په دې صورت کې د سپمول شوي وخت په مقابل کې اضافي مزد ورکول کيږي، نو په دې توګه په هره اندازه چې زيات وخت و سپمول شي، مزد په هماغه اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(اکورد وخت ) صعودي بڼه اختياروي. خو د اکورد پولي مزد په اساس، د يوه واحد د توليد په موخه معينې پيسې په نظر کې نيول کيږي. په دې صورت کې چې هر څو مره زيات توليد صورت و مومي، د مزد اندازه زياته او په هره اندزه چې کم يا لږ توليد صورت و نيسي، په هماغه پيمانه کم مزد ور کول کيږي.

که چېرته د اکورد مزد په صورت کې تعين شوي نورمونه په عمومي توګه د تطبيق قابليت ونلري، ممکن مزد نزولي حالت اختيار کړي. نو په دې اساس د ورته نيمګړتيا د لري کولو په موخه له نورو ميتودونو څخه استفاده کيږي چې د حد اقل تضمين شوي مزد په نامه ياديږی چې تر دغه حد اقل تضمين شوي مزد کم مزد نه ورکول کيږي.

د مثال په توګه د يوه معين واحد د توليد لپاره ۶۰ افغانۍ مزد ورکول کيږي او د توليد وخت يې درې ساعته دی. که چېرته په وخت کې سپما را منځته شي ، يعنی ياده شوې امتعه په دوه نيمو ساعتونو کې توليد شي، په دې صورت کې د هر ساعت مزد له ۶۰ افغانيو څخه ۷۵ افغانيو ته لوړيږي او که چېرته ياده شوي امتعه په معين وخت کې توليد نه شي ، حد اقل مزد چې د شرکت له لوري تعين شويدی، کموالی نه مومي چې دغه حداقل تضمين شوی مزد او اکورد مزد په يو ځايي توګه د کارګر اساسي مزد تشکيلوي.

د اکورد مزد ښه والي په دې کې دی چې کار ګر د توليدي واحدونو له شمېر څخه مزد تر لاسه کوي، نو په دې توګه د کارګر له کارې ظرفيت څخه ښه استفاده صورت نيسي او په توليدي کميت کې زياتوالي را منځته کيږي. خو د دغه ډول مزد نيمګړتيا په دې کې ده چې د يوه توليدي واحد د توليد لپاره په دقيقه توګه د وخت تثبيت کول يو ستونزمن کار دی چې يا خو د کارګر د عدم تشويق لامل ګرځي او يا دا چې کار ګر تر زيات فشار لاندې زمول کيږي.

**۳ - مزد د جايزې په توګه:**

لکه مخکې چې هم ورته اشاره وشوه، د وخت د مزد او اکورد مزد په سيستم کې يو لړ نيمګړتياوې موجودي وې، نو له همدې کبله د ورته نواقصو د جبران په موخه په صنعتي شرکتونو کې د مزد ورکولو د پورته يادو شويو سيستمونو تر څنګ، د جايزوي مزد په بڼه د مزد له يو ډول فوق العاده شکل څخه هم استفاده کيږي.

د ورته ډول مزد ورکول د توليداتو د زياتولي، په کار کې د نوښتګري او ابتکار د ښودلو لپاره يوه موثره وسيله ګڼل کيږي.

څنګه چې جوايز د توليدي کار د پلان او پروګرام د تطبيق، له ضايعاتو څخه د مخنيوي، د مصارفو د تنقيص، د توليداتي کيفيت د ښه والي، په کار کې د خلاقيت او نوښت راوستل او داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو په څېر د يو لړ فعاليتونو په مقابل کې ورکول کيږي،نو له همدې کبله د مزد ورکولو ورته ډول د کارګرانو په وړاندې يو ډول تشويقی جنبه هم لري .

په وخت مزد او اکورد مزد کې د جوايزو د سيستم اساسي موخې په لاندې ډول دي:

د توليداتو دزياتوالي، ايجاد او نوښتګرۍ انګېزه.

په ملي سطحه د صنايعو په انکشاف کې د انفرادې او ټولنيزو علايقو تطبيق.

د کارګرانو د مادي او کلتوري ژوند د شرايطو بهبود او د صنعت په بېلابېلو څانګو کې د کارګرانو لپاره د تخصص امکانات برابرول.

**د مزد او معاشانو پلانګذاري**

لکه څنګه چې د توليد د عواملو د تهيې ، توليدي چارو ، پلور او داسې نورو په څېر د صنعت او صنعتي شرکتونو په بېلابېلو برخو کې پلانګذاري اړينه ګڼل کيږي، نو د صنعتي شرکتونو لپاره د مزد او معاش پلانګذاري هم مهمه ګڼل کيږي چې له مخې يې د کارګرانو د مزد او معاش د موضوع وړاند وينه کيږي.

په صنايعو کې د مزد او معاش د پلانګذاري په صورت کې لاندې موارد په نظر کې نيول کيږي.

د صنعتي شرکت د تشکيل مطابق، د توليدي محصولاتو د کيفيت او کميت له نظره د کارکوونکو د فعاليت او کار په مقابل کې د مزد ورکول تنظيم کيږي .

- د مزد او معاشاتو اندازه د کارګرانو د بېلابېلو کټګوريو د دقيق تناسب مطابق د مزد او معاشاتو د شکل او کار د شرايطو له مخې په نظر کې نيول کيږي.

- د مزد او معاشاتو پلان په داسې شکل جوړيږي ، تر څو د کارګرانو د تشويق لامل وګرځي او په پايله کې د مزد تر پرداخت د کار مولديت او مثمريت زيات شي.

- د مزد او معاشاتو په پلان کې د مزد او معاشاتو له ټولو شاخصونو سره د دايمي او غير دايمي کارګرانو د مزد او معاش رعايت کيږي.

په دې برسېره د اضافه کارۍ، بخششونو، جوايزو او داسې نورو په څېر د مزد او معاش ټول اجزا او اړوند ضمايم پلانګذاري کيږي.

د يادونې وړ ده چې د مزد او معاش په پلانګذاري کې د کار د ثقلت او اغلاق، د کار ځای د موقعيت او په توليدي او استخراجي شرکتونو کې د خطراتو د احتمال په څېر، ځينې نور فکتورونه هم په نظر کې نيول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېيم څېرکي لنډيز**

د مزد او معاش اساسي مفهوم د کار له مولديت اوفعاليت سره نږدې اړيکه لري. د مزد د معيار د تعين لپاره ګڼ شمېر عوامل شتون لري چې په لومړي سر کې د کارګر د فعاليت او په کار کې د هغه د تخصص او مهارت له کبله د سترې کاري پايلې په مقابل کې زيات مزد ورکول کيږي.

همدا شان د کار دروندوالی، د کار نامساعد شرايط او داسې نور فکتورونه هم د مزد د تعين په پروسه کې تاثير لري. مزد له هغه پرداخت څخه عبارت دی چې د جسمي يا فکري ځواک د مصرف کولو په مقابل کې د کار فرما يا د کار د څښتن له لوري کارګر ته ورکول کيږي.

تعادلي مزد په بازار کې د کار د قوې د عرضې او تقاضا له مخې تعينيږی، خو له دې سره سره عادلانه مزد له هغه مزد څخه عبارت دی چې د کاريګر له مصرف کېدونکي فکري او جسمي انرژي سره مطابقت ولري. دا له هغه مزد څخه عبارت دی چې د مصرف شوې فکري او جسمي انرژي په مقابل کې د کاريګر قناعت ور باندې حاصل شي او له ټولنيز لحاظ کارکوونکو ته د منلو وړ وي.

په عمومي توګه د کار د مولديت او مزد تر منځ يوه مستقيمه اړيکه شتون لري، په هره اندازه چې د کار پايله او مولديت زيات وي او په ورته حال کې د کيفيت ښه والی هم ور سره مل وي، کارګران په هماغه اندازه لوړ مزد تر لاسه کوي.

مزد په توليد کې غښتلی رول لري په دې معنا، په هره اندازه چې مزد زيات وي، په هماغه تناسب د کار مقدار او کيفيت زيات وي چې په پايله کې د صنعتي توليداتو مقدار او کيفيت زياتوالی مومي.

په عمومي توګه د مزد تيوريانې د آهنين يا اوپسنيز مزد له تيوري، د کارا مزد له تيوري او داسې نورو څخه عبارت دي. آهنين مزد هغه مزد ته ويل کيږي چې د يو لړ معينو دلايلو له مخې د مزد تعادل په يوه معينه سطحه کې بند پاتې شي.

کارا مزد دا مفهوم پياده کوي چې صنعتي شرکتونه تر تعادلی مزد لوړ مزد پري کاندي.

د حد اقل مزد قوانين دا مفهوم افاده کوي چې د مزد لپاره يو معين حد و ټاکل شي . که چېرته د کارګرانو د ځينو ګروپونو مزد کم هم شي، نو د ورته شرايطو په ترڅ کې د هغو کارګرانو مزد نه کميږي چې قرار داد ورسره شوی وي، بلکې د يو لړ کارګرانو د بېکارۍ سبب کيږي.

مزد په بېلابېلو ډولونو ورکول کيږي.

- **مزد د وخت په اساس:** په دې صورت کې د مزد ورکولو لپاره يو معين وخت په نظر کې نيول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اکورد مزد: په دې صورت کې مزد د تولید شویو تولیدي واحداتو په حساب ورکول کېږي.

- مزد د جایزې په بڼه: د وخت د مزد او اکورد مزد د نیمګړتیاوو د لري کولو په موخه د کارانو د تشویق په موخه جایزوي مزد ورکول کېږي.

د مزد او معاش پلانګذاري هغه مهمه او اساسي موضوع ده چې په صنعتي شرکتونو کې مد نظر نیول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېیم څپرکي پوښتنې:**

۱- د مزد او معاش د نسبي معيار د تعين لپاره کوم ټکي په پام کې نيول کيږي؟

۲- د کار اوفعاليت له مولديت سره د مزد رابطه څه ډول ده؟

۳- عادلانه مزد څه مفهوم لري؟

۴- د کلاسيکو اقتصاد پوهانو له مخې تعادلي مزد توضيح کړئ؟

۵- د توليد په پروسه کې مزد څه نقش لري؟

۶- آهنين مزد څه مفهوم لري؟

۷- هغه مزد چې د قرار داد له مخې صورت نيسي ، څه ډول مزد دی؟

۸- د حداقل مزد قانون څه ډول قانون دی؟

۹- د مزد ډولونه کوم دي؟

۱۰- د وخت په اساس مزد ورکول څه مفهوم لري واضح يې کړئ؟

۱۱- اکورد مزد څه مفهوم لري؟

۲۱- جايزوي مزد څه ډول مزد دی؟

۱۳- د مزد او معاش په برخه کې پلانګذاري څه نقش لري؟

۱۴- د موثر يا کارا مزد تيوري څه مفهوم لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صنعت او صنعتي کېدل

**ټوليزه موخه:**
له صنعت او صنعتي کېدلو سره آشنايی او د اقتصادي ودې او صنعتي انکشاف په برخه کې د صنايعو تاثير

**د زده کړې موخې :** د دې څپرکي په پای کې به محصلين د لاندې مواردو په هکله معلومات ولري.

- د صنعت د اصطلاح او مفهوم په اړه معلومات لرل.
- د اقتصادي ودې او صنعتي انکشاف په برخه کې د صنايعو د تاثير په هکله معلومات لرل.
- د صنعتي انکشاف بنسټ او اساس پېژندل.

**د صنعت اصطلاح او مفهوم**

د لنډ عبارت له مخې د خامو موادو د بنې بدلون او د اړتيا وړ محصولاتو توليد ته صنعت ويل کيږي.

که چېرته د کمپلې او بخارۍ په څېر د ځای ناستو توکو د توليد موخه و څېړل شي، څرګنده ده چې د ګرموالي لپاره توليديږي ، خو بيا هم د غه ځايناستي توکي د متفاوت صنعت په واسطه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځته راځي. دا هم شونې ده چې يو صنعت بېلابېل توکي توليد کړي.

صنعتي فعاليت د مفيديت ، کيفيت او ارزښت د لوړوالي په موخه د موادو د بڼې د تغيير له عمليې څخه عبارت دی چې په بشري تاريخ کې اوږده او طولاني سابقه لري.

صنعت د اقتصادي ودې له مهمو فکتورونو څخه شمېرل کيږي او پرمختلليو هيوادونو له همدې آمر څخه استفاده کړېده او د درنو او سپکو صنايعو د توليد په واسطه يې د ټولنيزې اقتصادي ودې د پراختيا امکانات را سپړلي دي. د يادونې وړ ده چې مخ پر وده هيوادونه هم د صنعت له ګټيو څخه محروم نه دي ، بلکې د صنعت او صنعتي کېدلو له ګټو څخه يې استفاده کړې او په يوه نه يو ډول په خپلو جوامعو کې صنعت ته د ودې ورکولو په تکل کې دي، تر څو په اړونده جوامعو کې د زيات او ګړندي توليد، له خامو موادو څخه د زياتې استفادې، او د ټولنې اتباعو ته د کار موندلو امکانات برابر کړي.

لکه څنګه چې د يوې منظمې پوهې او فن له لرلو پرته د مولديت او مثمريت زياتوالی شونی نه دی، له همدې امله ټول ټولنيز مادي او کلتوري خدمات او نعمتونه د يوې منظمې صنعتي پروسې او منظمو پلانونو شتون ايجابوي،تر څو د ټولنيز ژوند د ارتقا امکانات تر لاسه شي ، نو د ورته پلانونو او پروګرامونو د مجموعې په توګه د ورته شرايطو د برابر ولو لپاره صنعت او صنعتي کېدلو ته اړتيا ليدل کيږي.

صنعت په يوه هېواد کې نه يوازې د توليداتو له مخې ، بلکې د ټولنيزو روابطو له مخې هم خورا اهميت لري.

(صنعت د انساني اړتياوو د لرې کولو لپاره تر ټولو مهمه وسيله ده، نو په دې توګه صنعت د انساني اړتياوو د تامين په موخه د طبيعي نعمتونو له اصالت او استخراج څخه عبارت دی)

په اوسني وخت کې صنعت د ملي اقتصاد دټولو رشتو او څانګو د اساس په توګه پېژندل کيږي او د مجدد توليد د جريان په برخه کې رغنده او ټاکونکی رول لري چې د انساني ټولنو د ودې او بدلون لامل ګرځېدلی دی او په تدريجي توګه يې له لومړني شکل څخه عالي او پرمختلليو مراحلو ته ارتقا کړېده او په مجموع کې د ټولنې د اقتصادي شيرازۀ او رفاه لامل ګرځېدلی دی.

د ماشين له پيدايښت سره انسان ته د تکامل لاره هواره شوه او په دې توګه يې ځان د طبيعي لوربينو د استعمال جوګه کړ، ستونزې او کړاوونه يې حل کړل او بالاخره يې د طبيعی ناخوالو په مقابل کې بريالی ګامونه اوچت کړل.

صنعت يوه اقتصادي پروسه ده چې د ملي سر چينو د جريان په ترڅ کې ترې استفاده کيږي، تر څو د نوي تخنيک او معاصرې تکنالوژۍ د انکشاف په بنه اقتصادي ساختمان ته وده ورکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په دې توګه په پر مخ تللیو هېوادونو کې  ملي عاید او  سړي سر عایداتو زیاتوالی موندلی دی.

**په اقتصادي وده کې د صنایعو تأثیر**

په اوسني وخت کې صنعت او په مجموع کې ثقیلې او خفیفې صنایع  له اقتصادي پلوه، نه یوازې د پرمختللیو هیوادونو بلکې د مخ په ودې  هیوادونو په پرمختګ کې  دومره اغیزمن رول لوبولی دی   چې  نن ورځ د بیوزلۍ یا وروسته پاتې والي اصطلاح نه ور باندې اطلاق کیږي.

زیاتره مخ په وده هیوادونه د صنایعو د انکشاف په نتیجه کې د اقتصادي ودې هغه برید ته رسېدلي دې چې د صنعتي یا مترقي هیوادونو په لیکه کې ځای لري. د همدغو تحولاتو پایله ده چې په دې وروستیو کلونو کې  د دغو هیوادونو اقتصادي ساختمان پراختیا موندلې او د نویو صنایعو ایجاد او ختراع ته یې لار پرانسته.

په مخ په ودې هیوادونو کې د اقتصادي ژوند اساس  په کرهنه، مالدارۍ او  سپکو او درنو صنایعو باندې متکي وو ، خو نن ورځ موږ شاهد یو چې په دغو هیوادونو کې د لومړنیو سکتورونو ځای، صنعتي سکتور ته سپارل شوی دی چې له طبیعي سر چینو څخه د استفادې د څرنګوالي، د انساني قوې د استعمال د ډول ، اقتصادي سیستمونو او دولتې پالیسیو په څېر د یو لړ شرایطو له مخې یو تر بله توپیر لري .

هغه هیوادونو چې د  جګړې او طبیعي حوادثو په څېر لړ موانع  یې درلودل، ز یات صنعتي شویدي.

لکه مخکې چې و ویل شول، مخ په ودې هیوادونو خپل اقتصادي پرمختګ ته پام اړولای دی، خو  په څنګ ګي  دغه پېښه   د مخ په ودې هیوادونو او  پرمختللیو هیوادونو تر منځ چې په  ۱۸ -۱۹ پیړۍ کې یې د صنعت اساس ایښی دی، د فاصلې، توپیر او حتی تضاد لامل ګرځېدلی دی. خو له دې سره سره مخ په وده هیوادنه هڅه کوي تر څو دغه فاصلې را لنډه کړي او له تېرو تجربو څخه موثره استفاده وکړي  او حتي په زیاتره مواردو کې خو دا ضروري نه ګڼي چې د صنعت په برخه کې له اروپايي موډل څخه استفاده وکړي.

دې ټکي ته په پام سره چې د  زیاتره وروسته پاتې هیوادونو په چاپیریال کې ناوړه اقتصادي او ټولنیز شرایط شتون لري، خو اړوند دولتونه یې هلې ځلې کوي، تر څو د غوره سیاستونو د عملي کېدلو له لارې د ترقۍ او پرمختګ پړاو ته  ورسیږي.

هغه څېړنې چې په دې مورد کې د ملګرو ملتونو د ټولنیزې ادارې له لوري تر سره شوې دي، په ډاګه کوي چې  د نړۍ د هر هیواد  پام او توجه یوازې د صنایعو پرمختګ ته ور اوښتي دی. دا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې معنا نه دی چې ګواکي هیوادونه نورو تولیدي او خدماتی سکتورونو ته پام نه کوي، بلکې په ډېرو هیوادونو کې هڅه کیږي چې له صنعتي ودې سره جوخت د کرهنې په برخه کې هم موازي پرمختګ تر لاسه کړي، ځکه په دې برخه کې عدم تعادل هم زیات شمېر ستونزې را ولاړولای شي.

پورتنیو ټکو ته په پام سره ویلای شو چې صنعت د هغه د پنځېدلو له شېبې څخه تر اوسه پورې د اقتصادي تحول او بدلون عمده لامل ګڼل کیږي، نو په دې توګه ویل کیږي چې د صنعتي تولید ځواک د یوې ټولنې د تکامل او بشپړتیا تر ټولو غوره شاخص ګڼل کیږي.

**د صنعتي ودې بنسټ**

فکري او جسمي هلې ځلې، د وړتیا او قواوو موثر استعمال، په فکري او عملي کارونو کې د غوره تجارتي فنونو استعمال او داسې نور د صنعت د ودې تر ټولو مهم عوامل  ګڼل کیږي.

په ورځنیو شرایطو کې د پرمخ تللیو هیوادونو له لوري مخ په وده هیوادونو ته د مرستو او همکاریو  د بهیر د اغیزمنتوب او ښه والي ګټو ته په پام سره په کار دی چې مخ په وده هیوادونه د قیقو مطالعاتو او لومړیتوبونو ته د  کتنې په اساس  د صنعت په برخه کې چټک اقدامات وکړي او هغه سیاستونه په کار واچوي چې د اقتصادي ښېرازۍ متضمن وي.

هغه ستره ستونزه چې پخوا یې شتون درلود، دا وه چې زیاتره مخ په وده هیوادونو د پرمختللیو هیوادونو تر تسلط او اسارت لاندې ژوند درلود او په هره اندازه چې په دغو هیوادونو کې صنعت وده کوله، په شتمنو هیوادونو پورې یې اړه درلوده او دغه بهیر یې د پردیو په خوښه له بهر نه اداره کېده. مستبدو پر مخ تللیو هیوادنو کولای شوای د مخ په وده هیوادونو  د  صنعتي بهیر پړۍ د خپلو ګټو په پلوي تاو را تاو کړي.  مخ په وده صنعتي هیوادونه د دې جوګه نه ول چې د ملي اقتصاد د اړتیاوو له مخې په خپله خوښه  تولید وکړي او یا په مستقلانه توګه د شیانو او خدمتونو صادرات او  واردات وکړي او یا خپلې ځانګړې اقتصادي استراتیژۍ عملي او تطبیق کاندي.

خو په اوسني وخت کې وضعیت بدلون موندلی دی او زیاتره مخ په وده هیوادونو وړتیا موندلې ده چې د نورو له خوښې پرته د خپل صنعتي سیاست سیر تعین کاندي .  کوچني هیوادونه چې محدود یې طبیعي سر چینې، کم نفوس او کوچنۍ مارکیټ لري، کولای شي صنعتي او انکشاف یافته شي.

همدا شان پرمخ تللي هیوادونه له کوچنیو او وروسته پاتې هیوادونو سره یو نه یو ډول مرستې کولای شي. په دې صورت کې بېوزله هیوادونو ته لازمه ده ترڅو له دغو مرستو څخه د صنعتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودې په برخه کې موثره استفاده وکړي.

صنعتي ودې ته د هیوادونو د رسېدلو په برخه کې بیا هم یو لړ ستونزې شتون لري. پرمختللي هیوادونه د زیاتي سرمایې ، پرمختللو مالي امکاناتو او موسساتو ، تخنیکي تجاربو، په تجارتي روابطو کې د مهارتونو ، علمي او تحقیقاتي اسانتیاوو ، سالم منجمنټ او په مجموع کې د تحول پذیري د ځواک او وړتیا د لرلو په ځېر د یو لړ پراخو امکاناتو له کبله غښتلی موقف لري او په دې توګه د اقتصادي فرصتونو و لکه په لاس کې اخستلای شي او د هر ډول ستونزو او موانعو په ترڅ کې موثر اقدامات کولای شي.

خو مخ په وده هیوادونه د هغوی د محدودې مالي او اداري وړتیا له امله نه شي کولای د ستونزو او مشکلاتو په اړه اړین تدابیر او امکانات په کار واچوي ، له ځینو فرصتونو څخه محروم پاتې کیږي او د نړۍ د اقتصادي انډول هلې ځلې یې له ستونزو سره مخ کوي. خو باید و ویل شي چې د ورته ستونزو تسخیر کومه نا شوني مسئله هم نده ، بلکې اوږد مهاله ستراتیژیک پلانونه او د مناسبو بدیلونو انتخاب کولای شي وړې ستونزې مهار کړي.

**د څلورم څپرکي د مطالبو لنډیز**

- د صنعت او صنعتي کېدلو مفهوم دا مفاهیم افاده کوي چې د تغییر د عملیې په توګه د خامو موادو د بڼې بدلون زیاتې بشري اړتیاوې تامین کولای شي.
- د اقتصاد د نورو رشتو د اساس او بنسټ په توګه صنعت نه یوازې د تولید په برخه کې رغنده رول لري، بلکې د ټولیزو روابطو د تامین په برخه کې هم غښتلی نقش لري.
- سپکې او درانې صنایع د پرمختللیو او مخ په وده هیوادونو په پرمختګ کې مهم رول لري او هغه هیوادونه چې د ودې په حال کې دي، هڅه کوي تر څو له پرمختیایې پلوه د دوی او پرمختللیو هیوادونو ترمنځ فواصل را کم کړي.
- د صنعتي ودې بنیاد او بنسټ له فکري او جسمي ځواک څخه عبارت دی. په اوسني وخت کې د صنعتي ودې په لار کې یو لړ خنډونه او موانع شته چې د مناسبو ستراتیژیو او اقداماتو په واسطه محوه کیدلای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم څپرکي پوښتنې

۱- صنعت تعریف کړئ؟

۲ -ځای ناستي شیان یا Substitutional Goods څه معنی لري؟

۳ -په ټولنیزو اړیکو باندې صنعت څه تاثیر لري؟

۴ -د مخ په وده هیوادونو په اقتصادي وده کې صنایع څه رول لري؟

۵ -د یوې ټولنې د تکامل او بشپړتیا غوره شاخص له څه شي څخه عبارت دی؟

۶ -د صنعتي انکشاف بنیاد او اساس واضح کړئ؟

۷ -پرمختللي صنعتي هیوادونه له کومو ځانګړو امکاناتو څخه برخمن دي؟

۸ -هغه ستونزې چې د مخ په وده هیوادونو د لارې په سر پرتې دي، کومې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم څپرکی

# په صنايعو کې د کار مؤثریت

**ټولیزه موخه:**

په صنايعو کې د کار د تاثير او رول په هکله معلومات ترلاسه کول او د کار اقتصادي ماهيت، معيارونه او د هغه اړوند شاخصونه پيژندل

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلين دلاندې مواردو په هکله معلومات ولري.

- کار څه شی دی او په توليد کې څه مقام لري؟
- د توليدي محصولاتو په زياتوالي کې د کاري وېش د اهميت په هکله معلومات لرل.
- د اقتصادي ودې له عواملو او فکتورونو سره اشنا کېدل.
- د کار کولو د انساني قوې د پلانګذارۍ په هکله معلومات لرل.
- د اقتصادي موثريت د عواملو تشخيص .
- د هغو متعددو شاخصونو پېژندل چې په مټ يې د کار د اقتصادي موثريت تحليل او شننه صورت موندلی شي.

### په صنايعو کې د کار د اقتصادي موثريت معيارونه او ماهيت

کار د توليد د اساسي عواملو په توګه د توليد په برخه کې رغنده او ټاکونکی رول لري. د کار د موثره ماهيت په هکله د معلوماتو له وړاندې کولو د مخه لازمه ده چې د هغه تعريف وړاندې شي. کار د انسان د فکري او فزيکي فعاليت مجموعه ده چې د ارزښت يا عايد د منځته راوړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په موخه تر سره کيږي.

د صنعتي محصولاتو د توليد په موخه له (ژوندي او غير ژوندي کار) څخه استفاده کيږي. د توليدي او خدماتي چارو د اجرا او باکيفيته، ارزانه او موثر توليد په موخه د کار له قوې او ټولو مادي او مالي سر چينو څخه استفاده کيږي او د تر سره کېدلو مصارف يې له حاصله پايلو سره په تړاو په ثابته او دوامداره توګه محاسبه کيږي.

د اقتصادي موثريت د زياتوالي په برخه کې تر ټولو د مخه د کار د مولديت د سطحې لوړوالی،په توليد کې د نوې تکنالوژي ترويج او تعميم، د کار کوونکو د تخصصي پوهې د سطحې ارتقاء يا لوړوالي او سالم اداري چوکاټ ته اړتيا ليدل کيږي.

آدم سميت چې د صنعتي انقلاب پيښې يې په ميتوديک او ساده ډول تشريح کړي، د اقتصادي ودې او پراختيا په برخه کې لاندې عواملو ته د ټاکونکو هغو په سترګه ګوري:

الف - د طبيعي سر چينو زياتوالی او پريماني

ب – د کار او کارې وېش له کبله د تکنالوژي پرمختګ

ج - د خصوصي اقتصادي واحدونو او انحصاري اداراتو آزادي او استقلال، له رسمي سياستونو او هغو عواملو څخه آزادي چې فردي انګيزې له منځه وړي او يا يې له طبيعي مسير څخه منحرف کوي.

په هر صورت ادم سميت د اقتصادي پرمختګ اصلي لامل د فرد په کوششونو کې ګوري چې دخپل اقتصادي موقعيت او يا ټولنيز موقف د ښه والي په موخه يې په کار اچوي.

هغه مهم عنصر چې د کار په اقتصادي موثريت او مولديت کې د زياتوالي لامل ګرځي، د کار له وېش څخه عبارت دی چې آدم سميت يې په اهميت باندې قايل دی او د اقتصادي پراختيا لپاره يې د اړين عنصر په صفت پيژني.

البته د کار د وېش په پايله کې تر ټولو د مخه د توليد د مقدار زياتوالی منځته راځي چې لاندې درې خصوصيات لري:

١ – د کارګرانو د مهارت د ميزان ارتقا.

٢- د کار د وخت سپما چې د يوه فعاليت په مختلفو برخو کې په معمولی توګه تلف کيږي.

٣- د هغو ماشينونو اختراع چې د توليد د کرښې مطابق يې د کار د تر سره کولو شونتيا را منځته کړې ده، يوه فرد ته وړتيا ورکوي چې د څو کسانو کار تر سره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معمولاً په هره اندازه چې د کاري مواردو او مباحثو په ترڅ کې د کار قوې ته ځانګړی نقش نه ورکول کیږي، خو کار د تولید د مهم عامل په توګه د اقتصادي موثریت تر ټولو مهم عامل ګڼل کیږي.

د کاري قوې په واسطه د نورو عواملو په برخه کې زیاتي فزیکي او مادي نیمګړتیاوې جبران کېدلای شي او د تولید له زیاتوالي سره اساسي مرسته کولای شي .

د تولید او ثروت د ایجاد په برخه کې د کار اساس د فني او فکري وړتیا په زیاتوالي کې نغښتی دی. د فني پرمختګ او د تولید د زیاتوالي په موخه له هغه څخه استفاده کول، د مادي واقعیتونو او هستیو په برخه کې د بشر له فکري او خلاقي پوهې پرته بل څه نه دی .

که چېرته قبوله کړو چې د کار قوه د اقتصادي ودې د پرمختګ په برخه کې تر ټولو مهم رول لري، نو دا پایله جوتیږي چې د کار د ماهیت او اقتصادي موثریت معیارونه له لاندی عناصرو څخه تشکیل شوي دي:

د کار کمیت، د کار کیفیت، د کار د قوې ترکیب او تحولات او د هغې د ودې او پراختیا لپاره مناسبه پلانګذاري.

د کار د انساني قوې د پلانګذاري په هکله په لاندې ډول یادونه کیږي:

د کار د انساني قوې پلانګذاري په مشخصه توګه له اقتصادي او اجتماعي پلوه د اهمیت وړ ده :

الف – له اجتماعي پلوه باید داسې شرایط اماده شي چې ټوله انساني قوه په کار و ګمارله شي او په دې صورت کې له کار سره د کارګرانو د ذوق او میل غریزې ته احترام و لرل شي. د بشري رفاه د تامین او د انسانانو د ژوند د سطحې د ارتقا لپاره دغې موخې ته رسېدل اړین او اساسي ګام ګڼل کیږي.

ب – له اقتصادي پلوه د انساني قوې پلانګذاري باید په داسې ډول وي چې د ټولنې بنسټیزې اړتیاوې تامین کړای شي.

**د اقتصادي موثریت شاخصونه**

اقتصادي موثریت له عواملو څخه د استفادې د څرنګوالي په معنا تلقي کیږي.

اقتصادي موثریت بېلابېل عناصر لري.


اقتصادي موثریت کیدی شي د استاتیک(ثابت) موثریت په واسطه او یا د ډینامیک (متحرک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

موثریت په واسطه  زیاتوالی وکړي. د یوې سرچینې نوښت او ابتکار  متحرک موثریت ګڼل کیږي چې د مدیره ډلې له لوري د سیستمونو د بدلون او مناسبو طرحو د انځور په صورت کې عملي کیږي.

ثابت موثریت په یوه معینه زماني مقطع کې له سر چینو څخه د استفادې په ډول باندې اطلاق کیږي  چې  تولیدي او تخصصي موثریت په بر کې نیسي.

په لاندې شکل کې دغه تقسیم بندي ښودل کیږي.




د تولید په موثریت کې هغه مهال ښه والي را منځته کیږي چې د پخوا په پرتله د تولید له سر چینو څخه غوره استفاده وشی.

په عمومي توګه هغه شاخصونه چې په مټ یې مطلق او نسبي موثریت اندزه کیدی شي، له هغو شاخصونو څخه عبارت دي چې  له صنعتي محصولاتو سره په تړاو د کار د مصرف د لړوالي ټکي ته په کتو سره  د اقتصادي موثریت او کار د ښه والي  معیار او اندازه په ډاګه کړای شي.
د نسبي موثریت ځینې مهم شاخصونه په لاندې ډول دي:

الف –  د سرمایه ګذارۍ حجم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب – د صنعتي محصولاتو ټمام شوي مصارف.

ج د کار مولديت.

د – د اضافي سرمايه ګذارۍ د مصارفو د جبران وخت.

د سرمايه ګذاري حجم د سرمايه ګذاري د اندازې ښودنه کوي چې د جنس، امتعې يا ارزښت په توګه د يوه مدنظر واحد د توليد په موخه په پام کې نيول شوې وي.

ټمام شوي مصارف هم د اقتصادي موثريت د شاخص په توګه پېژندل کيږي.
د شرکت په سطحه ټمام شوي مصارف له معينو او مشخصو توليداتو سره په تړاو د شرکت له کلنيو مصارفو څخه عبارت دي چې د يوه شاخص په توګه په توليدي موثريت باندې تاثير لري.

د کار مولديت هم د هغو شاخصونو له ډلې څخه ګڼل کيږي چې د مصارفو د اداره کېدلو په برخه کې ترې استفاده کيږي، او په واسطه يې د يوه کس کاريګر له لوري د توليد مقدار په نظر کې نيول کيږي.

د يادولو وړ ده چې توليدي موثريت له غوره کيفيت سره د توليداتو د حصول په موخه له مادي سر چينو، امکاناتو او بشري قوې څخه د غوره استفادې په صورت کې تحقق موندلی شي.

د توليدي موثريت زياتوالی د کاري مولديت د ودې، له معاصرې تکنالوژي څخه د استفادې، د کارکوونکو د تخصص او په ورته حال کې د سالمې اداري له لارې منځته راتلای شي. د اقتصادي موثريت تر ټولو غوره شاخص يا تعينونکی عامل د کار له مولديت څخه عبارت دی.

د ملي اقتصاد په محدوده کې د کار مولديت د کال په اوږدو کې د ټول اجتماعي محصول له حاصل تقسيم څخه په داسې ډول عبارت دی چې د ملي اقتصاد د ټولو سکتورونو د محصولاتو مجموعه د ژوندي کار (د انسان د کار) او مړه کار (د ماشين کار) د مصارفو په مجموعې باندې وويشل شي . په رياضيکي توګه ورته جمله په لاند ډول ښودل کيږي:

$$\text{د کار مؤلديت} = \frac{\text{ژوندی کار + غير ژوندی کار}}{\text{د اجتماعي محصول مجموعه}}$$

يو بل شاخص چې له ژوندي کار سره په تړاو په ملي سطحه د اقتصادي موثريت ښودنه کوي، د کار کوونکو په شمېر باندې د ملي عايد له نسبت څخه عبارت دی چې په لاندې ډول ښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي:

$$\text{مؤثریت} = \frac{\text{د کاریګرو شمېر}}{\text{ملي عاید}}$$

همدا شان له اساسي فنډونو څخه په استفادې سره کولای شو د موثریت اندازه تعین کړو. په داسې ډول چې د ملي عاید حاصل په هغو اساسي فندونو باندې و وېشل شي چې د کار په جریان کې سهیم وي یا ونډه لري.

$$\text{د اساسي فندونو مؤثریت} = \frac{\text{د تولیدي فندونو ارزښت}}{\text{ملي عاید}}$$

دغه شاخص د پولی واحد په بڼه د اساسي فنډونو له کلني اوسط سره په تړاو، د حاصل شوي ملي عاید د مقدار ښودنه کوي .
دکار د موثریت بل عمده شاخص له سرمایه ګذارۍ څخه عبارت دی چې د لاندې فورمول په واسطه ښودل کیږي:

$$\text{د سرمایه ګذاری مؤثریت} = \frac{\text{سرمایه ګذاري}}{\text{د ملي عاید د ودې مقدار}}$$

دغه شاخص د نوې پانګې اچونې له هر پولي واحد سره په تړاو د ملي عاید د ودې په مورد کې قضاوت کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځم څپرکي د مطالبو لنډيز:**

کار د اساسي عامل په توګه د صنعتي محصولاتو په توليد کې تر ټولو مهم او رغنده رول لري چې د ارزښت يا عايد د خلق کېدلو په موخه د کاريګر د ذهني او جسمي فعاليت له اصراف څخه عبارت دی.

ادم سميت د ټولنې د اقتصادي رفاه په برخه کې د افرادو هڅې او کوششونه خورا ګټور بولي او د اقتصادي ودې لپاره د طبيعي سر چينو پريماني او د کار د وېش له برکته د تکنالوژۍ پرمختګ د دغه حقيقت د بېلګې په دود وړاندې کوي.

د کار د وېش په ترڅ کې له کيفيت سره جوخت، د توليداتو زياتوالی را منځته کيږي او ورسره جوخت لاندې ګټې هم تر لاسه کيږي:

- د کارګرو د مهارت ميزان.
- په کاري وخت کې سپما.
- د ماشين الاتو ايجاد او اختراع چې د توليد له کرښې سره موازي د څو کسانو د فعاليت وړتيا لرلای شي.

د کار د انساني قوې د استعمال لپاره پلانګذاري له اقتصادي او اجتماعي پلوه  ګټوره ده چې د څپرکي په اوږدو کې بحث ورباندې وشو.

د څپرکي په اوږدو کې د کار له اقتصادي موثريت سره په تړاو د يو لړ شاخصونو يادونه وشوه چې په عمومي توګه د ثابت او متحرک موثريت په وسيله زياتوالی مومي.

په ورته حال کې د نسبي او مطلق موثريت تر څنګ، د هغه د اړوند شاخصونو يادونه هم کيږي چې د څپرکي په اوږدو کې مفصل بحث ور باندې شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځم څپرکي پوښتنې:**

۱- کار تعريف کړئ؟

۲- د آدم سميت له نظره کوم عوامل دي چې په اقتصادي وده او پراختيا کې رغنده او مهم رول لري؟

۳- د کار د وېش پايلې کوم خصوصيات لري؟

۴- د کار د انساني قوې لپاره پلانګذاري څه اهميت لري، توضيح يې کړئ؟

۵- د اقتصادي موثريت تقسيم بندي واضح کړئ؟

۶- ثابت موثريت له کومو برخو څخه عبارت دی؟

۷- د نسبي موثريت عمده شاخصونه کوم دي؟

۸- د ملي اقتصاد په ساحه کې د کار موثريت څه ډول تر لاسه کيږي؟

۹- د توليد د اساسي فندونو موثريت څه ډول تر لاسه کيږي؟

۱۰- د سرمايه ګذاری موثريت بيان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د صنايعو رشتوي ترکيب

**ټوليزه موخه :**
د صنعتي رشتو له ترکيب او تصنيف سره اشنايي

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په اوږدو کې به محصلين لاندې موضوعات زده کړای شي:

هغه موضوعات او عوامل چې د صنعتي رشتو د مدغم کېدلو لامل ګرځي.

- هغه عوامل چې د صنايعو د رشتوي ترکيب د تغيير لامل ګرځي.
- د صنعتي رشتو تصنيف او دسته بندي.
- هغه عوامل چې د صنعې رشتو په تصنيف کې تاثير لري.
- د رومين له نظرياتو څخه د قابليت د کسب د مطالعاتو په برخه کې خبرېدای شی.
- له يو لړ هغو قواعدو سره پېژندګلوي چې د صنعتي رشتو په تصنيف کې تاثير لري.
- د صنعتي رشتو تر منځ د ذات البيني اړيکو په ګوته کول.

## د صنايعو د رشتوي ترکيب ټاکونکي عوامل

هغه اساسي مشخصات چې يوه صنعتي رشته له نورو صنعتي رشتو څخه متمايزه کوي، د صنعتي توليداتو له موخو، د توليد له تکنالوژيکي جرياناتو، تخنيکي اساساتو او د هغو خامو موادو له خصوصياتو څخه عبارت دي چې په صنعت کې کارول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنعتي رشته د هغو ټولو صنعتي رشتو له مجموعې څخه عبارت دي چې  د ورته توليدي موخو، خامو موادو،  تخنيکي اساساتو، تخصصې کادرى ترکيب،  اختصاصي کار او د ورته کاری شرايطو په څېر، د ورته  اقتصادي موخو لرونکي وي.

د ملي اقتصاد په پلانونو  او د هر سکتور په پرواګرامونو کې د توليدي قوې، اقتصادي او اجتماعي مسايلو د ودې په تناسب  په يوه زمانې مقطع کې د صنعتي رشتو تر منځ يو معين تناسب تدوين کيږي.

يو لړ عوامل شته چې د صنايعو په رشتوي ترکيب کې تغيير راولي، چې مهم  يې په لاندې ډول دي:

الف -  د ملي اقتصاد په سطحه تخنيکي پرمختګ او انکشاف.

ب – د صنعتي توليداتو وده لرونکی سير.

ج – په مختلفو ابعادو کې د ټولنې د وګړو  د ژوند د سطحې ارتقا.

د – مناسب اجتماعي او کلتوري شرايط چې په ضمن کې يې صنعتي انکشاف تحقق موندلی شي.

هـ – طبيعي سر چينې او نور عوامل.

په عمومي توګه د صنايعو په رشتوي ترکيب کې لاندې موضوعات ټاکونکی رول لري:

- د هېواد د اقتصادي انکشاف د سطحې او   د توليد کوونکو رشتو د توليدي حجم او د توليدي وسايلو   اداره .

- له تخنيکي پلوه د صنايعو د سطحې مجهز کېدل ،يعنې په هره اندازه چې د ماشين جوړونې، د انرژي د توليد،کيمياوي صنايعو او داسې نورو په څېر د رشتو ونډه زياته وي، د ملي، صنعتي او تصدي اقتصاد په سطحه، د تخنيکي پروسې تامين ته زيات امکانات ميسر کيږي.

- د هېوادونو د اقتصادي استقلاليت درجه، په دې معنا کله چې  اقتصاد له بېلابېلو لورو په خپل ځان باندې متکي وي او د توليدي وسايلو، انرژي، خامو موادو، استخراجي وسايلو او ماشين الاتو له امکاناتو څخه برخمن وي،له مناسب رشتوي ترکيب څخه استفاه کولای شي.

- د کار د مولديت سطحه او د صنعتي توليداتو د اقتصادي موثريت سطحه د صنايعو په رشتوي ترکيب باندې اثر غورځوي.

د صنعتي ودې او توليدي قواوو  انکشاف چې له کبله يې لاسي کار خپل ځای ماشيني کار ته پرېښود، د صنايعو په رشتوي ترکيب کې هم بدلون را منځته کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه پېښه د دې څرګندونه کوي چې د پرمختللیو ماشین الاتو، تجهیزاتو، ترانسپورتی وسایلو، د خامو موادو، د سون د موادو، انرژي، ساختماني موادو او داسې نورو په څېر مادي امکانات چې د تولید لپاره ضروري وي، د صنایعو په رشتوي ترکیب کې خورا مهم نقش لري.

په عمومي توګه ویلای شو، هغه تعین کوونکي عوامل چې په صنایعو کې د رشتوي تغییر لامل ګرځي، په مختلفو صنعتي برخو کې له تخنیکي پرمختګ څخه عبارت دي.

هغه اساسي تاثیر چې تر اوسه پورې یې د صنعتي رشتو د یو ځایوالي په برخه کې خپل ځای ساتلای دی، له برقي انرژي څخه عبارت ده.

د تولید د وسایلو، د تولید د اطلاعاتي تکنالوژي د وسایلو، د تولید د الکترونیکي وسایلو، د تولید بېلا بېلو کیمیاوي صنایعو او د اټومي انرژي په څېر ټولې صنعتي رشتې د صنایعو په رشتوي ترکیب کې  د خپلې ونډې په تناسب اهمیت او نقش لري.

په هر هېواد کې د صنعتي رشتو انکشاف  په هغه هیواد کې د ټولنیزو، اقتصادي او طبیعي شرایطو  مطابق صورت نیسي او په هره اندازه چې دغه شرایط مساعد وي، د صنعتي انکشاف سیر هم په ورته اندازه چټک یا ګړندی وي.

**۱- د صنعتي رشتو تصنیف:**

په تېرو وختونو کې د صنعتي  ګروپونو یا دستو تصنیف د اقتصادي مزیت یا جغرافیایي نژدیوالي په اساس ترسره کېده، خو په ورځنیو شرایطو کې یې نسبتاً بېل شکل غوره کړی دی چې د رقابتي ګټو له نظره د صنعتي ګروپ په توګه په نظر کې نیول کیږي. په دې صورت کې د یوه صنعتي ګروپ ځواک  له یو لړ تعاملي عواملو سره تړاو لري چې په ترتیب سره   د شرکت له ستراتیژۍ، د تولید د عواملو له محیط او شرایطو، د تقاضا له محل او شرایطو، اړوند او مرستندویو صنایعو، د دولت له مالي او تشویقي سیاستونو او داسې نورو څخه عبارت دی، خو تر اوسه پورې په اقتصادي اړیکو باندې زیات تاکید کیږي.

هغه عناصر چې د صنعتي رشتو په تصنیف او دسته بندي کې اساسي نقش لري، د صنعتي دستو په توسعه کې له علمي مدیریت او د صنعتي رشتو له پوهې څخه عبارت دی.

زیاتره پوهان په تولیدي سیستم کې د اقتصادي پنځونو  له کاپی کولو او تقلید څخه د استفادې تمایل لري، خو  بل شمېر یې تر ډېره ځایه د خلاقیت، نوښت او ابتکاراتو  پلوي کوي.

دا سمه ده چې ځینې صنعتي شرکتونه د تولید په برخه کې  په انفرادي توګه  له ځان څخه یو شمېر نوښتونه ښودلای شي، خو دغه ابتکار  په صنعتي ډګر کې علمي زېرمې نه شي اضافه کولای او که زیاتې یې هم کړي نو ډېرې محدودې اغیزې به ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراخ امکانات شتون لري چې په مټ يې صنعتي شرکتونه کولای شي علمي زيرمې زياتې کړي.

په(۱۹۹۸) کال کې د رومين په نامه اقتصاد پوه د قابليت د حصول د مطالعاتو په برخه کې هغه په دريو دستو باندې و وېشل:

**لومړي:** د صنعتي دستې په داخل کې د مختلفو فني فعاليتونو له لارې د قابليتونو تر لاسه کول.

د معمولي توليدي فعاليتونو مشاهده، د نګهداری او اعمار د فعاليتونو له لارې د پوهې حصول او يا د تجهيزاتو مجدده اماده سازي، ازمايشونه او فني توسعه په دې ډله کې شامل دي.

په دوهم ګام کې له باندنيو سر چينو څخه علمي معلومات تر لاسه کولای شو. دغه معلومات ممکن له باندنۍ نړۍ څخه تر لاسه شي او يا د فعالانه تحقيقاتي هلوځلو په ترڅ کې حاصل شي.

**درېيم :** د شرکت په سطحه د انساني پانګې د تعليم او تربيت له لارې هم تخصصي پوهاوي ته تقويت ورکول کيدی شي.

د صنعتي رشتو په تصنيف او دسته بندي کې لاندې قواعد په نظر کې نيول کيږي:

الف: د مجدد او پراخ توليد په جريان کې د صنعتي رشتې موقف او اهميت.

ب : د هغو خامو موادو متجانس والی چې د توليد په برخه کې ترې استفاده کيږي.

ج : د تکنالوژيکي پروسې، تخنيکي اساساتو او داسې نورو مشابهت يا ورته والي.

د صنعتي رشتو دسته بندي د توليداتو د اقتصادي اهميت له مخې هم صورت نيولای شي. له همدې کبله ده چې صنايع په دوو مهمو ګروپونو وېشل شوې ده چې د توليدي وسايلو له توليد کوونکو رشتو او د استهلاکي يا مصرفي موادو له توليد کوونکو رشتو څخه عبارت دي.

په دې برسېره د صنعتي رشتو د سته بندي د صنعتي محصولاتو د توليد د متجانس والي، د تکنالوژيکي عملېې د ورته والي او د استفادې وړ خامو موادو د ورته والي په اساس هم صورت نيسي.

د يادولو وړ ده چې د صنعتي رشتو تصنيف د فعاليت د مشخصاتو په اساس هم صورت نيولای شي.

يعنې د استخراجي صنايعو رشتې چې د کارېدونکو موادو په استخراج مصروفې وي، د پروسس کوونکو صنايعو له رشتې څخه چې د کار مواد، خامو موادو پروسس کوي، څخه د فعاليت د مشخصاتو په واسطه تفکيک کيږي.

بلاخره د اقتصادي خصوصياتو په اساس هم د صنعتي رشتو تصنيف او ګروپ بندي صورت نېولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مثال په توګه، ورته تصنيف د توليدي مصارفو، د خامو موادو د مصرف ، له انرژي څخه د استفادې د اندازې ، د توليد لپاره د پانګې د عامل، د کتلوې، سريل، منفرد توليد او داسې نورو په څېر د توليد د طرز په اساس صورت نيسي.

**۲- د صنعتي رشتو ذات البيني روابط**

په يوه هيواد کې دصنعتي ودې او پر مختګ لپاره د اوږد مهاله پلانونو او پروګرامونو طرحه يو لازمي امر ګڼل کيږي چې د سياست ګذاره بنسټونو له لوري تر سره کيږي.

د پلانګذاري په دې سطحه کې هڅه کيږي تر څو د صنعتي پراختيا لپاره اوږد مهاله او هر اړخيزه لارښود تدوين او اجرا شي.

د هر توليدي فعاليت د پيل پايله نه يوازې دا چې د عرضې او تقاضا د نظام د اختلال لامل نه ګرځي، بلکې په خپل نوبت سره د هيواد د صنعتي پراختيا په چټکتيا کې هم ونډه لرلای شي.

په مخ په وده هيوادونو کې د صنعتي توسعې په سياست ګذاري کې يو د پام وړ لاره، په صنعتي رشتو باندې له مبتني روش څخه عبارت دی.

دغه صنعتي رشتې نه شي کولای يو له بل څخه په جلا توګه د متقابلو اړيکو او همکاريو له لرلو پرته خپلې ودې او پراختيا ته دوام ورکړي. همدغه لامل دی چې د صنعتي رشتو تر منځ يوه ذات البينی او نه شليدونکې اړيکه موجوده ده.

د مسلسل، مجدد، موثر او پراخ توليد په موخه د بېلابېلو صنعتي رشتو ، خصوصاً د ثقيله او خفيفه صنايعو تر منځ ژورې اړيکې او مناسبات شتون لري.

په يوه معينه زماني مقطع کې د موادو، او د ټولنې د اړتيا وړ استهلاکي امتعې اندازه د خفيفه صنايعو، غذايې موادو او کرنيزو توليداتو د انکشاف له سطحې سره متناسبه ده چې کرنيز توليدات د غذايې موادو د توليد په موخه د خامو موادو او خفيفه صنايعو د ټولو رشتو له منبع څخه عبارت دی.

په همدې توګه د خفيفه صنايعو په رشتو او د کرهنې په سکتور کې د توليد د سطې لوړوالی، په خپل نوبت سره د کار د وسايلو او توليدي وسايلو، يعنې د ثقيله صنايعو د رشتو د سطحې د انکشاف او پراختيا لامل ګرځي.

د ثقيله صنايعو انکشاف هم د ټولنې د اړتيا وړ توکو او د استهلاکې موادو د توليد د زياتوالي لامل ګرځي

د ثقيله او درنو صنايعو په بېلابېلو رشتو کې د توليد د اندازې يا کچې زياتوالی د ټولنې د اړتيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړ توکو د تهیه کوونکو رشتو د تولیدي وسایلو د تولید د زیاتوالي لامل ګرځي او په ورته وخت کې د ثقیله صنایعو په موسساتو کې د امتعې د مستقیم زیاتوالي لامل ګرځي.

هغه اړیکې چې د ثقیله صنایعو د رشتو تر منځ شتون لري، له مثالونه یې په لاندې توګه یادونه کیږي:

د انرژي د تولید صنایع، کمیاوي صنایع، ساختماني صنایع او داسې نور چې نه یوازې په خپل منځ کې، بلکې د ملي اقتصاد له ټولو صنعتي رشتو سره پراخې اړیکې لري چې د ثقیله صنایعو د اساس په توګه پېژندل کیږي.

**د شپږم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

د صنایعو د رشتوي ترکیب لنډیز په لاندې ډول دی:

- هغه عوامل چې د صنایعو په رشتوي ترکیب کې ټاکونکې دنده تر سره کوي له لاندې مواردو څخه عبارت دې:

الف– په یوه هیواد کې د اقتصادي پراختیا او صنعتي رشتو حجم.

ب – په هره اندازه چې په یوه هیواد کې د ماشین جوړونې، د انرژي او کمیاوي صنایعو د تولید او داسې نورو په څېر د صنعتي او تخنیکي تجهیزاتو او اسانتیاوو سطحه لوړه وي، په هماغه هیواد کې تخنیکي جریان په هماغه اندازه له پراخو امکاناتو څخه برخمن وي.

ج- د هیواد د اقتصادي استقلالیت درجه.

د- صنایعو په رشتوي ترکیب کې د کار د مولدیت سطحه او د صنعتي تولیداتو د اقتصادي موثریت درجه تاثیر لري

صنعتي رشته د صنعتي شرکتونو له مجموعې څخه عبارت ده چې د تولید د یو ډول اقتصادي موخو، ورته خامو یا لومړنیو موادو، ورته تخینک او ورته کارې تخصص لرونکي وي.

د تخنیکي پرمختګ، د صنعتي تولیداتو د توسعې، ټولنیزې رفاه، کلتوري شرایطو او طبیعي سر چینو په څېر یو لړ عوامل د صنایعو په رشتوي ترکیب کې تغیرات را منځته کولای شي.

- په پخوانیو وختونو کې د صنعتي رشتو تصنیف او دسته بندي د جغرافیایې نژدېوالي په اساس تر سره کېدله، خو په اوسني وخت کې د صنعتي ګروپونو دسته بندي، د رقابتي ګټو یا Comparative Advantages په اساس تر سره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علمي مديريت، ابتکار ، خلاقيت او نوښت په څېر ځينې عناصر د صنعتي رشتو په دسته بندي کې تاثير لري.

د صنعتي رشتو د تصنيف په صورت کې لاندې قواعد په نظر کې نيول کيږي:

- د صنعتي رشتې اهميت او موقف، د تکنالوژيکي جريان ورته والی، د خامو موادو او صنعتي محصولاتو د توليد متجانس والي او اقتصادي خصوصيات.

- د صنعتي رشتو تر منځ ذات البيني اړيکې شتون لري چې په دې لړ کې د ثقيله او خفيفه صنايعو، کرنيزو توليداتو او داسې نورو صنعتي رشتو ترمنځ د يادونې وړ دي.

د ثقيله صنايعو انکشاف د استهلاکي توليداتو او د شيانو د ټولو تهيه کوونکو رشتو د توليدي وسايلو د توليد د زياتوالي لامل گرځي.

د ماشين سازي، استخراجي صنايعو، د اوسپنې د ويلي کولو، انرژي، مختلفو کمياوي او ساختماني صنايعو او داسې نورو تر منځ د ورته اړيکو شتون، د صنعتي رشتو تر منځ د ژوندۍ بيلگې په توگه وړاندې کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شپږم څپرکي پوښتنې**

۱- د هغو مشخصاتو نومونه واخلئ چې صنعتي رشتې یو له بل څخه بېلوي؟

۲-صنعتي رشته تعریف کړئ؟

۳- هغه عوامل توضیح کړئ چې د صنایعو د رشتوي ترکیب د تغییر لامل ګرځي؟

۴- د صنایعو په رشتوي ترکیب کې کوم موضوعات ټاکونکی رول لري؟

۵-په یوه هیواد کې تر کومو شرایطو لاندې د صنعتي رشتو انکشاف صورت مونډلی شي؟

۶-د صنعتي رشتو د تصنیف په برخه کې د پخوا او اوس تر منځ څه توپیر لیدل کیږي؟

۷-هغه عناصر چې د صنعتي رشتو  په تصنیف کې رول لري، کوم دي؟

۸- د صنعتي رشتو د تصنیف په صورت کې کوم قواعد په پام کې نیول کیږي؟

۹-د صنعتي رشتو تر منځ کوم ډول اړیکه شتون لري؟

۱۰- هغه اړیکه توضیح کړئ چې د ثقیله صنایعو تر منځ شتون لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوم څپرکی

## په صنایعو کې اقتصادي رهبري یا مدیریت

**ټولیزه موخه:**
له اقتصادي رهبري، د هغې له ماهیت، روشونو او د صنعتي شرکتونو د اداري ارګانونو له تشکیل سره اشنایي پیدا کېدل

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین د لاندې مواردو په هکله معلومات ولري:

- د صنعتي موسساتو د اقتصادي رهبري د میتودونو ډول.
- له تخینکي او پرېکړه کوونکي دندې سره آشنايي.
- د صنعت په برخه کې د رهبري له میتودونو سره آشنايي.
- د اقتصادي، اجتماعي او تشکیلاتي میتودونو په هکله معلومات.
- د صنعتي شرکتونو په برخه کې د ضمني او رسمي موضوعاتو زده کول.
- په صنایعو کې د ادارو د تشکیلاتو له اکمال او تجهیز سره آشنايي موندل.
- د صنعتي ادارې د سیستم په هکله د یو لړ قواعدو په هکله معلومات ترلاسه کول.

**د صنعتي شرکتونو د اقتصادي رهبري ماهیت**

د صنعتي شرکتونو رهبري له هغو هدفمندو او دوامداره اقتصادي او تشکیلاتي جریاناتو څخه عبارت دی چې نهایي موخې ته د شرکت د رسېدلو په موخه په کار اچول شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شرکت رهبري یوه اجتماعي سیستم ته ورته ده چې له یوه پلوه رهبري کوونکي اشخاص او له بل پلو اداره کېدونکي اشخاص په بر کې نیسي.

د صنعتي شرکتونو د ادارې او رهبري پوهه هم د نورو علومو په څېر یوه خصوصي رشته ده چې د موضوع، مشخصاتو، محتوا، موخو او تحقیق د روش لرونکې ده.

د ادارې او رهبري موضوع د ادارې او د هغې د تنظیم له اړیکې څخه عبارت دی.

د تولیدي شرکتونو د اداري او رهبري تحقیقي میتود له هدفمند مراقبت، تحقق او بررسي، د اقتصادي تجاربو له استعمال او وظیفوي تحلیلونو څخه عبارت دی.

د ادارې او رهبري اجتماعي او سوسیولوژیکي خصوصیات د مشخصو اجتماعي اړیکو او مناسباتو له څرنګوالي سره تړاو لري.

د ادارې او رهبري د علم محتوا د صنعتي شرکتونو د ادارې او رهبري د میتودولوژیکي اساساتو له مطالعې او ارزیابی څخه عبارت دی.

د صنعتي شرکتونو د مشخصاتو په اړه ویلای شو چې د شرکتونو د رهبري مشخصات د شرکتونو د ډول او فعالیت له مخې یو تر بله توپیر لري، یعنې په هره اندازه چې شرکت ستر وي،په هماغه کچه بیوروکراسي په کې وده کړې وي ، او څومره چې شرکت کوچنی وي، د کارونو په اجرا کې یې په متناسب ډول سرعت او چټکتیا لیدل کیږي.

د صنعتي شرکتونو اداره او رهبري دنده لري چې د کار کوونکو د انتخاب او دتقرر، د هغوی د استعدادنو د انکشاف او فعالیتونو د انسجام چارې تنظیم او کنټرول کړي.

په یوه صنعتي شرکت کې د رهبري دنده په دوو ډولونو لیدل کیږي چې یوه یې له تخنیکي او بله یې د تصمیم نیولو له دندې څخه عبارت دي.

د شرکت تخنیکي دنده د کمیت، کیفیت، مکان او زمان له مخې د تولید د عواملو د استعمال څرنګوالی په بر کې نیسي او په حقیقت کې د تولید جریان، اداره او تنظیم کوي، خو تصمیماتی دنده د تولید د عواملو له تهیې سره په تړاو، په یوه معین وخت او مقدار کې مشخصه وي او ضمناً د تولیدي شیانو د بازار موندنې مسله هم په تصمیماتي دندو کې شامله ده.

د رهبري د دندې په توګه تشکیلات، د پلانونو تنظیم او د نظارت او کنټرول فعالیتونه د شرکت د دواړو، یعنې تخنیکي او تصمیماتي دندو برخه ګڼل کیږي.

د صنعتي شرکت رهبري نسبتاً ستونزمن کار دی، ځکه له یوه لوري د قواعدو او مقرراتو له طرحې سره سروکار لري او له بل لوري د هغوی د تطبیق دنده په غاړه لري.

زیاتره پوهان د صنعتي شرکت رهبري ته د یوه هنر په سترګه ګوري او اړوند استعداد، فهم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابتکار او د انساني قوې تنظيم  په کې اړين بولی چې يوه طبيعي هديه يا ډالۍ نه ده ،بلکې د تعليم، تحصيل او تجربې په توګه تر لاسه کيږي او د صنعتي شرکت په بېلابېلو برخو کې ترې استفاده کيږي.

د شرکت د رهبري څانګه دنده لري چې د صنعتي شرکت لنډ مهاله، منځمهاله او اوږد مهاله موخې د شرکت په پلان کې ځای کړي  او د وسايلو د موثر استعمال په واسطه هغوی ته د رسېدلو امکانات را وسپړي او په ورته وخت کې دنده لري، تر څو د تخنيکي او توليدي محلاتو او کار ځايونو تر منځ تړاو را منځته کړي او د انسجام په برخه کې يې هڅې پيل کړي.

د کار وېش چې په هر شرکت کې د يوه قانونمند کار په توګه پېژندل کيږي، د موثر تحقق مکلفيت يې بيا هم د شرکت رهبري څانګې ته سپارل کيږي.

معمولاً په صنعتي شرکتونو کې د رهبرۍ چارې په دريو برخو وېشل کيږي:
د شرکت ټيټ پوړی رهبري ارګان، د شرکت منځ پوړی رهبري ارګان او د شرکت لوړ پوړی رهبري ارګان چې هر يو يې بېلابېلې او متنوعه دندې لري.

که چېرته ذکر شوي ارګانونه  يوازې عنعنوي او تکراري دندې تر سره کړي، نو له ساکن يا (استاتيک) ډول رهبري څخه بحث کيږي ، خو که چېرته د کار په بهير کې نوښت يا ابتکار صورت ونيسي، نو ويل کيږي چې د رهبري ډول متحوله يا (ډيناميکه) بڼه غوره کړي ده.

**د صنايعو د رهبري ميتودونه**

د صنايعو د برخې ميتود يا روش په عمومي توګه  په اداره کېدونکې موضوع باندې  د اداره کونکي عامل د پرېکړې د  عملي کېدلو له طريقې څخه عبارت دی.
د صنعتي سکتور او دهغه د اړوند شرکتونو له رهبري سره په تړاو له درې ډوله ميتودونو څخه استفاده کيږي:

**الف – تشکيلاتي روشونه.**

ب –   تربيوي ميتودونه.

ج - اقتصادي ميتودونه.

تشکيلاتي ميتودونه  د اداره کولو ټول ميتودونه او طريقې په بر کې نيسي او    د توليد په جريان کې د کار کوونکو او کايګرو د رهبري په شمول، د پرسونل برخې د ادارې او رهبري  چارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنظیم کوي.

تشکیلاتي میتودونه د اداري دستګاه منظم جوړښت او تشکیل، د کار کوونکو او کادرونو د تقرر او ځای پر ځای کېدلو او هغوی ته د هدایاتو د صدور په څېر د یو لړ حقوقو او وجایبو تثبیت او د هغوی د ټولو تشکیلاتي اجزاوو او فعالیتونو کنټرول په بر کې نیسي.

- تربیوي میتودونه له هغو مهمو عواملو څخه عبارت دي چې نه یوازې د صنعتي شرکت د رهبري د مسلک او تخصص د سطحې د لوړولو لپاره ضروري ګڼل کیږي، بلکې د کار کوونکو د ټولو کتګوریو د ظرفیت لوړولو لپاره لازمې ګڼل کیږي.

د تر بیوی میتود په ترڅ کې له ټولنیز نقطه نظره د کار مندانو تر منځ د متقابلې همکارۍ روحیه پیاوړې کیږي او د هېواد دصنعتې ودې په وړاندې د کارکوونکو د مسؤلیت احساس غښتلی کیږي.

د کار او تولید په ترڅ کې د کارکوونکو رواني تقویه او د خوشبیني دروحېې ایجاد د همدغه میتود له برکته تحقق مومي.

د صنعتي تولیداتو د کیفیت او کمیت د غوره والي او صنعتي کېدلو په موخه اړینه ده چې د کارګرانو او د مدیره ډلې تر منځ د تعاون او همکارۍ روحیه غښتلې شي، څکه په ورته فضا کې کار کوونکي د مدیره ډلې له لوري د پټېیل شویو موخو تر لاسه کولو ته د وجداني مسؤلیت په سترګه ګوري او په صمیمانه توګه یې د هغوی د لار ښوونو په اساس د تر لاسه کولو هڅې کوي.

په تربیوي میتود کې د زده کړې بهیر یوه دوامداره پروسه ګڼل کیږي او په دې باندې ټینګار کیږي چې د تولید د کرښې مطابق، د موخو په ترلاسه کولو کې له غفلت څخه کار وا نه خیستل شي.

د اداري او رهبري اقتصادي میتودونه د یوه دقیق سنجش له مخې، اداري او اقتصادي قوانینو ته په کتنې سره د اقتصادي غوښتنو له لارې تطبیق کیږي.

د صنعتي شرکتونو د رهبري اقتصادي میتودونه، پلانګذاري، اقتصادي سنجشونه، د غوره پایلې او زیاتې لاسته راوړنې په موخه د کار کوونکو لپاره مادي مشوقات، د قیمت د سیستم تنظیم ، د صنعتي شرکت تمویل، د کریډیت برابرول او داسې نور په بر کې نیسي.

د صنعتي شرکت د سالمې رهبري په ترڅ کې د شرکت کارکونکي نوې مهارتونه تر لاسه کوي، تېروتنې او اشتباهات یې د سالمې لارښوونې له لارې اصلاح کیږي، د کارکوونکو ترمنځ متقابل احترام تامینږي، او د اصولو د تطبیق لپاره لایق او د کار وړ کسان ګمارل کیږي.

د یوه منل شوي اصل په توګه ویلای شو چې ورځنی نړیوال اقتصاد او د صنایعو پرمختیایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهير د پوهې او معلوماتو له برکته منځته راغلی دی. تکنالوژيکي پرمختګونو او کمپيوټري اطلاعات د نړۍ په ورځني اقتصاد کې انقلابی رول تر سره کړی دی چې له کبله يې د سوداګرۍ بڼې په بشپړه توګه بدلون موندلی دی چې دواړه برخې، يعنې توليدي او خدماتی ترخې ور څخه برخمنې شوې دي.

صنايع او دهغه اړوند شرکتونه د اطلاعاتو په مټ کولای شي د اخستونکو او مشتريانو اړتياوې درک کړای شي او په دې توګه د اړينو توکيو توليد ته دوام ورکړي چې په دې توګه مولد او مستهلک، دواړه د توليد او صنعت له پروسې څخه مستفيد کيدای شي.

په دې صورت کې ګټور توب يوازې د سرمايې په حجم پورې نه تړل کيږي، بلکې د کارکوونکوپه پوهې او تخصص پورې اړه لري.

د اقتصادي پراختيا په برخه کې د پوهې په اهميت باندې د پوهېدلو لپاره لازمه ده چې د ضمني او رسمي پوهې اهميت درک کړو.

**الف - ضمني پوهه :**

د اطلاعاتو نړۍ يوازې د رسمي ادراک د قوې په اساس نه ده بنا شوې، په نوې دوران کې له اطلاعاتو څخه ګټه اخستل د توليد په اندازه ارزښت لري.

له صنعتي پوهې او اطلاعاتو څخه د استفادې کولو ځواک او وړتيا نه يوازې د مديره او باصلاحيته ډلې لپاره ضروري دی، بلکې د صنعتي برخې دتولو کارکوونکو لپاره ضروري ده، خو بايد وويل شي چې پوهه او معلومات يوډول نه دي، په بل عبارت له تجربې سره د اطلاعاتو د ترکيب پوهه، شرايط، له معلوماتو څخه تعبير او عکس العملونه يو تر بله توپير لري.

دغه مجموعه د معلوماتو غوره ډول دی چې د تصميم نيونې او فعاليتونو لپاره کارول کيږي. پرېکړه او د مسئلې حل د سيستماتيکو او عقلاني څېړنو او تحليلونو مجموعه ده، خو بايد هغه څه تر سره شي او يا يې تر سره کړو چې، د موقعيت د بر رسي جريان، تصميم او له هغه وروسته د هغه اجرا، يې زموږ د پوهې، تجربې او مشهوده برخه ده چې د ضمني پوهې په توګه ترې يادونه کيږي.

**ب - رسمي پوهه:**

دغه پوهه د پوهې د طبقه بندي سته تشکيلوي چې د علمي او فني جرياناتو په اساس صورت نيسي.

ضمني پوهه د رسمي پوهې بشپړونکې ده چې انسان ته د رسمي پوهې د عناصرو د زده کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه ځخه په عامو مواقعو کې د استفادې کولو اجازه ورکوي.

**په صنایعو کې د اداري ارګانونو د تشکیل، اکمال او تجهیز مسایل**

د تولیدي صنایعو د چارو د ادارې په سیستم کې اداره او تشکیلات مهم رول لري او تر کومه بریده چې د صنعتي برخو تر منځ همکاري زیاته وي، په هماغه اندازه د تولید جریان چټکتیا مومي.

د اداري دستګاوو جوړښت او ترکیب د هغو تصامیمو په محتوا او اساساتو باندې قوي اغېزلري، چې نیول کیږي.

په همدې ترتیب اداره د نیول شویو تصامیمو په لېږد، د صنعت د برخې د بېلابېلو معلوماتو په رښتیاوالي او دقت، د رهبرانو د کار په کیفیت او محتوا، او په مختلفو مؤظفینو او کارکوونکو باندې قوي اغېز لري.

معمولاً د اداري سیستم په تنظیم کې لاندې موضوعات په نظر کې نیول کیږي:

الف – اداري پرېکړې باید د مطلوبیت، د اداري او رهبري د عملیاتي خصوصیاتو د لوړوالي، له اداري جریاناتو سره په تړاو د مصارفو دکموالي، د اداري کارکوونکو د پوهې د سطحې د دوامدارې ارتقا، د معلوماتو د مناسب سیستم د ایجاد، او په عصري تکنالوژي باندې د اداري دستګاوو د تجهیز په اساس تر سره شي.

ب- د صنعت د برخې د ادارې او رهبري د برخې کارکونکي باید خپل زیات وخت د ادارې د مختلفو برخو د معلوماتو او اطلاعاتو د تنظیم په چارو مصرف کړي.

ځکه د کار او تولید د وضعې په اړه لازم اطلاعات، طرحه شوي پلانونه او د صنعتي شرکتونو او موسساتو د مختلفو برخو جریانات، د اداره کوونکو او اداره کېدونکو ترمنځ د اتصال د کړۍ یا حلقې حیثیت لري.

ج – هغه معلومات چې د صنعتي  شرکت له داخل او یا خارج ځخه ترلاسه کیږي، اساساً کوم ډول معلومات وي؟ دغه معلومات باید د چا له لوري ورکړل شي؟ د صنعتي شرکت کومي کومې ادارې یا حلقې ته وړاندې شي او ایا دغه معلومات متناوب شکل لري او یا د ریښتیني  اوضاع او احوال له مخې وړاندې شویدي؟

د- د معلوماتو د برابرې ډلو تنظیم او څرنګوالی، د هغوی د انتقال ډول، د اطلاعاتو کره والي، او دا چې د معلوماتو کومه برخه باید د رهبري ادارې کومې حلقې ته وسپارل شي، هغه مسایل دې چې د صنعتي موسساتو په اداري  سیستم پورې اړه لري.

هـ – رهبري ارګانونو ته د وظایفو د سپارلو او د هغوی د اجرا ډول، د وظایفو د تعینونکي کس تشخیص، په دې برخه کې د کارول شویو څرنګوالی او داسې هغه موضوعات دی چې د صنعتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرکت د اداري سیستم په چوکاټ کې طرحه او تنظیم کیږي.

د صنعتي چارو د اداري په پورتنیو مطالبو برسېره دلاندې مطالبو رعایت هم په نظر کې نیول کیږي:

- صنعتي مدیر نباید له اخلاقي او سلوکي مسایلو څخه غافل وي.

- د نظارت له لارې د صنعتي واحدونو د کړو وړو څارنه باید د یوه دوامدار بهیر په توګه و منل شي.

-په کاري بهیر کې د شوق را منځته کېدل او  په اړه یې  د نظر له څښتنانو سره مشوره کول.

**د اووم څپرکي د مطالبو لنډیز:**

د صنعتي موسساتو اداره او رهبري له یوه پېچلي، دوامدار او هدفمند اقتصادي او تشکیلاتي جریان څخه عبارت دی چې موخه یې د شرکت لپاره د نهایی موخه تر لاسه کول دي.

د صنعتي رهبري ټولنیز سیستم د اشخاصو متقابل روابط احتوا کوي. د صنعتي  برخې د هدفنمدې او سالمې رهبرۍ په موخه  د رهبرۍ له پوهې او میتودونو څخه استفاده کول او د ټولنیزو رواني خصوصیاتو رعایت کول  په ورته بهیر کې یو ضروري امر ګڼل کیږي چې په دې څپرکي کې په مفصله توګه بیان شوی دی.

د څپرکي په اوږدو کې د صنعتي رهبري د تصمیم نیونې په برخه کې د شرکت د رهبرۍ له دندو څخه  له زمانی نظره د بېلابېلو تشکیلاتي پلانونو د طرحې، له نظارت او کنټرول، دپوهې او ابتکار په څېر د علمي اساساتو له مخې د ستعداد د معیارونو په اساس د مسؤلینو او کارکوونکو د تقرر او تعین په څېر  له مختلفو ابعادو څخه  یادونه وشوه.

همدا شان د تشکیلاتي، تربیوي، اجتماعي، رواني او اقتصادي میتودونو په څېر  د صنعتي شرکت له یو لړ رهبري میتودونو څخه یادونه وشوه چې تشکیلاتی میتود یې د اداري له کنټرول، د اداري د دستګاه له جوړښت او د پرسونل له اړوندو موضوعاتو سره تړاو لري.

تربیوي او اجتماعي میتود د کارکوونکو له تخصصي پوهې، د کارکوونکو تر منځ د متقابلو اړیکو  او مرستندویه  روحیې دتامین، د مسؤلیتونو د احساس د غښتلتیا او دصنعتی پرسونل د رواني روحیې د تقویې په څېر د یو لړ  ټولنیزو اړیکو له ایجاد سره سرو کار لري.

اقتصادي میتود په حقیقت کې د تولید له عواملو څخه د غوره استفادې، د صنعتي تولیداتو د کیفیت او کمیت د لوړوالي په څېر یو لړ مسایل احتوا کوي.

همدا شان د څپرکي په اوږدو کې له ضمني او رسمي پوهې څخه یادونه وشوه چې صنعتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرکتونه ترې استفاده کولای شي.

د څپرکي په پای کې د صنايعو د اداري ارګانونو د تشکيل او د صنعتي ادارې د سيستم د خصوصياتو او قواعدو په رابطه له يو لړ مطالبو څخه يادونه وشو.

**د اووم څپرکي پوښتنې**

۱-د صنعتي شرکت رهبري تعريف کړئ؟

۲-د صنايعو د رهبري او ادارې په برخه کې  د تخصصي پوهې اهميت او نقش روښانه کړئ؟

۳-د صنعتي شرکت تخنيکي او د تصميم نيونې دنده تشريح کړئ؟

۴-په صنايعو کې د ادارې او رهبري ميتودونه واضح کړئ؟

۵-تربيوي او اجتماعي ميتود څه مفهوم افاده کوي؟

۶-د صنعت په برخه کې اطلاعات او معلومات څه اهميت لري؟

۷-له اقتصادي توسعې سره په تړاو ضمني پوهه توضيح کړئ؟

۸-په صنايعو کې د اداري ارګانونو د اهميت په برخه کې معلومات ورکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی

## صنعتي مارکېټ او د هغه اړوند اصطلاحات

**ټولیزه موخه :**

د صنعتي اقتصاد له مهمو اصطلاحاتو سره اشنايي

**د زده کړې موخې:** محصلین به د دغه څپرکي په پای کې د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

- بازار  او د بازار جوړښت.
- د بازار ځواک او حدود.
- د بازار ډولونه.
- د صنعتي تصدي له تعریف او مفهوم سره پېژندګلوي.
- د قیمتونو تشکیل.
- د مقیاس د اقتصاد په برخه کې معلومات.

**صنعت**

صنعت د هغو صنعتي شرکتونو له مجموعې څخه عبارت دی چې مشابه یا ورته توکي تولیدوي او د خپلو اخستونکو لپاره مشترک مارکېټ یا بازار ایجادوي.

په صنعت کې بېلابېل توکي تولیدېږي چې  ځینې یې ځای ناستي یا Substitutional خواص لري.

که د کمپلې یا برقي بخارۍ جوړښت ته وکتل شي، نو لیدل کیږي  چې موخې یې د ګرمي ایجادول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، نو که څه هم دغه دوه ډوله تولیدات د ورته مقصد او ورته دندې د پر مخ وړلو لپاره تولیدېږي ، خو ویل کیږي چې دغه دوه توکي د بېلابېلو صنعتونو په واسطه تولید شوي دي.

صنعت چې د اقتصاد مهم سکتور ګڼل کیږي، د سرمايې او خارجي پانګې اچونې د عدم احتیاج د تامین په برخه کې د خود کفایي یا ځان بسنې زمینه برابروي چې په دې توګه د ټولو اقتصادي او اجتماعي برخو د ودې او پرمختګ لامل ګرځي.

**بازار**

بازار له هغې اجتماعي موسسې څخه عبارت دی چې د زمان، مکان، قیمت او شیانو د کیفیت او نوعې له اعلان سره پیرودونکي او پلورونکي په کې یو ځای کیږي او د پیسو په مقابل کې یو تر بله د شیانو راکړه ورکړه یا تبادله کوي.

سره له دې چې بازارونه معین حدود نه لري خو بیا هم بېلابېل ډولونه لري.

صنعت هم چې یوه عادې اصطلاح ده، له بازار سره ورته والی لري او معمولاً د بازار عرضې ته اشاره کوي، نو په دې توګه یو صنعت څو بازارونه په بر کې نیولای شي.

د بېلګې په ډول: د پولادو صنعت په بېلابېلو سیمو کې بېلابېل بازارونه لري.

**د بازار جوړښت**

د بازار جوړښت معمولاً د بازار په داخل کې د شته شرکتونو د توزیع د اندازې په واسطه تعریف کیږي.

د بازار د جوړښت اصلي عناصر په بازار کې د شته شرکتونو له ونډې څخه عبارت دی.

د پرمختللیو شرکتونو په منځ کې تمرکز او د تولید په ورته کرښه باندې، دبالقوه رقیبانو د ورود په وړاندې د موانعو شتون، د غیر رقابتي بازار په شته والي باندې دلالت کوي. بازارونه له خالص رقابت څخه نیولې، تر اولیګوپول پورې بېلابېل ډولونه لري چې د تعین لپاره یې له لاندې شاخصونو څخه استفاده کیږی:

۱- د پلورونکو د تمرکز درجه، یعنې د هغو شرکتونو شمېر چې ورته توکي تولیدوي.

۲- د توکیو د تنوع د توپیر اندازه چې په مختلفو صنعتي شرکتونو کې د محصولاتو توپیر په ګوته کوي.

۳- په بازار کې د تولید په کرښه باندې د سیالو شرکتونو د خروج او ورود شرایط چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت کې د تولید په ورته کرښه باندې د خروج او ورود یا له بازار څخه د تولید کوونکو شرکتونو د وتلو او ورننوتلو د اسانتیا میزان په ګوته کوي.

۴- د بازار حدود: د هر بازار محصولات خپلې ځانګړنې لري چې د بل بازار له هغو سره توپیر لري چې له نورو توکیو سره د هغوی د توپیر برید تعینوي.

۵- د بازار اداره او لارښود له هغو کړو وړو څخه عبارت دی چې شرکتونه یې پټېیل شویو موخو ته د رسېدلو په مقصد عملي کوي. د مثال په توګه د بازار د شرایطو او خپلو مقاصدو له مخې یو شرکت په انفرادي توګه او یا له بل شرکت سره د مشارکت په توګه د قیمت د سطحې، د محصول د ډول، د محصول د مقدار، د محصول د کیفیت او سټنډرډ، اشتهاراتو او تجارتي اعلاناتو په برخه کې پرېکړه ایز تدابیر نیسي. په ورته حالت کې شرکتونه له نورو شرکتونو سره د همکارۍ یا رقابت له لارې د خپلو سیاستونو د عملي کولو په اړه پرېکړې کوي، چې د بازار د عناصرو په نامه یادیږي.

**فرض کړئ**، په یوه بازار کې دوه شرکتونه شتون لري چې دواړه یې د خپل مفاد یا ګټې د زیاتولو هڅې کوي. نو دوی باید څه ډول عمل وکړي تر څو د زیاتې ګټې مقصدونه تر لاسه کړي؟

په ورته شرایطو کې باید و کتل شي چې هغوی د قیمت، محصول او د شرکت د ادارې په هکله څه تصامیم نیسي.

هغوی ممکن یو د بل کړه وړه نالیدلي فرض کړي او په مستقله توګه د خپلو موخو د تعقیب په لټه کې شي او یا د خپلو موخو لپاره ګډ تصمیم ونیسي او د خپل منځي توافق په اساس تر لاسه شوې ګټې سره جلا کړي، او یا یو د بل په وړاندې د رقابتي سیاست یا سیالۍ دریځ غوره کړي.

د تولیدي توکیو د خرڅلاو په اړه د خبرتیاوو او د تبلیغ تنوع یا عدم شباهت د مصرف کوونکو لپاره مناسب شرایط برابروي . د تاکتیک او مناسبې استراتیژۍ انتخاب په معینو شرایطو کې د صنعتي شرکت د کړو وړو انعکاس کونکې ګڼل کیږي چې د شرکت په اداري چاروکې یوه مهمه دنده ګڼل کیږي.

### د بازار ډولونه

الف – د کامل رقابت بازار :polipol (perfect competition)

دغه ډول بازارونه په بشپړه توګه غیر شخصي بڼه لري چې د ورته توکیو بې شمېره تولید

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکي او اخستونکي په کې شتون لري.

په ورته بازاري شرایطو کې د عرضه کوونکو تر منځ رقابت یا سیالي شتون نه لري اوپه ورته توګه د توکیو د اخستونکو تر منځ هم متقابل رقابت نه احساس کیږي.

**د کامل رقابت بازار د لاندې خصوصیاتو لرونکی وي:**

- په ځانګړي صنعت کې د شیانو تولید ورته یا مشابه بڼه لري او دغه حالت د دې لامل ګرځي چې مصرف کونکي د دغه یا هغه تولیدي واحد د اخستلو په برخه کې بې پرې یا بې تفاوته پاتې شي. په ورته شرایطو کې اخستونکي اړتیا نه لري چې د یوه تولیدي واحد په مقابل کې د نورو تولید کوونکو تر قیمت لوړ قیمت ورکړي.

- دا چې په بازار کې د پلورونکو شمېر زیات وي، نو په دې توګه په بازار کې د ټول پلور په پرتله د کوم ځانګړي پلورونکي د پلور اندازه نا چیزه بڼه لري چې په دې توګه په یوازې سر په بازار کې د شیانو د قیمت د تعین ځواک نه لري.

- په بازار کې د اخستونکو زیات شمېر هم د دې لامل ګرځي چې هر یو یې په بازار کې د قیمت په تعین باندې تاثیر نه شي لرلای.

- د تولیدي سر چینو او عواملو د سیالیت له کبله په اوږده مهال کې بازار ته د ننوتلو او یا له هغه څخه د وتلو په برخه کې کوم ځانګړی صنعت له هیڅ ډول موانعو او خنډونو سره نه مخ کیږي.

- په ورته بازاري شرایطو کې بازار شفافه بڼه لري او اخستونکي او پیرودونکي کولای شي، بازاري خصوصیاتو ته په پام سره د خپلو عوایدو او مصارفو وړاند وینه وکړای شي.

- په ورته شرایطو کې د مصرف کوونکو او تولید کوونکو تر منځ کوم جوړ جاړی نه شي کېدی او هر یو یې په دې لټه کې وي چې خپل مفاد او مطلوبیت تر ټولو لوړ حد ته ورسوي.

**ب – د کامل انحصار بازار (Monopoly):**

کامل یا بشپړ انحصار هغه مهال منځته راتلای شي چې په بازار کې یوازې یو تولید کوونکی شتون ولري او تر څنګ یې د سیالانو مشهود یا تکنیکي رقابت نه لیدل کیږي. په ورته شرایطو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې انحصاري شرکت کولای شي خپل ټول سیاستونه عملي کړي. هغوی د تهدیدي قیمت په مرسته کولای شي هغه توکي له بازار څخه وشړي چې د دوی د توکیو ښه ځای ناستي یا Substitutional Goods ګڼل کیږي.

د کامل انحصار د تحقق په موخه لاندې دوه شرطونه اړین ګڼل دي:

- په بازار کې یوازې د یوه عرضه کونکی شتون .

- په بازار کې د عرضه شویو توکیو په وړاندې د نژدې ځای ناستو توکیو نه شتون.

د انحصار سر چینې د لومړینو موادو یا عواملو د عرضې له کنترول، فردي خصوصیاتو، د اختراع د ثبت له امکاناتو او د فابریکې د تاسیس د مصارفو له لرلو څخه عبارت دي.

**ج – د انحصاري رقابت بازار Monopolistic competition:**

په ورته بازار کې د تولیدي محصولاتو د توپیر له کبله پلورونکي دشیانو په قیمت باندې کنترول نه شي لرلای، له همدې امله د قیمت د لوړولو په صورت کې د تقاضا له منفي میلان سره مخ کیږي.

په هر صورت په بازار کې د زیاتو ځایناستو توکیو شتون انحصاري قدرت محدود وي او د دې لامل ګرځي چې تقاضا یې زیات ارتجاعیت ولري.

که چېرته په انحصاري بازار کې شرکتونه په فردي توګه خپل قیمتونه ښکته کړي، د تقاضا منحني یې له زیات ارتجاعیت سره پورته لور ته حرکت کوي او خپل خرڅلاو ته زیاتوالي ورکولای شي، په داسې حال کې چې که په بازار کې ټول شته شرکتونه خپل قیمتونه نازل کاندي، نو د هر شرکت پلور په کمه اندازه زیاتوالی کولای شي.

**د – څو اړخیز انحصاري بازار ( Oligopol):**

له هغه بازار څخه عبارت دی چې د ورته یا مشابه توکیو د تولید یا پلور څو شرکتونه په کې شتون ولري. که چېرته د شرکتونو له لوري پلورل کېدونکي شیان سره مشابه وي، نو بازار د خالص بازار په نامه او که چېرته شیان سره متفاوت وي نو د نا خالص بازار په نامه یادیږی.

په ورته اولیګوپولي بازار کې نه د تولید کوونکو شمېر دومره زیات وي چې په بازار اغېز او تاثیر ولري ، او نه دومره کم وي چې یوازې یو تولید کوونکي د کامل انحصارګر موقف ولري. هغه څه چې په ورته حالت کې د یادولو وړ دی، د شرکتونو له متقابلې رابطې څخه عبارت دی. د تولیدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرکتونو ترمنځ متقابلې اړیکې د څو جانبه انحصار د بحث د ثقل مرکز ګڼل کیږي.

د انحصاري رقابت په بازار کې د بحث موضوع د تولیداتو له تنوع، او بازار ته ورود او خروج د شرایطو له سادګي او اغلاق څخه عبارت وو، خو د څو جانبه انحصار په صورت کې د بحث موضوع د تولیدي شرکتونو تر منځ له ستراتیژیکي عکس العملونو څخه عبارت دی.

د څو اړخیز انحصاري بازار په ترڅ کې د تبلیغاتي رقابت او د شیانو د متنوع کولو د رقابت په څېر غیر قیمتي رقابت او سیالۍ په دوامداره توګه جریان لري.

په هغو بازارونو کې چې مخکې ورنه یادونه وشوه د یوه شرکت مفاد د بل شرکت له هغه سره تړاو درلود. د څو اړخیز رقابت په صورت کې هم ورته واقعیت امکان لري، خو دا پېښه هغه مهال منځته راتلای شي چې شرکتونه له یو بل څخه متاثر شي.

**تصدي یا شرکت:**

تصدي یا شرکت له هغې اداري یا تشکیلاتو څخه عبارت دی چې د یوه یا څو کسانو له لوري د معینو موخو د لاسته راوړلو په موخه ایجادیږي. تصدي یو اصلي عملیاتی واحد دی چې د کار، سرمایې او خاموموادو په څېر له یو لړ عواملو څخه د شیانو او خدمتونو د تولید په مقصد استفاده کوي او خپل مصارف د محصولاتو د پلور له درکه تامین کوي.

د شرکت اساسي موخه تر ټولو لوړ حد ته د مفاد له رسولو څخه عبارت ده، خو امکان لري چې د دې په څنګ کې یو لړ نورې ګټې هم ولري.

**د قیمت جوړښت**

انحصار کونکي چې بازار ته بېلابېل توکي عرضه کوي، د مشتریانو یا پیردونکو له مختلفو ټولنو سره مخ کیږي. په دې صورت کې امکان لري چې له اخستونکو څخه د یوه واحد قیمت په ځای بېلابېل قیمتونه تر لاسه کړي.

په دې صورت کې کیدی شي د قیمت ساختار د مصرف له جوړښت سره متناسب وي. یعنې قیمت د هغه مصرف له مخې تعین شي چې د دغه توکي د تولید لپاره منځته راغلی وي.

همدا شان قیمت د تقاضا د اندازې له مخې تعین شي.

**مفاد**

هغه اضافه در آمد چې په یوه معینه دوره کې د سرمایه ګذاري له درکه تر لاسه کیږي، له مفاد څخه عبارت دی. د یوه شرکت د مفاد د کچې زیاتوالی د هغه شرکت د بریالیتوب او موفقیت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

معیار  څرګندونه کوي چې د مفاد د نرخ په توګه افاده کیږي.

**د مقیاس اقتصاد**

د مقیاس اقتصاد یا  اقتصاد سپما  د دې څرګندونه کوي چې د تولید له زیاتوالي سره د هر تولیدي واحد د تولید مصرف کموالی مومي، نو له دې کبله ویل کیږي چې زیات تولید د تولید د مصرف سپما منځته راوړي.

خو  اقتصادي تبذیر یا اقتصادي اسراف د دې څرګندونه کوي چې د تولید له زیاتوالي سره د هر تولیدي واحد د تولید مصارف زیاتوالی مومي  او په پایله کې د شیانو قیمت هم لوړیږي. په دې صورت کې زیات تولید شرکت ته مفاد نه شي ور په برخه کولای.

**د اتم څپرکي د مطالبو لنډیز**

صنعت  د هغو صنعتي شرکتونو له ډلې څخه عبارت دی چې ورته یا مشابه تولیدات تولیدوي او د خپلو پیرودونکو لپاره یو مشترک یا ګډ بازار ایجاد کړي.

- بازار له یوې ټولنیزې موسسې یا بنسټ څخه عبارت دی چې  د پیرودونکو او پلورونکو بېلابېلې ډلې په کې د پېر او پلور او تبادلوي معاملاتو لپاره یو ځای کیږي او د پیسو په مقابل کې توکي او خدمتونه تبادله کوي.

- معمولاً د بازار جوړښت د بازار په داخل کې د شته شرکتونو د توزیع د انداز یې له مخې تعریف کیږي. د بازارونو د تعین لپاره لاندې شاخصونه په نظر کې نیول کیږي:

د پیرودونکو د تمرکز درجه، د پلورونکو د تمرکز درجه، د شیانو د توپیر درجه،  بازار او د تولید کرښې ته د سیالانو د ورود او خروج د شرایطو څرنګوالی..

- دبازار لار ښود  د هغو کړو وړو او موډلونو  د تعین  استعمال مطلب افاده کوي چې شرکتونه  یې خپلو موخو ته د رسېدلو په مقصد د بازار د شرایطو له مخې   نیسي.

- د بازار ډولونه د کامل رقابت، کامل انحصار او څو جانبه انحصاري رقابت له بازارونو څخه عبارت دی چې د خپلو خصوصیاتو او ځانګړنو له مخې یې  د بازار بڼه او شکل تعینیږی.

- تصدي یا شرکت له هغې اداري یا تشکیل څخه عبارت دی چې  د یوه او یا زیاتو ګډونوالو په واسطه د ګټور فعالیت په توګه  د مفاد او یا نورو موخو د لاسته راوړلو لپاره ایجادیږي.

-  قیمت او د قیمت جوړښت  د دې څرګندونه کوي چې انحصار کونکي بازار ته بېلابېل توکي عرضه کوي، نو امکان لري چې د یوه معین قیمت په ځای له څو مختلفو قیمتونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

استفاده وکړي.

- هغه اضافي در آمد یا عاید چې په یوه معینه دوره کې د سرمایه ګذاري له درکه تر لاسه کیږي له مفاد څخه عبارت دی.

- د مقیاس اقتصاد د دې ښوونکی دی چې د تولید له زیاتوالي سره د تولیدي واحد د تولید مصارف کموالی مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اتم څپرکي پوښتنې**

۱- صنعتي بازار يا مارکېټ تعريف کړئ؟

۲- د بازار د تعين کېدلو لپاره کوم شاخصونه په نظر کې نيول کيږي؟

۳- د بازار حدود يا سرحد څه مفهوم لري؟

۴- د کامل رقابت يا (Polipol) د بازار خصوصيات واضح کړئ؟

۵- د خرڅلاو د بشپړ انحصاري بازار د تحقق لپاره کوم شرطونه ضروري دي؟

۶- صنعتي شرکت يا تصدي تعريف کړئ؟

۷- د قيمت جوړښت واضح کړئ؟

۸- مفاد تعريف کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکی

## د صنعتي اقتصاد تیوري

**ټولیزه موخه:**
د صنعتي اقتصاد له تیوري او موضوع سره اشنا کېدل او د تیوري
او تجربې تر منځ د توپیر په ګوته کول

**د زده کړې موخې:** له محصلینو نه طمعه کیږي چې د څپرکي په پای کې د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

- د تیوري او تجربې تر منځ د توپیر په ګوته کول.
- د پخوانیو پوهانو له نظره د صنعتي اقتصاد د تیوري ارزیابي کول.
- د تجربې او تیوري په مورد کې د (Mason) له موډل سره اشنا کېدل.
- د انحصاراتو په برخه کې د جنکس (Jenks) د نظریاتو په هکله معلومات تر لاسه کول.
- د صنعتي اقتصاد د موضوع تحلیل او شننه.
- له تصمیم نیونې او د شیانوله مبادلې سره په تړاو د معلوماتو حاصلول.
- د نیوکلاسیک او شیکاګو د مکتب د تیوریو په هکله معلومات ترلاسه کول.

### د ټولنیز انتخاب تیوري

په دې بحث کې د اجتماعي انتخاب تیوري د یو بل عنصر حیثیت لري.

د ورته موضوع په اړه د تولوک او جیمز بوکانان په څېر ځینې نظر لرونکي د تفکر د ورته طرز

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلي بنسټ اېښودونکي ګڼل کېږي.

هغوی نیوکلاسیک تیوري ته له سیاست مدارانو، بیروکراتانو او هغو افرادو سره تړاو ورکوي چې د تصمیم نیونې او سیاست ګذاري د دندې مسؤلیت لري.

هغه کسان چې د قدرت په راس کې دي، هڅه کوي تر څو خپله منافع او رفاه تر ټولو اوچت حد ته ورسوي.

د سنتي یا عرفي اقتصاد د پوهانوله نظره ، دولت د خپلو مناسبو اقداماتو په مرسته د بازار د ماتې یا شکست اصلاح کوي، خو د اجتماعي انتخاب د څېړونکو له نظره سیاست مداران او بیوکراتان بېلا بېلې انګېزې لري او د دولت شکست مطرح کوي او معتقد دي چې د دولت دخالت نه شي کولای د اقتصادي رفاه لپاره متضمن و اوسي.

**تیوري د تجربې په وړاندې**

د صنعتي اقتصاد اصلي ستنې په میتودولوژیک بحث باندې قرار لري چې د تحلیلي او نظري څېړنو تر منځ اړیکې یی تر اوسه پورې ادامه لري.

په مجموع کې پخواني مطالعات له داسې څیزونو سره تړاو لري چې نن ورځ یې مونږ د لومړنیو موضوعاتو په توګه په نظر کې نیسو. معمولاً ساختار، د کار او کسب مالکیت او اداره، دشرکت له رقابتي سلوک، د شرکت د قیمت سیاستونه،استراتیژی، تکتیکونه، تولید او له ورته سلوک څخه تر لاسه شوې پایلې د عمومي سیاست هغه موضوعات دې چې د ورته ساختار د سلوک او پایلو په وسیله مطرح کېږي.

هغه څه چې د صنعتي ادارې د اقتصاد پوهانو له تحقیقاتو څخه په ډاګه کیږي، اصلي موضوع یې په انحصاري مسایلو، تجارتي محدودیتونو او د شرکت په عمومي مالکیت کې د کوچني اقتصاد له استعمال څخه عبارت ده.

که چېرته صنعتي اقتصاد د کامل رقابتي بازار له تحلیل سره سروکار ولري، نو څرګنده ده چې رېښه یې له ۱۹۳۰لسیزې سره تړاو لري.

**جنکس په متحدو ایالتونو کې د انحصاراتو په باره کې داسې نظر لري:**

۱- د صنعتي انحصار علت په معاصر صنعت کې له پراخې اړینې سرمایې سره تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ورته تمرکز  د تولید د مصارفو د صرفه جويي لامل ګرځي.

۳-  په مصارفو کې ورته صرفه جويي انحصاراتو ته اجازه وکوي چې د مصرف کوونکو لپاره قيمتونه ښکته کړي، خو باید و ویل شي چې د  انحصاري قدرت لرونکي همیشه د قیمتونو لوړوالي ته ترجیح ورکوي.

۴-  د ورته کار د انجام لپاره د هغوی(انحصارګرو) ځواک له دې محدودیت سره مخ دی چې له رقابتي قیمت نه اوچت قیمت  د تولید په ورته کرښه باندې د نویو سیالانو د پام وړ ګرځي او بازار ته  د هغوی د  را ننوتلو امکان برابروي.

پورتني ټکي  د هغو عناوینو مجموعه او د اړوند او دلایلو زنځیر تشکیلوي چې د صنعتي اقتصاد د موضوع په محدوده کې قرار لري.

د پورتنیو توضیحاتو په اساس  صنعتي اقتصاد  د دريو موضوعي قوانیونو په واسطه تعریف کولای شو:

د سلوک تعینونکي عوامل، مقیاس، د شرکتونو قلمرو او اداره، نا کامل رقابت او د بازار جوړښت هغه موضوعات دي چې په صنعتي اقتصاد کې مطالعه کیږي.

**د صنعتي اقتصاد موضوع**

د صنعتي اقتصاد موضوع د دې مسئلې تر اغېزې لاندې ده چې آیا د تحلیل موضوع، په پریکړه کوونکو پورې تړاولری او که، د توکو د تبادلې په ډول پورې تړلي دی.

که چېرته موضوع  په تصمیم نیوونکو (کار فرمایانو، کار افرینانو او کورنیو) پورې اړه ولري، په دې صورت کې  اصلي موخه دا ده چې د تصمیم نیونکو ډله څنګه یو له بل سره مخ کېدی شي، تر څو  د بازار د وقایعو له مخې عکس العمل وښيي. خو که چېرته د موضوع   د مبادلې د بحث په توګه مطرح کيږي، زيات تاکید په هغو توافقاتو باندې کيږي چې د اقتصادي ډلو تر منځ صورت نیسي.

د دغو توافقاتو څرنګوالی، په دغو توافقاتو کې د مدیرانو، مالکینو، د دولت د نورو شرکتونو او داسې نورو په څېر  د شاملو ستېو شتون او داسې نور د صنعتي اقتصاد له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کیږي.

نیوکلاسیک علماء په دې آند دی چې تصمیم نیونکي په یوې داسې نړۍ کې اوسيږي چې منطقاً کولای شي له تکنالوژیکي محدودیتونو او په بازار کې دقیمتونو له قیوداتو سره سره خپل مفاد لوړ حد ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جوړښت، اداري او کړو وړو سره په تړاو  د نیوکلاسیکې میتود له دوهم جنګ نړیوال نه وروسته د صنعتي اقتصاد په مطالعه کې تر ټولو اساسي نقش لرلی دی، خو له ۱۹۷۰ ام کال نه وروسته د نظر خاوندان دې پایلې ته ورسېدل چې  د ساختار، اداري او عملکرد نظریه   د زیاتو عواملو له کبله  د صنعتي اقتصاد د حوزې په داخل کې ناتوانه شوي دي.

په دې اړه اقتصاد پوهان بېلابېل نظریات لري.

د هغوی له ډلې څخه ځینې کسان یې خپلې تیوریانې د نیوکلاسیک اقتصاد په چوکاټ کې وړاندې کوي چې نوې صنعتي اداره یې یوه بېلګه ده. له بل لوري د شیکاګو د مکتب  د (جدال پذیري) او مشارکت اصطلاح زیاته پاملرنه جلب کړه،  خو له دغو روشونو څخه یو هغه  یې هم له نیوکلاسیک روش  څخه ګوښی نه ګڼل کیږي.  باید و ویل شي چې د شیکاګو مکتب نړۍ ته په داسې سترګه ګوري چې ګواکې کامل رقابت په کې کمزوری دی او په بېلابېلو ډولونو د انحصاري شرایطو له لوري محاصره شوې ده.

هغو عقیده لري چې تر یو لړ معینو شرایطو لاندې انحصار کولای شي ګټور ثابت شي او د ټولنیزې رفاه د زیاتوالي لامل و ګرځي.

د نادسن  (Knudsen)په نامه یو اقتصاد پوه د اقتصادي نظریاتو او روشونو تر منځ د هغوی د برخورد په اساس د عقلاییت په مسله قایل دی، یعنې داسې حدود تشریح کوي چې ګواکې افراد اطلاعات په لاس کې لري او وړتیا لري تر څو له هغوی څخه غوره استفاده وکړي.

د مفاد د حد اکثر کولو منطق دا حکم کوي چې افراد  ورته موخې ته د رسېدلو په مقصد له هر ډول اطلاعاتو او امکاناتو څخه استفاده وکړي.

سایمون(Simon )په دې اړه لیکي چې په واقعي ژوند کې  د مسایلو او ستونزو د ابعادو مقایسه یو ناشونی کار دی او انساني مغز د یوې لازمي پرېکړې لپاره  د ټولو اطلاعات او جزیي معلوماتو د درلودلو ګنجایش نه لري، یعنې افراد د اطلاعاتو او جزیي معلوماتو په اساس پرېکړې کوي، خو هره پرېکړه دجزیی معلوماتو په اساس تر سره کیږي، او هر ځانګړی تصمیم د شته معلوماتو په اساس نیول کیږي.

خو دغه مسله له تجربوي عقلانیت څخه توپیر لري چې په په ترڅ  کې یې افراد عمومي سلوک په فطري او غریزي توګه زده کوي او په فرهنګي یا تجربوي توګه له تېرو څخه د عبرت درس اخلي. له اخستل شوې تجربې څخه د مختلفو مسایلو په حل او له ستونزمن چاپېریال سره د مقابلې په وخت کې معقوله استفاده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د نهم څپرکي د مطالبو لنډيز**

په دې څپرکي کې په عمومي توګه د صنعتي اقتصاد او له هغه لړ څخه د ټولنيز انتخاب تيوري و لوستل شوه چې جمز بوکانان او تولوک يې د طراحانو په نامه نومول شوي دي.

د ورته تيوري له مخې سياستمداران او بيوروکراتان په بازار کې د دولت مداخلت د ورته هڅې د ناکامي لامل بولي چې نه شي کولای د اقتصادي رفاه لپاره تضمين واوسي.

د صنعتي اقتصاد، د اقتصاد پوهانو له نظره تيوري او تجربه يو داسې ترکيب دی چې د تيوري په اساس تيوري کولای شي د ګټور ساختار او عملکرد د متغيراتو په پيژندلو کې ګټوره ثابته شي ،خو د تيوري د سوالونو ځواب د تجربوي تحقيقاتو په پايله کې ثابتېدای شي.

په دې څپرکي کې په لنډ ډول د جنکس له نظرياتو څخه يادونه وشوه چې په امريکا کې د انحصار د منځته راتلو د علتونو يادونه يې کوله.

د دغو نظرياتو او تيوريو له مخې صنعتي اقتصاد داسې تعريف کيږي:

د سلوک ټاکونکي عوامل، د شرکت د قلمرو مقياس او اداره، ناکامل رقابت او د بازار جوړښت هغه موضوعات دي چې د صنعتي اقتصاد په محدوده کې مطالعه کيږي.

د تصميم نيونکو او د شيانو د مبادلې له څرنګوالي سره په تړاو د صنعتي اقتصاد موضوع له دې مسئلې سره هم تړاو لري چې د کار فرمايانو او کورنيو په څېر تصميم نيونکي د بازار د وقايعو له مخې په څه ډول يو د بل په وړاندې عکس العمل ښيي.

د شيانو د مبادلې بحث تر ډېره ځايه د هغو توافقاتو له مخې تر سره کيږي چې د اقتصادي ډلو تر منځ صورت نيسي .

د نيوکلاسيکو پوهانو له نظره تصميم نيونکي په يوه داسې حالت کې ژوند کوي چې له قيوداتو او محدوديتونو سره سره کولای شي خپل مفاد اعظمي حد ته و رسوي. خو د شيکاګو د مکتب له نظره کامل رقابت د وخت په تېرېدلو سره کمزوری کيږي او خپل ځای انحصاري حالت ته پريږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د نهم څپرکي پوښتنې

۱-د ټولنیز انتخاب تیوري توضیح کړئ؟

۲- د ټولنیز انتخاب د تیوري څېړونکي د دولت د مداخلې په اړه څه ډول نظر لري؟

۳- تیوري او تجربه یو تر بله مقایسه کړی؟

۴- په متحدو ایالتونو کې د انحصار په برخه کې د جنکس نظریات بیان کړئ؟

۵- د تیوري په اړه د سنتي اقتصاد پوهانو نظر څه ډول وو؟

۶- د صنعتي اقتصاد په برخه کې استگلر څه وایي؟

۷- صنعتي اقتصاد تعریف کړئ؟

۸- د تصیم نیونکو په برخه کې د نیوکلاسیکو پوهانو نظر توضیح کړئ؟

۹- اقتصادي موخې ته در سیدلو په برخه کې د اطلاعاتو او معلوماتو په باره کې د سایمون نظرتوضیح کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صنعت په اقتصادي پرمختګ کې مخ پروراندې ځانګه

**ټولیزه موخه:**
په اقتصادي پرمختګ کې د صنعت د مخته والي سره آشنایي، د صنعت اغېز پر ښاری ژوند، د نفوس زیاتوالی او د صنعت او زراعت یو پربل اغېز، د صادراتو د ځایناستي صنعت په وده کې د تجارت رول او په ټوله کې د صنعتي کېدلو اهمیت.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

– د لویو او کوچنیو هېوادونو په سطحه د صنعتي تولیداتو او ناخالصو داخلي محصولاتو د نسبت تشخیص.

– د ښارونو او ښاري ټولنې د پراختیا په برخه کې د صنعت د تاثیر په هکله معلومات لرل.

– د صنعت او کرهنې تر منځ د متقابلو تاثیراتو تفکیک کول.

– د صنعت په وده کې د سوداګرې د تاثیراتو په اړه معلومات لرل.

– د صنعتي کېدلو په پایله کې د صادراتو له عوض څخه خبرېدل.

– د صنعت د تاثیراتو له کبله د مدیریتي میتودونو او خدماتي فعالیتونو د ښه والي په برخه کې معلومات تر لاسه کول.

**صنعت څرنګه د پرمختګ لامل دی؟**

څرګنده ده چې صنعت د داخلي محصول تر ټولو زیاته برخه منځته راوړي چې د سړي سر در امد له زیاتوالي سره تړاو لري.
اقتصاد پوهانو د سترو او کوچنیو هیوادونو په سطحه د صنعت ګټور توب یو تر بله مقایسه کړیدی چې شرحه یې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرګنده ده چې ستر هیوادونه د ودې او پراختیا لپاره ستر او پراخ بازارونه په واک کې لري او د دې وړتیا لري چې خپلو صنایعو ته په ګړندۍ توګه توسعه ورکړي. ځکه ورته هیوادونه کولای شي د داخلي بازار د مقیاس له ګټو Internal economies of scal یا د هیواد په داخل کې د تولید د زیات مقدار له کبله د تولید په مصارفو کې د سپما له درکه زیاته ګټه تر لاسه کړي. د دې اصل له مخې ستر هیوادونه د کوچنیو هیوادونو په پرتله ژر صنعتي کیږي.


په(۳)شکل کې د ۱۹۹۲ کال په اوږدو کې د ۱۷ سترو او ۲۰ کوچنیو هیوادنو د صنعتي تولیداتو زیاتوالی ښودل کیږي .

په دوهم شکل کې لیدل کیږي چې د سترو هیوادنو د هر متوسط فرد د در آمد سطحه د کوچنیو هیوادونو په پرتله لوړه ده، خو د دواړو ډلو هیوادونو په متوسط درآمد کې ورته والي یا هماهنګي شتون لري .

د سترو هیوادونو په برخه کې په متوسطه توګه سړي سر درآمد له یوه معین حد مثلاً ۱۰۰۰ ډالر څخه ۵۰۰ ډالر ته رسیږي.

صنعتي تولیدات یې هم د ارزښت له مخې له۱۳٪ ناخالص ملي محصول څخه ۲۲٪ ته لوړیږي.

له ناخالص ملي محصول سره د صنعتي تولیداتو نسبت





(۲)شکل سړي سر درآمد په ډالر

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته د صنعتي توليداتو د ودې ونډه نامحدوده نده، کله چې پر مختللي اقتصادونه له صنعتي توليداتو څخه د نويو خدماتي صنايعو په لور حرکت کوي، د ناخالص ملي محصول په نسبت د صنعتي توليداتو زيات شوي ارزښت يا value added د ۱۰۰۰۰ او ۲۰۰۰۰ تر منځ وي، خو په درېيم شکل کې ښودل شوې ده، چې دغه ارزښت کموالی مومي او يا له ۱۰۰۰۰ ډالر څخه وروسته اعظمي ټکي مخ پر ځوړ کيږي.

د صنعتي توليداتو نسبت




(۳)شکل : په ۱۹۹۲ کال کې د کوچنيو هيوادونو صنعتي توليدات نسبت داخلي محصول ته

د بنگله ديش په څېر په سترو هيوادونو کې د صنعتي توليداتو ونډه يوازې ٪۸ ، په هند کې ٪۲۱ ، په کلمبيا او مکسيکو کې ٪۲۰ او په تايلينډ کې ٪۲۸ ده، خو په کوچنيو هيوادنو کې صنعتي توليدات د ناخالص محصول په نسبت په اوگندا کې ٪۴ ،کينيا ٪۱۲ او په پانامه کې ٪۸ ده، خو د دغو هيوادونو برعکس په يوراگوای کې نږدې ٪۲۲ ده.

ممکن دغه توپير له بېلا بېلو سر چينو څخه منځته راغلي وي. د مثال په توگه د کلمبيا ښېرازه کرهنه، د مکسيکو نفتي زېرمو او داسې نورو دا موقع برابره کړې وي چې له لږ سرمايه گذاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره تر جنوبي کوريا چې د سر چينو له مخې فقير دی، غوره صنعتي وده وکړي او يا ممکن دغه پرمختګ د هغو ستراتيژيوله برکته وي چې د دوی له لوري طرحه شوي دی.

هندوستان او تايلنډ خپل صنعت ته د چټکتيا ورکولو په موخه له بېلابېلو سياستونو څخه استفاده کړې ده، له همدې کبله شونې ده چې د صنعت وده يې په بېلا بېلو پړاوونو کې قرار ولري. د مثال په توګه اوګاندا له کلونو را پدېخوا په داخلي جنګونو کې ګير ده، په داسې حال کې چې کينيا په نسبي توګه د ثبات او د سيمې په توګه د مناسب بازار د وړاندې کولو له مناسب موقعيت څخه برخمنه ده. د هيوادونو ترمنځ وړاندې شوې نمونه د دې څرګندونه کوي چې په يوه مخ پر ودې هيواد کې په صنعتي توليداتو کې د ارزښت اضافه والي بايد د ناخالص داخلي محصول تر ودې زياته چټکه وده وکړي.

البته دغه وړاند وينه د نړيوال بانک د ارقامو له مخې تر سره شوې ده. عموماً په هغو هيوادونو کې چې لږ يا متوسط درامد لري، د ۱۹۶۵ او ۱۹۹۰ کلونو تر منځ يې د صنعتي توليداتو کلنۍ وده د ٪۷ په شاوخوا کې وه، په داسې حال کې چې د هغوی ناخالص داخلي محصول ٪۴۸ . وخو دغه متوسطه نمونه سنجې د زياتو هيوادونو په انفرادي ارزيابي که نه ليدل کيږي: له ۴۲ مخ په وده هيوادونو څخه چې اړوند آمار يا احصايوي ارقام يې له ۱۹۶۵ څخه تر ۱۹۹۰ پورې لېدل شويدي، يوازې په ۱۹ هيوادونو کې صنعتي توليداتو تر ناخالص ملي محصول يو فيصد ګړندۍ وده کړې ده او نورو ټولو هيوادونو تر يوه فيصد کمه وده درلوده.

**په ښاري ژوند باندې د صنعت اغېز**

له صنعتي انقلاب څخه را په دې خوا، ښاريتوب او صنعتي کېدلو په موازي توګه پر مختګ کړی دی. د مثال په توګه د نولسمې پيړۍ په لومړيو کې د انګلستان يوازې ٪۳۰ وګړيو ښاري ژوند درلود، په داسې حال کې چې د همدې پيړۍ په پای کې د ښاري وګړيو شمېر د هيواد د نفوس ٪۷۰ ته اوچت شو.

که څه هم په دې بهير کې بېلابېل عوامل تاثير لري، خو صنعتي کېدل د ورته پيښې تر ټولو مهم او اساسي عامل ګڼل کيږي.

د صنعتي کېدلو تر څنګ يو لړ نور عوامل هم شته چې د ښاري نفوس د زياتوالي لامل ګرزيدلی دی. د مثال په توګه په ښارونو کې توليدي شرکتونه دصحرا په پرتله له بېلا بېلو برخو څخه سپما کولای شي، د ماهرو او فني کارګرانو د استخدام په برخه کې هم له لږ مصارفو سره مخ کيږي ، همدغه لامل دی چې شرکتونه او کارګران دواړه د ښارونو په لور خوځيږي.

کارګران په خپلو ښارونو کې د ځانونو لپاره کورونه ودانوي او شرکتونه د خپلو کارګرانو د هستوګنځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په برابرېدلو باندې مجبور نه وي، په داسې حال کې چې په اطراف یا کوچنیو ښارونو کې شرکتونو ته په کار ده چې د خپلو کارګرانو لپاره د اوسېدلو ځای ځایګی برابر کړي.

په ښارونو کې د برېښنا، اوبو، د کانالیزاسیون د سیستم، لارو، د اوسپنې د پټلیو او داسې نورو په څېر زېر بنایی زیاتې صنایع د دولت له لوري ایجادیږي چې د شرکت په مصارفو کې تر ډېره بریده سپما را منځته کولای شي.

همدا شان په ښارونو کې صحی او داسې نورو اسانتیاوو ته هم لاس رسي کیدای شي نو په دې توګه شرکتونه د کلیو په پرتله په ښآرونو کې د نفوس له ګڼ وال څخه ګټه پورته کوي .

ځکه په دې صورت کې شرکت کولای شي پراخو خدماتو او لومړنیو موادو ته لاس رسی ولري او تر څنګ یې د حمل او نقل له وخت او مصرف څخه هم سپما کولای شي.په ورته توګه په ښارونو کې د مېشت کېدلو له درکه شرکتونه د کورنیو او باندنیو ارتباطي اسانتیاوو او مالي بازارونو له شتون څخه هم ګټه پورته کولای شي. نو په دې توګه پانګه وال، مدیران او ټکنیشنان د خپل مفاد د زیاتوالي په موخه په ښارونو کې اوسېدلو ته ترجیح ورکوي.

په ښارونو کې د سترو بازارونو ایجاد یو ځانګړی جذابیت لري، ښارونو ته نږدې د سترو کارخانو تاسیس د شرکت د توزیع مصارف تر ټولو ټیټ حد ته رسوي، که چېرته د وزن لرونکو محصولاتو د لېږد را لیږ د مصارف زیات وي، په دې صورت کې هم شرکتونه هڅه کوي تر څو خپل تولیدي تاسیسات په ښارونو کې ودان کړي او په دې توګه د حمل او نقل له مصارفو څخه سپما وکړي.

په مخ په وده هیوادونو کې چې د ښارونو او اطراف تر منځ د حمل او نقل شبکې پرمصرفه وي، نو په ښاري سیمو کې د تولیدي اسنانتیاوو تاسیس کولو ته تر جیح ورکول کیږي.

په ځینو مخ پر وده هیوادونو کې چې د لېږ درا لېږد شبکې په کافي اندزه شتون لري، سره له دې چې صنعتي شرکتونه ازاد ځای او ارزانه کارګرو ته د لاس رسی له کبله په اطرافو کې خپل شتون ته ترجیح ورکوي، خو د تګ را تګ او ترانسپورتي امکاناتو د اسانتیاؤو له کبله کارګران په ښارونو کې د کار موندلو ته ترجیح ورکوي چې دغه پېښه تر ډېره ځایه د دریمي نړۍ په هیوادونو کې زیاته لیدل کیږي. په ښآرونو او ګڼ میشته سیمو کې د بېکاري د خطر او ژوند د سختو شرایطو له وېرې سره سره بیا هم زیاتره کسان په خپلو ټاټوبو کې د ژوند په پرتله ښاري ژوند ته زیات تمایل لري.

هیڅ هیواد د ګڼ مېشته ښارونو له درلودلو سره چې د ارامۍ احساس په کې شتون نه لري، علاقمند نه دي، د همدې دلیل له مخې دولتونه هڅه کوي چې د ورته لاملونو له کبله د مهاجرت له جریان څخه مخنیوی وکړي .

که چېرته دولتونه د کلیو او دهاتو په انکشاف کې دومره جدي واوسي لکه څومره چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنعتي کېدلو په برخه کې تاکید کوي، دغه سیاستونه په اوږده مهال کې په غوره توګه بریالي کیدلای شي .

د ورته مهاجرتونو د مخنیوي بله غوره لاره په هغو ښارونو کې د زیربنایي تاسیساتو ودانول دي چې لږ نفوس لري . ځکه د ورته اسانتیاوو په صورت کې صنعتي شرکتونه دغو کوچنیو ښارونو ته مخ ګرځوي چې په دې توګه کارګران او زحمتکشه طبقه ځانته جلبولای شي.

د افغانستان په ښارونو کې د نفوس د تراکم لامل د کارګرانو له لوري د کار موندلو د هڅې تر څنګ یو لړ نور دلایل هم امکان لري.

د مثال په توګه د جګړې په وخت کې زیات افغانان د پاکستان او ایران په څېر ځینو هیوادونو ته مهاجر شول او هلته یې له ښاري ژوند سره عادت پیدا کړ، نو کله چې بېرته وطن ته را ستانه کیږي، هڅه کوي چې خپل ژوند ته په ښار کې دوام ورکړي، په داسې حال کې د کابل په څېر د افغانستان زیاتره ښارونه د دومره ګڼ نفوس ظرفیت نه لري او د ځایي اوسیدونکو لپاره بېلابېلې ستونزې ایجادوي.

له همدې کبله لازمه ده چې دولت ښارونو ته د هغوی د راستنېدلو د مخنیوي سیاستونه په کار وا چوي، خلکو ته د هغوی په اصلي سیمو کې د کار امکانات او نورې بشری اسانتیاوې برابرې کړي.

**صنعت د پراختیا په برخه کې څه رول لري؟**

دا ادعا هم نشو کولای چې ګواکي صنعتي کېدل په یوازې سر د اقتصادي پرمختګ یوازنی لامل دی او یا ټولو ټولنیزو ستونزو ته یو مخیز ځواب ویلای شي، خو دا هم څرګنده ده چې صنعت د اقتصادي پرمختګ په برخه کې تر ټولو مهم رول لري.

صنعت د اقتصادي ودې تر ټولو غوره لامل ګڼل کیږي، ځکه صنعتي تولید د دې امکان برابروي تر څو د وارداتو لپاره غوره بدیل ایجاد شي او د صادراتو د زیاتوالي له کبله ملي ثروت خلق کړای شي.

د شونتیا تر بریده دې هڅه وشي چې د کلیو پراختیا او صنعتي کېدل په موازي توګه تر سره شي، ځکه صنعت کولای شي د کیمیاوي سرې، تجهیزاتو او داسې نورو په څېر د کرهنې د ودې اساسي امکانات برابر کړي. که څه هم دغه کرنیز وسایل او امکانات ساده وي خو غوره موثریت لري او کولای شي له وارداتي هغو نه په ارزانه قیمت تمام شي.

له بل لوري د مالوچو، جغندرو، تنباکو، میوه جاتو او داسې نورو په څېر کرنیز تولیدات د صنعت لپاره لومړني مواد برابرولای شي. د صنعت او کرهنې تر منځ یو بل ته د لومړنیو توکیو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بر ابرولو اړيکه موجوده ده.

د کرهنې په برخه کې د عايد له ودې سره  بازار د صنعتي توليداتو د عرضې لپاره هم مناسب شرايط برابروي. په ورته صورت کې  بازار صنعت ته  د توليد بازار يابې په برخه کې  له economis of scal نه د مستفيد کېدلو وړتيا ورکولای شي ، په همدې توګه که چېرته د صنعتي توسعې په برخه کې ښاري درامد زيات شي، نو لکه څنګه چې زياتو غذايي موادو ته اړتيا ليدل کيږي، نو کرنيز توليدات او له هغوی څخه زيات مفاد تر لاسه کول هم زياتيږی.

په لنډه توګه ويلای شو چې صنعتي وده د غذايي موادو د اړتيا ، د اشتغال او درامد د توزيع د زياتوالي لامل ګرځي.

لکه څنګه چې د څپرکي په لومړيو کې ورته اشاره وشوه، صنعت په يوازې سر نه شي کولای اشتغال ايجاد کړي او په همدې توګه په يوازې سر نه شي کولای په هيوادونو کې خاصتاً په فقيرو هيوادنو  کې د عايد توزيع مساوي کړي.  ازاد اقتصاد چې کنټرول په کې کم وي او قيمتونه يې هم د بازار له لوري تعينيږی، تر يوه حده کولای شي معاصري تکنالوژي ته له تمايل  او په صنعتي برخه کې د هغې له استعمال څخه مخنيوی وکړي او د اشتغال د زياتوالي په بڼه له صنايعو سره مرسته وکړي.

لکه څنګه چې ليدل کيږي په ترقي منونکوهيوادونو کې صنعتي ودې ته  د نورو موخو د تحقق د کيلي په سترګه کتل کيږي: مثلاً د وابستګي يا په نورو باندې د اتکا د اړتيا کموالی،  که چېرته هيواد وغواړي اساسي شيان وارد نه کړی او بيا هم اقتصادي ژوند ته دوام ورکړي، په کار ده چې د صنعت او زراعت ټول جوړښت ته تغيير ورکړي. او يا که چېرته مخ په وده هيواد د دې غوښتنه وکړي چې د باندينو له سياسي او فرهنګی نفوذ څخه مخنيوی وکړي، نو ورته په کار  ده چې د خارجيانو د مرستو په برخه کې د صنعتي فابريکو په تاسيس لاس پورې کړي.

په عمومي ډول داسې ادعا کيږي چې اقتصادي خود کفايي يا ځان بسنه په دې مفهوم ده چې يو هيواد ټول د اړتيا وړ توکي توليد کړای شي، تر څو په نورو باندې  له اتکا څخه خلاصون و مومي.

## د صنعت په وده کې د سوداګرۍ اغېز

د نفوس  زياتوالی، د طبيعي سر چينو له منځه  تګ، د سرمايې تراکم، د کار  تعليمی کېدلو او د نوې تکنالوژي حصول او انطباق ته په کتو سره ممکن دولتونه د پام وړ موخو له مخې  د لومړنيو موادو د صادراتو په برخه کې بېلا بېلې لارې او انتخابونه ولري.

معمولاً دولتونه  د نسبي مفيديت او د صنعتي کېدلو د موډل د تغيير په موخه د تجارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه مختلفې ستراتیژۍ په نظر کې نیسي چې د وارداتو له تعویض او د صادراتو له زیاتوالي څخه عبارت دي.

**الف- د وارداتو عوض کول:**

د داخلي تولیداتو زیاتوالي  په معقوله توګه دصا دراتو ځای نیولای شي او یا خو د صادراتو کچه اقل حد ته را ټیټولای شي.

په ۱۷۹۱ کال کې الکساندر همیلتون په خپل اثر (د صنعتي تولیداتو په باره کې راپور) کې له انګلستان څخه د ارزانه وارداتو په مقابل کې د امریکایي تولیدکونکو له حمایتي تعرفو یا educational tariffsسره په تړاو بحث پیل کړ او د وخت ولسمشر جفرسون په بندرونو کې ټولې تجارتي کشتۍ ودرولې، که څه هم دغه اقدام قصدي او سیاسي جنبه نه درلوده، خو څرګنده شوه چې د وارداتو محدودیت د امریکا له صتعتي کېدلو سره مرسته وکړه.

همدا شان په مخ په وده هیوادونو کې هم د وارداتو د تعویض په موخه اقدامات او خپل تنکي صنعت ته وده ورکول پیل شوی دي  چې دغه کړنې تر ډېره ځایه د لاتینې امریکا په هیوادونو کې صورت موندلی دی. په اسیایي او افریقایي هیوادونو کې چې له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته یې استقلال تر لاسه کړ، د وارداتو د تعویض په فکر کې شول. په مجموع کې ټول مخ په وده هیوادونه د وارداتو د تعویض په موخه د صنعتي کېدلو په لټه کې دي.

هغه نظریات او استدلال چې د حمایتي تعرفې په ګټه مطرح کیږي، د صنعتي کیدلوله اساسي عواملو څخه شمېرل کیږي چې مخ په وده هیوادونه د خپل ځوان صنعت د ودې لپاره له همدې میتود څخه استفاده کوي. د امر د تحقق لپاره داخلي خصوصي یا دولتي سرمایه داران د نوې تکنالوژۍ په برخه کې پوهې ته اړتیا لري او باید هڅه وکړي تر څو هغه تولیدات تولید کړي چې مخکې د دوی په هیواد کې نه تولید کېدل.

د رقابتي وارداتو په وړاندې د نو ظهوره تولیداتو د  حمایت په موخه په وارداتو باندی د تعرفو یا ګمرکي سهمیو وضع کول هغه روش یا میتود دی چې په نړیواله کچه ترې استفاده کیږي.

د نوي صنعت د په پښو درولو لپاره هغه مقدار حمایت او سبسایډي ته اړتیا شته، تر څو دغه تنکی صنعت په داخلي بازار کې د پخو شرکتونو په وړاندې د سیالی کولو جوګه شي .

**ب –  د صادراتو په پیاوړتیا کې صنعتي کیدل:**

د صادراتو د ستراتیژۍ  ټاکلو په هکله چې د صنعت د دوام لامل ګرځي، ډېرې لارې شتون لري. له هغې ډلې نه ادم سمیت (د ملتونو شتمني) په کتاب کې داسې څرکندونې کوي:

(د صادراتو بازارونه دا شونتیا رامنځته کوي، چې کارخانې له یو ډول کالیو نه ډېر تولید وکړي او له مخې یې، له هغه وخته ډېر چې یوازې د داخلي بازار لپاره یې تولید کاوه. متخصص شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږد مهال تولید، له یو تولید نه بل تولید ته د لګښت توپیر کموي. تخصص لامل ګرځي چې هر شرکت د خپلو تولیداتو د مفیدیت لپاره لا ډېر څه زده کړي.
په نړیوال بازار کې رقابت دواړو مواردو ته لازمه انګیزه برابروي.)

هر کله که له صنعت نه غوره ګټه په سمه توګه تر لاسه نه شوه، نو په هغه وخت کې کولای شو زده کړه او خپل عمل داسې په کار واچوو، څو د صادراتو له لارې د تولید وده کړندۍ کړو. هرڅومره چې زیات تولید نړیوالو بازارونو ته وړاندې کیږي، هومره د مشاهدې فرصتونه او ټکنالوژۍ لاسته راوړنه زیاتوي.

**د اقتصادي پراختیا په برخه کې د صنعتي کېدلو اهمیت**

د صنعتي کېدلو لومړنی اهمیت په دې کې نغښتی دی چې له صنعتي کېدلو سره په ټولو برخو کې یو ډول نوښتګري، د تکنالوژي غوره والی او د مدیریت د روشونو ښه والي زیاتیږي.

د خدماتو او کرهنې په برخه کې د بهره دهي ارتقا په هغو مواردو کې د صنعتي کېدلو له میزان سره تړاو لري.

د کرهنې په پروسه کې له معاصرو میتودونو څخه استفاده کول، د زراعتي محصولاتو د زیاتوالي لامل ګرځي.

زیاتره خدماتی فعالیتونه چې په ورځنیو جوامعو کې لیدل کیږي، مستقیماً د صنعتي انکشاف پایله ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لسم څپرکي د مطالبو لنډیز**

د ملي اقتصاد د نورو سکتورونو په پرتله د صنعت برخه د اقتصادي پراختیا په برخه کې تر ټولو غښتلی رول لري چې په دې برخه کې د لویو او کوچنیو هیوادونو ونډه مختلفه ده او ستر هیوادونه د هغوی د پراخو امکاناتو له کبله په ګړندۍ توګه صنعتي کیږي.

صنعتي کېدل په ښاریتوب یا په ښارونو کې د اوسېدلو په عادت او بهیر باندې هم تاثیر غورځوي  او د صنعتي کېدلو تر څنګ نورموجبات چې د نفوسو د ګړندۍ ودې لامل ګرځي دا ده چې په ښارونو کې د شرکتونو ایجاد، د نفوسو د جذب لامل ګرځي او په همدې ترتیب هر شرکت د نفوسو د تجمع له کبله له منځته راغلو سپمول کیدونکو امکاناتو څخه منفعت تر لاسه کوي.

خو د نفوس زیاتوالی د سړي سر عاید د کموالي لامل ګرځي، له همدې کبله زیاتره هیوادونه په ښارونو  کې نفوس له مېشت کېدلو سره زړه نه ښه تړي .

صنعت او کرهنه په متقابله توګه د یوبل د بازاري توکي برابروي.

که چېرته صنعتي کېدل د کلیو له پراختیا سره یو ځای پراختیا وکړي، نو د کرهنې د اړتیا وړ ماشین آلات او تجهیزات د صنعت له لوري تهیه کیږي او په متقابله توګه د صنعت لپاره خام یا لومړي مواد د زراعت له لوري تهیه کیږي .

د صنعت د پراختیا په برخه کې سوداګري هم مهم نقش لري چې په ترڅ کې یې واردات په صادراتو باندې بدلیږي چې د صادراتي استراتیژۍ  د انتخاب په برخه کې زیاتې ګټې تامین کېدلای شي.

په پای کې ویلای شو چې د اقتصادي پراختیا په برخه کې صنعت له خورا اهمیت څخه برخمن دی او  د تکنالوژي له غوره والي سره د کرهنې او خدماتو د برخې ځواک اضافه کېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لسم څپرکي پوښتنې**

۱- د لویو او کوچنیو هیوادونو د ناخالص داخلي محصول او صنعتي تولیداتو نسبت د ګراف په واسطه مقایسه کړئ؟

۲- په ښاریتوب یا په ښارونو کې د وګړیو د زیاتې میشت کېدنې په برخه کې د صنعت تاثیرات توضیح کړئ؟

۳- د صنعت او کرهنې د سکتورونو تر منځ متقابل تاثیرات واضح کړئ؟

۴- صنعت څه ډول کولای شي په هیواد کې د خارجیانو د سیاسي او فرهنګي نفوذ مخه ونیسي؟

۵- د صنعت په پراختیا کې د سوداګرۍ رول روښانه کړئ؟

۶- ایا صنعت په یوازې سر کولای شي د وروسته پاتې والي ستونزه حل کړي؟

۷- د خدماتو، کرهنې او مدیریتي میتودونو د ښه والي په برخه کې د صنعتي کېدلو نقش بیان کړئ؟

۸- د وارداتو د تعویض په برخه کې د صنعت اهمیت توضیح کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د صنعتي اقتصاد له نظره د صنعت ارزونه او تحليل

**تولیزه موخه:**
په دې ځپرکي کې د صنعت موضوعات د صنعتي اقتصاد له نظره څېړل کیږي او صنعتي اقتصاد له کوچني اقتصاد، د مدیریت او صنعتي اداري له اقتصاد سره مقایسه کیږي او د صنعتي اقتصاد عملي جنبه او تیوري هم مطالعه کیږي.

**د زده کړې موخې:** محصلین به د دې ځپرکي په پای کې د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

– د صنعتي اقتصاد او مدیریت د اقتصاد مقایسه کول.

– له صنعتي اداري سره د صنعتي اقتصاد توپیرونه په ګوته کول.

– د ډینامیک صنعت په برخه کې د کارسون د نظریاتو پېژندل.

– د صنعتي اقتصاد په برخه کې د ځینو اقتصاد پوهانو له تیوریو او نظریاتو سره اشنا کېدل.

– د صنعتي اقتصاد له تیوري او د هغې له عملي جنبې سره پېژند ګلوي پیدا کول.

– له کوچني یا میکرو اقتصاد سره د صنعتي اقتصاد مقایسه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د میکرو(کوچني) اقتصاد سره د صنعتي اقتصاد پرتلنه**

د استګلر په اند صنعتي اقتصاد  په کوچني اقتصاد کې د شرکت د تیوري مداوم دی چې په لړ توپیر سره بیانیږي.

که څه هم صنعتي اقتصاد او کوچنی اقتصاد د شرکت د تصامیمو، اقل حد ته د مصارفو د کمولو او لوړ حد ته د مفاد د رسېدلو په برخه کې یو ډول دریځ لري، خو  بیا هم د دې دواړو په منځ کې یو څه توپیر شته چې په لاندې ډول مطالعه کیږي:

**الف:** کوچنی اقتصاد تر ډېره بریده رسمي، قیاسي او تجریدي شکل لري، په داسې حال کې چې صنعتي اقتصاد د ورته خصوصیاتو له مخې غریب دی، یا دا چې لږ رسمي شکل لري.

**ب :** معینو محدودیتونو ته په پام سره، په کوچني اقتصاد کې موخه د مفاد زیاتوالی دی، په داسې حال کې چې صنعتي اقتصاد د شرکت لپاره کومه کوټلې موخه نه لري، بلکې څو اړخیزې موخې لري، په دې معنا چې صنعتي اقتصاد  د شرکت موخې له یوې واقع بینانه زاویې څخه مطالعه کوي.

د کوچني اقتصاد په خلاف صنعتي اقتصاد یوازې محدودیتونه په نظر کې نه نیسي، بلکې د دغو محدودیتونو د رفع کولو لټه هم کوي،له همدې کبله صنعتي اقتصاد یو فعال ډسپلین ګڼل کیږي.

**ج:** کوچنی اقتصاد د تولید جزیات او د شرکت د عملیاتو ټول جوانب په نظر کې نه نیسي او تر ډېره ځایه نظري بحثونه او موضوعات مطالعه کوي، خو صنعتي اقتصاد د صنایعو جزیات او جوانب مطالعه کوي او د اړوندو مسایلو بنیادي څېړنه کوي.

**د :** له کوچنی اقتصاد څخه تر لاسه شوې زیاتره پایلې ممکن له تجربوی نظره   د ازمایښت وړ نه وی، خو صنعتي اقتصاد له ورته محدودیتونو څخه فارغ دی او تر ډېره ځایه په تجربوي مثمریت باندې تاکید کوي.

**ح** : صنعتي اقتصاد د دولت سیاستونه او هغه پایلې چې له ورته سیاستونو څخه تر لاسه کیږي، مطالعه کوي، حال دا چې دا ټول مسایل په کوچني اقتصاد کې نه څېړل کیږي.

**خ :** په کوچني اقتصاد کې د شرکت تیوري د صنعتي اقتصاد د تیوري اساس او بنسټ تشکیلوي، خو  صنعتي اقتصاد خارجي عوامل په نظر کې نیسي چې د هغه مهم خصوصیت تشکیلوي.

سره له دې چې دواړه میتودونه دصنعتي اقتصاد جوانبو د مطالعې په برخه کې یو له بل څخه چندان توپیر نه لري، خو  کوچنی اقتصاد زیاته تجریدي او صنعتي اقتصاد زیاته قیاسي جنبه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دولت په سیاست ګذارۍ کې تر ډېره ځایه د صنعتي اقتصاد پلوي کیږي او د ټولنې له نظره مهم ګڼل کیږي، خو په ورته ډګر کې کوچنی اقتصاد له ورته اهمیت څخه نه برخمن کیږي.

**س :** کوچنی اقتصاد د بازار ساده جوړښت په نظر کې نیسي، په ورته بحث کې د رقابت او انحصار اصطلاحات څرګند دي او پایلې یې هم په اسانۍ سره تر لاسه کیږي. په داسې حال کې چې د صنعتي اقتصاد اصلي موضوع له اولیګوپول څخه عبارت ده، یعنې په صنعتي اقتصاد کې هغه بازار مطالعه کیږي چې نه رقابتي جنبه ولري او نه انحصاري جنبه ولري، بلکې د دواړو ترکیبي جنبه ولري چې ورته حالت د واقعیت عالم ته نسبتاً نږدې معلومیږي.

**ش :** لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه، صنعتي اقتصاد تر ډېره ځایه د سیاست ګذارۍ مسایل څېړي، لکه د کار او کسب په اړه د دولت سیاست، د کامل انحصار ضد سیاست، کنټرول، قوانین، مقررات او داسې نور، خو کوچنی اقتصاد له ورته مسایلو سره چندان سروکار نه لري.

**د صنعتي اقتصاد او د مدیریت اقتصاد مقایسه**

لکه څنګه چې د مدیریت په اقتصاد کې د تقاضا، مصارفو، مفادو، رقابت او داسې نورو په څېر موضوعات څېړل کیږي او د تصمیم نیونې لپاره مناسب دي، نو له همدې کبله په دې وروستیو کې د مدیریت اقتصاد ته زیاته پاملرنه کیږي. یاد شوي موضوعات په صنعتي اقتصاد کې هم ځانګړی اهمیت لري ، خو له دې سره سره د دغو دواړو تر منځ ځینې توپیرونه شته چې په لاندې ډول مطالعه کیږي:

**الف :** لومړي دا چې د مدیریت اقتصاد په یوه صنعت یا هیواد کې لږ ډیر، اکثر حد ته د مفاد د رسېدلو په فرضیه باندې ولاړ دی او د ورته موخې لپاره بېلابېلې لارې چارې لټوي، خو د صنعتي اقتصاد مشخصه متفاوته ده.

په صنعتي اقتصاد کې تر ډېره ځایه په درک، فهم او د موجوده سیستم د تطبیق په تشریح باندې تاکید کوي او له همدې لارې وړاند وینه کوي چې متغیرات په سیستم باندې څه تاثیرات واردوي.

همدا شان ارزیابي کیږي چې صنعتي اقتصاد یو اثباتي بهیر دی، په داسې حال کې چې د مدیریت اقتصاد یو دستوري بهیر یا Order Trend دی.

**ب :** د مدیریت اقتصاد د خپلو خصوصیاتو او میتودونو له مخې یو بین رشته یي موضوع ده، په داسې حال کې چې صنعتي اقتصاد دا ډول ځانګړنې نه لري.

په عملیاتو، حسابداري، روان پوهنې، بازار موندنې او اقتصاد کې تحقیق یو تر بله ترکیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي، تر څو د مدیریت اقتصاد تشکیل شي، خو صنعتي اقتصاد ورته رشتو ته چندان اړتیا نه لري. همدا شان په ورته حال کې د مدیریت اقتصاد فهم او درک ته اړتیا لري، ترڅو د تصمیم نیونکو لپاره د پوهاوي غوره امکان برابر شي.

هغه څه چې تر اوسه مو مطالعه کړی دي،د کوچني اقتصاد له نقطه نظره وړاندې شول، په داسې حال کې چې د تصمیم نیونکو ستونزې یوازې د کوچني اقتصاد ترسطحې پورې محدودې نه پاتې کیږي، بلکې سر چینې د ټولې ټولنې په وړاندې محدوده بڼه لري، نو یوه مولد ته په کار دی چې دغو محدودو سر چینو ته په پام سره د اوس او راتلونکي لپاره متنوع شیان او خدمتونه تولید کړي.په دې صورت کې باید تصمیم و نیول شي چې څه ډول شیان تولید شي.

مثلاً: کمپیوټر یا ډوډی، درمل او که اسلحه تولید شي او په څه مقدار تولید شي؟ دا ټولې هغه پوښتنې دې چې هم د ټولنې د اقتصا د او هم له ټولنیز نظره مهمې ګڼل کیږي چې په صنعتي اقتصاد کې تر بحث لاندې نیول کیږي.

یو انفرادي تولید کوونکی عمومي منافع په نظر کې نه نیسي، نو له همدې امله په کار دی چې په ورته چارو کې دولت مداخله وکړي او د صنایعو، قیمتونو، تولیداتو، مالیاتو، مالي سر چینو او داسې نورو په څېر ټول اړخونه تر څارنې لاندې ونیسي.

**له صنعتي سازمان سره د صنعتي اقتصاد توپیر**

زیاتره اقتصاد پوهان صنعتي اداره له صنعتي اقتصاد سره مترادفه بولي، خو (کارلسون) د هغوی تر منځ په دوو توپیرونو باندې قایل دی. د هغه په عقیده، د صنعتي ادارې اصلي او مهمه برخه د وخت په یوه لحظه کې د صنعت له جوړښت څخه عبارت دی.

په لومړي سر کې (چمبرلین) د (۱۹۳۰)لسیزې په لومړیو کې انحصاري رقابت ته په پام سره د صنعتي ادارې په نقش باندې تاکید کاوو او له هغه وروسته د (ماسون)او(بین)په څېر د اقتصاد نورو علماوو د نیوکلاسیک د تیوري په اساس اداري جوړښت او عملکرد مطرح کړ چې د کامل رقابت، انحصار او انحصاري رقابت زیات موډلونه یې د اولیګوپول له بېلابېلو موډلونو سره یو ځای کړل.

خو صنعتي اقتصاد دواړه برخې، یعنې صنعتي اداره او هغه موضوعات چې کارلسون د (صنعت د ډینامیک) په نومونو نومولي وو، په بر کې نیسي.

کارلسون په دې عقیده و چې د صنعت ډینامیک څلور مهم موضوعات په بر کې نیسي:

**الف:** د شرکت د اقتصادي فعالیت ماهیت او له اقتصادي ودې سره د هغه تړاو ځانګړی اهمیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب:** دې ټکي ته په پام سره چې د وخت په اوږدو کې دشرکتونو پولي حدود څه ډول بدلون مومي، او د شرکتونه ورته تړاو د شرکت او په مجموعې کې د صنعت په وده کې څه رول لري.

**ج :** فني تحولات اود فني پرمختګ مناسب تشکیل د کوچني او لوی اقتصاد په سطحه د فني پرمختګ لامل ګرځي.

**د :** اقتصادي سیاستونه د اقتصادي ودې او اقتصادي تغیراتو لپاره د موانعو او ایجاد شوي اخلال د حل په برخه کې اساسي رول لري. د دولت له لوري دغه ډول اقتصادي سیاستونه په داخلي او نړیواله سطحه دکوچني اقتصاد او ملي اقتصاد په سطحه برجسته رول لري.

صنعتي سیاست له رقابتي او یا انحصاری مخې د صنعتي ادارې د سیستم د کارکردګي ډول تر څېړنې او مطالعې لاندې نیسي او شننه کوي چې کوم عوامل د انحصار د ایجاد لامل ګرځي او تر کومه وخته به دغه عمل ته ادامه ورکول کیږي. کله چې اقتصاد پوهانو خپله پاملرنه د صنعت د ډینامیک لورته اړوي، د هغوی د تحقیق ساحه پراخیږي او هغه مسایل تحلیل او تجزیه کوي چې تغییر او بدلون په کې اړین او ضروري وي.

صنعتي اداره هغه ساحه او حدود بر رسي کوي چې د انحصار شتون ټولنیزه رفاه کموي. د صنعت ډینامیک خپله توجه هغو دلایلو ته را ګرځوي چې انحصار څنګه منځته راځي او تر کومه وخته دوام کوي.

### تیوري او په صنعتي اقتصاد کې د هغې عملي جنبه

د صنعتي اقتصاد تهداب له تیوریکي او میتودولوژیک بحثونو څخه تشکیلیږي چې په نظري او تجربوي تحلیلونو باندې ولاړ دی.د جوړښت، ادارې، د کار او کسب د مالکیت، رقابتي سلوک او په شرکت کې د قیمت د سیاستونو په څېر هغه لومړنی موضوعات چې موږ یې نن ورځ مطالع کوو، مخکې په یو نه یو ډول طرح او مطالعه کېدل چې د قیمت تکتیکونه او د ستراتیژیو انګیزې په بر کې نیسي. تولید او له هغه څخه تر لاسه کېدونکې پایلې د عمومي سیاست موضوعات دي چې د یوې نظریې په توګه مطرح کیږي.

د پیدایښت په لومړیو کې صنعتي اقتصاد پوهانو داسې انګېرله چې اړوند کار یې د تېري زمانې له مطالعاتو سره تړاو لري. هغوي په هغه زمانه معتقد ول چې اقتصادي تیوري یوازې د تطبیق لپاره کارول کیږي . له ۱۹۳۰ نه وړاندې زیاتره مطالعاتو د مالي تشکیلاتو، د ساختار د تغییراو د رقابتی تکتیکونو د ډول په څېر یوازې د هغوی په توصیف او ظاهري تعبیر باندې تاکید

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاوو. په ارزيابۍ او سلوک کې تر ډېره ځايه د اقتصادي هغو په ځای يوازې په قانوني نورمونو باندې ټينګار کېده.

د قيمت او توليد تر منځ کومې ځانګړې اړيکې شتون نه درلود او د بازار عيني جوړښت په نظر کې نه نيول کېده چې دغو ټولو د اقتصاد د تيوري په برخه کې د عمومي تفاهم له نشتوالي څخه سرچينه اخيسته.

چمبرلين د قيمت او قيمت ګذاري د تيوري په اړوند بنسټ پورې مربوطه کړه او د واقعي اقتصاد عمل يې په تمرکز، د شيانو په توپير او د هغوی په قانوني حدودو، تجارتي اعمالو او د توليد کرښې ته د ننوتلو په موانعو پورې وتاړه.

ځينې اقتصادي څېړونکو خپلې شننې او ارزيابۍ د څېړنې په لوړ حد کې تصور کولې او د خپل فعاليت پايله يې د ابزار جوړونې په داسې عنوان معرفي کولې چې ګواکې له هغوی څخه استفاده نا شونې وي. په داسې حال کې چې که له تيارو شويو ابزارو څخه استفاده ناشونې بڼه ولري، نو يقيناً چې نقش او رول يې کموالی مومي.

عمومي عقيده او احساس داسې دی چې د تيوري نقش د پوښتنو طرحه ده چې ځوابونه يې له تجربي تحقيقاتو څخه تر لاسه کيږي.

کوم موډل چې د مازون له لوري وړاندې شوی دی، کېدی شي له نظريې او تجربې څخه د استفاده کولو مناسب ترکيب وي.

د عملکرد ، جوړښت او مناسبو تغيرونو په پېژندلو کې تيوري ګټوره تماميږی ، خو د تغيراتو تر منځ تړاو ضروري دی، تر څو د تجربې د تحليلونو په واسطه اثبات شي.د قيمت تيوري چې د چمبرلين له لوري وړاندې شوه، د قيمت د تعين او ارزيابۍ د يوه فورمول په توګه کار ترې اخيستل کېده.

د اوسني وخت پوهان د متقابلو قدرتونو تيوري د ګالبرايټ او د شومپيتر د (خلاقيت د تخريب) تيوري ته منسوبوي، خو دغه دواړه موضوعات چې د صنعتي اقتصاد پوهانو د دلچسپي لامل ګرځېدلي دي، د مارشال د انحصار په بحث کې وړاندې شوي دي.

په عمومي توګه اقتصاد پوهان د قيمت په تيوري مبتني، د ادم سميت د تيوري په محتوا باندې وفادار پاتې شوي دي، ځکه صنعتي اقتصاد د قيمت له تيوري څخه د يوې ګوښې څانګې په توګه د اقتصاد د علماوو د پام وړ ګرځېدلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د یولسم څپرکي د مطالبو لنډیز**

په دې څپرکي کې مو په پراخه توګه د صنعتي اقتصاد له نظره د صنعت مطالعه وکړه.

په لومړي سر کې مو د صنعتي اقتصاد او میکرو اقتصاد تر منځ توپیرونه جوت کړل چې په لاندې ډول دي:

د میکرو اقتصاد نهایي موخه لوړ حد ته د مفاد له رسولو څخه عبارت دی، خو صنعتي اقتصاد له هغه سره په څنګ کې څو نورې موخې تعقیبوي. کوچنی اقتصاد رسمي، قیاسي او تجریدي بڼه لري، او یو غیر فعال بهیر ګڼل کیږي ، خو صنعتي اقتصاد یو فعال دسپلین ګڼل دی.

کوچنی اقتصاد د تولید او توزیع جزیات په نظر کې نه نیسي، خو صنعتي اقتصاد ورته جزیات او جوانب مدنظر نیسي او د موضوع عمق ته ځان رسوي.

صنعتي اقتصاد د دولت سیاستونه په نظر کې نیسي  او د هغوې څېړنه او بررسي کوي، خو کوچنی اقتصاد ورته مسایلو ته چندان پام نه کوي.

همدا شان د څپرکي په اوږدو کې د صنعتي اقتصاد او صنعتي مدیریت  تر منځ له یو لړ توپیرونو څخه یادونه وشوه چې په عمومي توګه صنعتي اقتصاد یو اثباتی روش ګنل کیږي، خو د مدیریت اقتصاد ته د یوه دستوري روش په سترګه ګوري.  صنعتي اقتصاد له صنعتي ادارې سره هم توپیرلري چې د کارلسون له نظره  د صنعتي ادارې اصلي برخه د وخت په یوه لحظه کې د صنعت له جوړښت څخه عبارت دی، خو صنعتي اقتصاد د صنعتي ادارې تر څنګ د صنعت ډینامیک په بر کې نیسي.

د صنعتي اقتصاد تیوري او عملي جنبه هم د دی څپرکي له عناوینو څخه ده چې د صنعتي اقتصاد اساس او بنسټ د ادارې، د کار او کسب د مالکیت، رقابت، د سیاست د قیمتونو، تولید او داسې نورو په څېر  له تیوریکي بحثونو څخه تشکیلیږي.

التبه تیوري د یولړ نظریاتو او پوښتنو له طرحې څخه عبارت ده چې ځوابونه یې د تجربوي تحقیقاتو په پایله کې تر لاسه کیږي.

د قمیت تیوري چې په لومړي سر کې د ادم سمیت او له هغه وروسته د چمبرلین له لوري طرحه شوه، په کې وړاندې شوي نظریات چې د صنعتي اقتصاد  پوهانو د خوښې وړ وګرځېدل، د الفریډ مارشال په نظریاتو کې هم وړاندې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د یولسم څپرکي پوښتنې**

۱- د صنعتي اقتصاد او میکرو اقتصاد تر منځ توپیرونه په ګوته کړئ؟

۲- صنعتي اقتصاد د مدیریت له اقتصاد سره مقایسه کړئ؟

۳-  د کارلسون له نظره د صنعت ډینامیک کوم موضوعات په بر کې نیسي؟

۴- د صنعتي اقتصاد او صنعتي ادارې تر منځ توپیرونه توضیح کړئ؟

۵- د صنعتي اقتصاد له نقطه نظره د تیوري او د هغې د عملي جنبې تر منځ اړیکې بیان کړئ؟

۶- له قیمت او قیمت ګذاري سره په تړاو د چمبرلین نظریات توضیح کړئ؟

۷- له تیوري او تجربې سره په تړاو د مازون موډل بیان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دولسم څپرکی

## د صنعتي کېدلو اهميت او عوامل

**ټوليزه موخه:**
د صنعتي کېدلو له مفهوم او عواملو سره آشنايي

**د زده کړې موخې:** محصلين به د دې څپرکي په پای کې د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

- د ساتليف له نظرياتو سره په تړاو له صنعتي معيارونو سره اشنا کېدل.
- د صنعتي کېدلو له بېلابېلو عواملو سره اشنا کېدل.

**صنعتي کېدل څه معنا لري؟**

صنعتي کېدل له هغه جريان څخه عبارت دی چې په تر څ کې يې لږ پر مخ تللي هيوادونه په پر مختلليو هيوادونو باندې بدليږي. البته دصنعتي هيوادونو د طبقه بندي په موخه بېلابېل معيارونه د اقتصاد له لوري په نظر کې نيول کيږي چې ځينې مهم يې په لاندې ډول وړاندې کيږي:

**الف :** په ملي توليد کې د فابريکه يې توکيو د ونډې زياتېدل.

**ب :** په صنعتي سکتور کې د هيواد د نفوس د استخدام صعودي بهير.

**ج :** د سړي سر عايد صعودي ميل، خو لنډ مهاله اقتصادي بحرانونه په دې بهير کې يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

استثنا ګڼل کیږي.

صنعتي اقتصاد هغه اقتصاد ته ویل کیږي چې په صنعت کې د کارخانه یی صنعت ونډه تر ۶۵٪ زیاته وي.

(کوزنتس) هغه سیمه یا هیواد د صنعتي هغې په نامه پیژنی چې د صنعتي تولید مجموعې زیاتوالی په کې دوام دار بهیر وي او یا د کار او سرمایې مادي څواک په کار اچول شوی وي.

د ساتلیف د نظر له مخې د لاندې معیارونو سلسله اړینه ده، تر څو یو هیواد د صنعتي هیواد په توګه تلقي شي.

د یوه هیواد حد اقل ۲۵٪ ناخالص ملي تولیدات د صنعت په برخه کې تولید شي.

حداقل ۶۰٪ صنعتي تولیدات په کارخانو کې تولید شي.

د یوه هیواد حد اقل ۱۰٪ نفوس د صنعت په ساحه کې په کار بوخت وي.

یادونه کیږي چې د ساتلیف له لوري تشخیص شوي حالات د هیوادونو له واقعیتونو سره سر نه خوري.

**د صنعتي کېدلو په جریان کې کوم عوامل تاثیر لري؟**

په عمومي توګه د هیوادونو د صنعتي کېدلو په پروسه کې دوه عوامل مرکزي رول لري چې له اقتصادي او غیر اقتصادي عواملو څخه عبارت دي، چې د غیر اقتصادي عواملو په لړ کې سیاسي هغه له ځانګړې اهمیت څخه برخمن دي.

اقتصادي عوامل: فزیکي سرمایه یا پانګه، طبیعي سر چینې، د ماهر کار قواوي، مدیریت او رهبري، تکنالوژي، د بازار اندازه او زېربنایي امکانات د صنعتي کېدلو د بهیر له اقتصادي عواملو څخه عبارت دي. خو په دې لړ کې فزیکي سرمایه د هیواد د صنعتي کېدلو په برخه کې نسبت نورو ته مرکزي رول لري. څکه څرګنده ده چې د مخ په ودې یا درېیمې نړۍ د صنعتي کېدلوپه لاره کې تر ټولو ستر خنډ د سرمایې کمبود دی.

د طبیعي سر چینو شتون هم په خپل نوبت سره د هیوادونو د صنعتي کېدلو په برخه کې مهمه دنده تر سره کوي.

همدغه طبیعي سر چینې دي چې د صنعت لپاره د اړتیا وړ خام مواد تهیه کوي، خو له دې سره سره په هیواد کې د طبیعي سر چینو نه شتون، کوم داسې ګواښ نه ګڼل کیږي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنعتي کېدلو پروسه په ټپه ودروي.

د مثال په توګه ځینې داسې هیوادونه شته چې د طبیعي سر چینو له پلوه غني دي، خو لا تر اوسه پورې د صنعتي هیوادونو په لیکه کې ځای نه لري، لکه د نفتو ځینې صادرونکي هیوادونه. همدا شان د جاپان او سویلي کوریا په څېر ځینې داسې هیوادونه شته چې د طبیعي سر چینو له پلوه فقیر دي، خو د پرمختللیو هیوادونو په قطار کې ځای لري، نوپه دې توګه ویل کیږي د صنعتي کېدلو په جریان کې د تکنالوژیکي پرمختګ د اهمیت له مخې د طبیعي سر چینو ځای اشغال کړ.

د دې تر څنګ مدیریت او د انساني قوې مهارت تر اوسه پورې د صنعتي کېدلو په جریان کې کلیدي رول لري. اصلاً د دغو عواملو نه شتون د دربېمیې نړۍ د صنعتي کېدلو د بهیر تر ټولو ستر خنډ بلل کیږي.

محدود بازار هم د صنعتي کېدلو د مانع حیثیت لري، خاصتاً په کوچنیو هیوادونو کې. ورته هیوادونه د لوړو تعرفو، او د هغوی د صادارتو په مقابل کې د صنعتي هیوادونو د شدید رقابت په څېر له یو لړ محدودیتونو سره مخ کیږي.

په دغه بهیر کې د غیر اقتصاد عواملو اهمیت هم د اقتصادي عواملو تر هغه کم نه دی. زیاترو صنعتي او غیر صنعتي هیوادونو د دغې تجربې حقیقت تایید کړی دی. د صنعتي هیوادونو په لړ کې جاپان، چین، سویلي کوریا او داسې نور هیوادونه د دغه امر مصداق دي او چیلي، پاکستان، د منځني ختیځ او افریقا زیات هیوادونه هغه ډله تشکیلوي چې د صنعتي کېدلو په درشل کې د غیر اقتصادي عواملو په اهمیت باندې تاکید کوي.

د غیر اقتصادي عواملو په لړ کې عمومي امنیت او سیاسي ثبات ځانګړی اهمیت لري، ځکه خصوصي پانګه اچونه د سیاسي بې ثباتي په وړاندې خورا حساسیت لري، همدا شان دولتونو سوداګریزې اړیکې هم په اغېزمنه توګه د سیاسي ثبات او بې ثباتي له شرایطو څخه متاثر کیږي.

د مناسبو او یا نا مناسبو سیاستونو خپلول د صنعتي کېدلو د بهیر په ګړندي توب او ټنبیلي باندې قوي اغېز لري، همدا دلیل دی چې د کلاسیکو د مکتب د ادعا په اساس، صنعت ته د لاس رسي او اقتصادي پراختیا په لاره کې د دربېمي نړۍ د هیوادونو ورسته پاتې والی د وارداتو د تعویض په باره کې دنیمګړیو یا غیر اغیز منو سیاستونه اسعتمال دی چې د همدغو هیوادونو د دولتونو له لوري صورت نیسي.

افغانستان هم له ورته قاعدې څخه مثتثنا نه دی او عملاً لیدل کیږي چې تر اوسه پورې د وارداتو د تعویض مناسبه پالیسي او سیاست په کار نه دی اچول شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دولسم څپرکي د مطالبو لنډيز**

صنعتي کېدل له هغه جريان څخه عبارت دی چې په پايله کې يې لږ صنعتي هيوادونه په صنعتي هيوادونو باندې بدليږي. د څپرکي په اوږدو کې د ورته بهير له يو لړ معيارونو څخه يادونه وشوه چې د فابريکه يي توليداتو ونډه، د صنعت په برخه کې د استخدام شويو وګړيو د شمېر سلنه، او د سړي سر عايد زياتوالی د يادونې وړ دي.

د اقتصاد علماوو له ډلې څخه د کورنتس په نامه يو عالم هغه سيمه يا هيواد د صنعتي هيواد يا سيمې په صفت پيژني چې په صنعتي توليد کې يې ورځ تر بلې زياتوالی راځي

ساتليف هغه هيوادونه د صنعتي هيوادونو په توګه پيژني چې په لاندې معيارونو باندې برابر وي:

- حداقل ۲۵٪ ناخالص ملي توليدات يې په کارخانو کې توليد شي.
- حداقل۶۰٪ صنعتي توليدات يې د کارخانو په برخه کې توليد شي.
- حداقل۱۰٪ وګړي يې د صنعت په برخه کې استخدام شوي وي.

همدا شان د څپرکي په اوږدو کې يادونه وشوه چې دوه ډوله عوامل د صنعتي کېدلو په بهير کې رغنده رول او اغېز لري چې هر يو يې په ترتيب سره له اقتصادي عواملو او غير اقتصادي عواملو څخه عبارت دي.

اقتصادي عوامل د فزيکي پانګې، طبيعي سر چينو، د ماهرکار د قوې، مديريت او رهبري، تکنالوژي، د بازار د اندازې او زېربنايي تاسيساتو په څېر له يو لړ فکتورونو څخه عبارت دي، په داسې حال کې چې غير اقتصادي هغه د يوه هيواد سياسي اوضاع،ثبات او امنيتي عوامل په ځان کې را نغاړي، چې په دې لړ کې عمومي امنيت او سياسي ثبات ځانګړی رول لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دولسم څپرکي پوښتنې**

**۱- د صنعتي کېدلو معيارونه توضيح کړئ**

**۲- کوزنتس کومې سيمې يا هيوادونه د صنعتي هغو په صفت پېژني؟**

**۳- د سالتيف له نظره د صنعتي کېدلو لپاره کوم معيارونه اړين ګڼل کيږي؟**

**۴- د صنعتي کېدلو اقتصادي عوامل توضيح کړي؟**

**۵- د صنعتي کېدلو غير اقتصادي عوامل کوم ډول عوامل دي توضيح يې کړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د صنعتي ودې په اړه نظريات

**ټوليزه موخه:**
**له نيوکلاسيک مکتب سره آشنايي، د جوړښت پلوۍ (ساختار گرايي) نظريې، د تړاو تيوري، د لوړ فشار د نظريې او اقتصادي سياستونو په هکله د معلوماتو لرل.**

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلين د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

- په اقتصادي مسايلو کې د دولت د رول په هکله د نيوکلاسيکو د نظر په هکله معلومات تر لاسه کول.
- د باندنۍ سوداگرۍ په اړه د جوړښت پلوي مکتب د نظريې په هکله معلومات تر لاسه کول.
- د تړاو د تيوري له مخې د صنعت په هکله معلومات تر لاسه کول.
- د ستر فشار له نظريې سره اشنا کېدل.
- د صنعتي کېدلو د سياستونو په اړه د معلوماتو تر لاسه کول.

له صنعتي ودې سره په تړاو بېلابېل مکاتب بېلابېل نظريات او فکري برداشتونه لري چې له دې جملې څخه د نيوکلاسيک مکتب، د سترفشار نظريه، د حوړښت پلوو نظريې او د تړاو مکتب نومونه اخستلای شو چې هر يو يې د صنعتي پراختيا ځرنگوالی مطالعه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نیو کلاسیک مکتب**

د نیوکلاسیکو علماوو په نظریاتو کې دوه موخې نغښتې دي.

لومړۍ استراتیژۍ دا ده چې بازار باید د یوه ازاد میکانیزم لرونکی وي، تر څو صنعتي ودې ته زمینه برابره شي.

د دغه نظر له مخې د بازار میکانیزم د قیمتونو د سیستم له لارې د سر چینو د تخصیص ځواک لري. د نیوکلاسیک مکتب د نظر له مخې دبازار د میکانیزم په برخه کې د دولت مداخله باید تر ټولو شکته برخې ته ورسیږي، په دې معنا چې په ټولو مسایلو کې د دولت نقش محدود شي تر څو د دې زمینه برابره شي چې د کار د قوې قیمت د بازار له لوري تعین شي او د داخلي تولید او صادارتو تر منځ تبعیض له منځه ولاړ شي.

د هغوی دوهمه ستراتیږی دا ده چې داخلي تجارت دې ازاد پرېښودل شي او د اسعارو نرخ ته دې کموالی ورکړل شي. دا په دې مفهوم چې د وارداتو کنټرول له منځه ولاړ شي، د ګمرکي تعرفو نرخونه نزول وکړي او په مجموع کې د شونتیا تر بریده، دولت د ازاد تجارت د نظام په توګه عمل وکړي.

د دغې تیوري له مخې دولت باید د کار او سرمایې په چارو کې مداخله ونکړي .

د وابستګي د مکتب د نظر په څېر د نورو نظریو په خلاف د نیوکلاسیک مکتب له نظره په درېیمه نړۍ کې د صنعتي کېدلو امکان زیات دی او دا له هغو سیاستونو سره تړاو لري چې د دولت له لوري د صنعتي کیدلوپه باره کې په کار اچول کېږی.

د دغه مکتب د صاحب نظرانو په اند، د مخ پر ودې هیوادونو په اقتصاد کې د دوه رنګي چلند شتون کولای شو د دغو هیوادونو او مدرن صنعت د ایجاد کېدونکي پله د بندولوو په دود تلقي کړو، ځکه دغه هیوادونه کولای شي د صنعتي هیوادونو له تجربو او موډلونو څخه په استفادې سره صنعتي انکشاف وکړي .

**د جوړښت پلوۍ نظریه**

د جوړښت پلوۍ مکتب چې د ۱۹۵۰ په لسیزه کې منځته راغی، د کلاسیک مکتب په پرتله ډېر ځوان دی. (لیتل) وایي د صنعت او صنعتي انکشاف په برخه کې له ۱۹۵۰ لسیزې وړاندې د جوړښت پلوۍ هیڅ ډول اثارو او نظریې شتون نه درلود.

جوړښت پلوي انعطاف نه منونکی نظر لري او عقیده لري چې په پرمختیایي هیوادونو کې تقاضا د فقر او بیوزلۍ د شتون له امله ارتجاعي خواص نه شي لرلای، همدا شان د فقر او بېوزلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دتولید د لږ موثریت له کبله عرضه هم په کې چندان غښتلی موقف نه لري.

د جوړښت پلوو په نظر له صنعتي پلوه په کار دا وه چې پر مختللي هیوادونه د بېکارۍ له ستونزې سره مخ وای ، په داسې حال کې چې ټول مخ په وده هیوادونه له ورته قضیې سره مخ وي چې دغه پېښه د یوه نا پرمختللي سیستم د ځانګړیو خواصو پایله وي.

د جوړښت پلوۍ مکتب یوه بله مهمه موضوع د خارجي تجارت موضوع ده.

دغه بحث د لاتینې امریکا د اقتصاد پوه رائول پر بیش له نظریې څخه په استفادې سره څیړو. د نوموړي د نظر له مخې نړۍدوه برخې ده: پر مختللي هیوادونه چې د مرکزي هیوادونو په نوم هم یادیږی او وروسته پاتې هیوادونه چې د محیطي هیوادونو په نوم هم یادیږي. د دغو دو، ډلو تر منځ د توپیر دوه ټکي شتون لري چې یو یې د کار د بازارونو د چلند اود تکنالوژي له برکته د مفیدیت له تغییر څخه عبارت دی، چې د دغو دوو ډلو تر منځ د صادراتو په مورد کې د هغوی په قیمت باندې متفاوت اغېز غورځوي.

دوهم توپیر دا دی چې صادراتو ته د مرکزي او ورسته پاتې هیوادونو د تقاضا تغییر یو ډول نه دی، په پایله کې مبادله د مرکزي هیوادونو په ګټه او د وروسته پاتې هیوادونو په زیان پای ته رسیږي چې په پایله کې یې دغه هیوادونه د خارجي پرداخت په وړاندې له کسر سره مخ کیږي.

د ساختارګرایانو په نظریه باندې یو لړ نیوکې او انتقادونه شوي دي چې له دې لړ څخه په مخ په وده هیوادونو کې د عرضې او تقاضا د عدم انعطاف فرضیه یو بدبینانه نظر ګڼل کیږي. زیاتره مخ په وده هیوادونه شته چې تر اوسه پورې یې د صنعتي کېدلو وس نه دی تر لاسه کړی، چې دغه نیمګړتیا په ورته ډګر یعنې د د وارداتو په برخه کې د هغوی د سیاست د عدم موثریت له کبله منځته راغلي ده چې د صنعتي بهیر وروسته والی په اثبات رسوي چې په اصلاح او سموالي باندې یې د ساختارګرایانو له لوري تاکید شوی دی.

**د تړاو تیوري**

دغه نظریه د صنعتي کېدلو د ارزیابي په برخه کې د یوې افراطي نظریې په توګه پېژندل شوې ده چې د سمیر امین، امانویل،ګودرفرنګ، کلابوتوما او پل باران په څېر د یو لړ صاحب نظرانو له لوري طرحه او توسعه ورکول شوې ده. د دغې نظریې اصلي تاکید دا دی چې د مرکزي او وروسته پاتې هیوادونو تر منځ یوه نامساوي اړیکه شتون لري. دغه کسان هم د پربیش په څېر نړۍ ته په دوه ګوني نظر ګوري. د دغه مکتب له نظره د نړۍ سرمایه داري سیستم د کار یو نړیوال وېش منځته راوړي چې په پایله کې یې مخ په وده او وروسته پاتې هیوادونه مرکزي هیوادونو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خامو موادو په صادرولو باندې مجبوريږي  او په بدل کې يې له دغو هيوادو څخه کارخانه يی مواد واردوي. په مجموع کې ويلای شو چې دغه نظريه د سرمايه داري په نظام باندې څرګنده نيوکه کوي.

د تړاو د مکتب د صاحب نظرانو له نظره د هغو هيوادونو ډله چې نوي صنعتي شوي دي، د سرمايه داري ودې ته زړه نه ښه کوي، ځکه د هغوی زياتره دهقانان او کارګران لږ درآمد لري  او په ورته جوامعو کې موثره تقاضا تر په ټولو ښکته سطحه کې قرار لري.

د تړاو د نظريې مهم اصل د مرکزی هيوادونو په پرتله په محيطي هيوادونو کې د مز د سطحې ټيټوالی دی چې دا پخپله د دغو دوو ډلو تر منځ د نامساوي اړيکې د منځته راوړلو لامل ګرځي.

**د فشار ستره نظريه**

د دريمې نړۍ په هيوادونو کې چې د نفوس د ليږوالي، تقاضا د زياتوالي او نا برابري توزيع له امله د سړي سر عايد له کموالي څخه سر ټکوي، همدا شان  د بازار محدوديت يې هم د هغو موانعو له ډلې څخه شمېر ل کيږي چې د صنعتي کېدلو په لاره کې خنډ ايجادوي. له بلې خوا د صنعتي هيوادونو له لوري درنې تعرفې او شديد رقابتونه هم په ورته بهير کې ورته ننګونې ګنل کيږي چې په دې توګه نه شي کولای خپل خدمت ته ګټوره تکنالوژي وړاندې کړي چې له کبله يې د صنعتي کېدلو بهير لا پسي ټکنی کيږي او يا خو په ټپه دريږي.

په دي اړه د درانه فشار تيوري چې په ۱۹۴۳  ام کال کې د رودن له لوري طرحه شوه، د هغو لارو پلټنه کوي چې له کبله يې کوچني هيوادونه کولای شي د داخلي بازارونو د توسعې له لارې د صنعتي کېدلو بريد ته ورسيږي.

رودن ادعا لري چې د دغو هيوادونو د موفقيت چانس په دې کې نغښی دی چې د خپلو سر چينو حداقل يوه برخه  د توسعې د پلان د اجرا لپاره ګوښې کړي.  لکه څنګه چې د سرمايه ګذاري اقل حد د هيوادونو د موفقيت لپاره ضروري دی،  خو په يوازې سر سره کافی شرط نه ګڼل کيږي، نو له همدې کبله هره برخه د نورو توليداتو لپاره په نورو برخو کې لازمه تقاضا منځته راوړي.

د صنعتي کېدلو په ترڅ کې په يوځلي توګه زياتې برخې کولای شي بسيا شي. دغه نظريه د نورکس، سيتوسک او فليمينګ په څېر د نظر د څښتنانو له لوري د متعادل رشد د دوکتورين او يا لوی فشار  په چوکاټ کې پراختيا موندلې ده.

د دغه نظر له مخې دولت بايد په مختلفو برخو کې  د هم اهنګه سرمايه ګذاري د تشويق له لارې اساسي رول تر سره کړي، خاصتا د هغو هيوادونو په برخه کې چې د غير ازاد تجارت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمصرفه حمل او نقل له ستونزو سره مخ وي او خپل تولیدات په اسانه سره نړیوالو بازارونو ته نه شي رسولای، دغه طرحه ورته موثره ده.

د لوی فشار تیوري له دې امله چې یوه مبهمه نظریه ده، د زیاتو اقتصاد پوهانو له لوري تر نیوکې لاندې راغلې ده.

**هغه سیاستونه چې په صنعتي کېدو کې په پام کې نیول کیږي:**

صنعتي سیاستونه په اصل کې د هغوی له اړونده تیوریو څخه سرچینه اخلي، ځکه هر نظري مکتب د خپل نظر وړ انکشافي سیاستونه وړاندې کوي. خو له دې سره سره دوه اساسي ستراتیژۍ د اقتصادي تئوریسینو یا د تیوریو د طراحانو له لوري معرفی شویدي چې دغه استراتیژۍ په ترتیب سره داخلي او باندني سیاستونه په نظر کې نیسي. که څه هم دغه استراتیژۍ له باندني سیاست سره تړاو لري خو هره یوه یې په خپل ضمن کې د داخلي بازارونو په وړاندې هم معین سیاستونه وړاندې کوي چې د تنکي او ځوان صنعت د زېږېدلو او ودې سیاست یې یوه بېلګه ده.

په هغې ستراتیژۍ کې چې باندني مسایل په نظر کې نیسي، تر ډېره ځایه باندنیو بازارونو ته په کې زیاته پاملرنه کیږي چې تر ډېره ځایه د نیوکلاسکو علماوو له نظریاتو څخه سرچینه اخلي او دا توصیه کوي چې د تولید ساختار باید داسې طراحي شي تر څو وکولای شي په باندینیو بازارونو کې نفوذ وکړای شي. د دغه امر د تحقق په موخه دوه اساسي فکتورونه په نظر کې نیول کیږي: د نړیوال بازار د تولیداتو قیمت او کیفیت او په خپله نړیوال بازار د یوه کامل رقابت د بازار په څېر فرض شوی دی، ځکه نړیوال بازار ته ننوتل پخپله د مالیاتو د مختلفو ډولو د کموالي او یا مالیاتي تعرفو د کموالي یا حذف کېدلو مستلزم دی. دغه مسله په سهمیه بندي باندې د کنټرول او هغو محدودیتونو په څېر د ټولو محدودیتونو په برخه کې صدق کوي چې په وارداتو باندې وضع کیږي.

خارج ته د نظر کولو د استراتیژۍ پیروي په صنعتي توکیو کې د ازاد تجارت په معنا نه دی، ځکه د داخلي قیمتونو او نړیوالو قیمتونو تر منځ توپیر د وخت په هره شېبه کې واقع کېدونکی حقیقت دی، خو اقتصادي میلان تل د وارداتي تعرفو او اسعارو د نرخ د کنټرول په لټه کې دی.

ځینې شواهد او ارقام په ډاګه کوي، یو لړ هیوادونو چې له دغې ستراتیژۍ څخه د صنعتي کېدلو په موخه پیروي کړې، د نورو په پرتله په ګړندۍ توګه د صنعتي کېدلو موخې ته رسیدلي دي. یو شمېر مخ په وده هیوادونو او د سویلی کوریا، چین، سنګاپور، تایوان او هانګ کانګ په څېر اسیایي هیوادونو په ځانګړې توګه صنعت ته لاس رسی پیداکړی دی چې د څلورو کوچنیو زمریانو او یا (غول چهارتایي) په نامه یادیږي. که څه هم د هغوی موفقیت د بېلابېلو عواملو له کبله دی، خو ځانګړی تجارتي سیاست یې د دغو عواملو په لومړي سر کې ځای نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له داخلي استراتيژۍ سره په تړاو باید و ویل شي چې دغه ستراتیژۍ د باندنۍ ستراتیژی په خلاف ده چې تر ډېره ځایه په داخلي بازارونو باندې تمرکز کوي. دغه استراتیژۍ په لومړي سر کې د پربیش په څېر د ساختارګرایانو په واسطه توصیه شوه او له هغه وروسته د درېیمې نړۍ د اقتصاد پوهانو له لوري تعقیب شوه.

د دغه نظر پلویانو مخ په وده هیوادنه د وارداتو د عوض له لارې د صنعتي کېدلو د سیاست لور ته تشویق کړل. په دې اړه هغو هیوادونو ته چې د تکنالوژۍ له پلوه وروسته پاتې دي، ضروري ده، تر څو په قیمتونو کې د دخالت او د وارداتو د مخنیوي لپاره د موانعو د ایجاد له لارې د داخلي بازارونو د لومړنیو اړتیاوو د پوره کېدلو لپاره د صنعتي سرمایه ګذاري په توسعې تشدید لاس پورې کړي.

دغه پالیسي دوه داخلي او باندني اړخونه لري، په دې معنا چې په لومړي قدم کې باید داخلي بازار د نویو صنایعو له ایجاد او نویو صنعتي شیانو سره چې مخکې له بهر څخه واردېدل، تر تاثیر لاندې راوړل شي او په دوهم قدم کې وارداتي سهمیې نسبتاً لوړې او په خارجي تجارت باندې نسبتاً درانه ممانعتونه وتپل شي او په څنګ کې د اسعارو نرخ کنټرول شي. سره له دې چې د اشتغال زیاتوالی د دغې استراتیژۍ اصلي موخه ده، خو په عمل کې د سرمایوي او صنعتي شیانو په مورد کې د مالیاتي معافیتونو د غیر واقعي نرخونو د موجودیت له کبله له دغې استراتیژۍ څخه ګټه اخستل په اړوند هیوادونو کې د سرمایه بر یا capital-intensive صنایعو د ایجاد لامل ګرځېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ديارلسم څپرکي د مطالبو لنډيز**

د دې څپرکي په اوږدو کې له صنعتي ودې سره په تړاو د نيوکلاسيک، د لوی فشار نظريه، د ساختار ګرايانو نظريه او د صنعتي کېدلو د سياستونو په څېر د اقتصادي مکاتبو نظريات مطالعه شول.

د نيوکلاسيک مکتب له نظره بايد د صنعتي کېدلو په برخه کې دوه ستراتيژۍ رعايت شي. لومړۍ استراتيژۍ دا ده چې بايد ازاد مارکيټ شتون ولري او د بازار ميکانيزم د قيمت د سيستم له لوري تنظيم شي. دولت نبايد په بازار کې دخالت وکړي او يا يې د خالت تر ټولو ټيټې کچې ته راکښته شي.

دوهمه استراتيژۍ دا ده چې بايد خارجي سوداګري ازاده بڼه ولري او د اسعارو نرخ ته کموالی ورکړل شي، تر څو د وارداتو په وړاندې موانع او کنټرول له منځه ولاړ شي.

د ساختار ګرايي مکتب د نوي تفکر يو طرز ګڼل کيږي او د انعطاف نه منلو نظر لري، د دغه مکتب پيروان عقيده لري چې په غريبو او بېوزله هيوادونو کې غير ارتجاعي بڼه لري او عرضه هم چندان ښه اثر نه لري.

د دغه مکتب له نظره نړۍ په دوو ګروپونو، يعنې په پرمختلليو  يا مرکزي او وروسته پاتې يا محيطي هيوادونو وېشل شوې ده.

د وابستګي يا تړاو تيوري د صنعتي کېدلو په برخه کې افراطي نظر لري. هغوی هم د ساختارګرايانو په څېر نړۍ په دوو برخو وېشی  چې يوه برخه يې د مرکزي او بله برخه يې د محيطي هيوادونو په نومونو وېشي.  د دغه مکتب له نظره  سرمايه داري نړۍ د کار يو نړيوال وېش را منځته کړی دی چې په پايله کې يې مخ په وده هيوادونه اړ دي خپل خام مواد او لومړي توکي مرکزي هيوادونو ته صادر کړي او صنعتي توکي له مرکزي هيوادونو څخه وارد کړي.

د لوی فشار  د تيوري له مخې د صنعتي کېدلو په برخه کې د درېيمې نړۍ هيوادونه له زياتو ستونزو سره لاس او ګريوان دي، نو له همدې کبله په اقتصادي برخو کې د دولت د سرمايه ګذاري پلانونه په سمه توګه نه تطبيق کيږي.

اقتصادي سياستونه له اړوندو اقتصادي تيوريو څخه سرچينه اخلي چې هر اقتصادي مکتب  يې د صنعتي کېدلو لپاره په اړوند داخلي او خارجي ستراتيژيو کې داخلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ديارلسم څپرکي پوښتنې**

۱- نيوکلاسيک علماء د صنعتي کېدلو په برخه کې کوم ډول استراتيژۍ په نظر کې نيسي، توضيح يې کړئ؟

۲- د بازار او سرمايه ګذاري په چارو کې د دولت د مداخلې په اړه د نيوکلاسيک مکتب نظر څه ډول دی؟

۳- په مخ په وده هيوادونو کې د عرضې او تقاضا په برخه کې د ساختارګرايانو نظريه څه ډول ده؟

۴- له خارجي تجارت سره په تړاو د ساختارګرايانو د مکتب نظر بيان کړئ؟

۵- د وابستګي تيوري سرمايه داري نظام څه ډول ارزيابي کوي؟

۶- د لوی فشار د نظريې له مخې، کوچني هيوادونه څه ډول کولای شي صنعتي وده تر لاسه کړي؟

۷- د لوی بزرګ د تيوري له مخې دولتونه د مخ په وده هيوادونو د صنعتي کېدلو لپاره کوم ډول تدابير نيولای شي؟

۸- د تيوري او سياست تر منځ څه اړيکه شتون لري؟

۹- د داخلي او باندنۍ استراتيژۍ په هکله معلومات ورکړی.

۱۰- مخ په وده هيوادونه صنعتي سياستونه څنګه په مخ بيايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچينې او اخځليکونه:**


۱- لکچرنوت «اقتصادي صنعتي »پوهنځئ اقتصاد پوهنتون کابل

۲- یوسفی داکتر محمد قلی «اقتصاد صنعتي» جلد اول، تهران، پوهنتون طباطباتی.۱۳۸۲.

۳- متوسلی، داکتر محمود، توسعه اقتصادي، تهران ۱۳۸۲

٤- مجله اطلاعاتی صنعتي افغانستان اسد ۱۳۸۳

٥- مجله دوماهه اتاق های تجارت وصنایع، سرطان واسد ۱۳۸٤

٦- مبادی اقتصادي تصدي، پوهندوی دکتور محمد انور دوست

۷- مظلوم یارمحمد قدیر مونوگراف ۱۳۷٥ پوهنځئی اقتصاد

۸- برنامه ریزی کنترول تولید وموجودی ها، داکتر محمد تقی فاطمی قمی ۱۳۸٥

۹- سیاست پولی وانفلاسیون ،کاری ای، کینس وری سی، فیر مترجم احمد جاوید شعیبی، سرطان ۱۳۸۸

۱۰- مشعوف میرمحمد یعقوبی، نشریه توسعه وصنعت اتحادیه صنعتگرایان ولایت هرات جدی ۱۳۸٥

۱۱: ارمکی غلام رضا آآزاد مترجم اقتصاد توسعه وصنعت، انتشارات فردوس ۱۳۷۹

۱۲- سلیمی فر داکترمصطفی، اقتصاد توسعه ۱۳۸۲ مشهد

۱۳- هوسا فهیمه تاریخچه صنایع ماشین افغانستان، بازار، مجله اتاق های تجارت وصنایع ۱۳۸٤

١٤- طاهری، ابوالقاسم، نظام صنعتي، تهران

۱٥- مشعوف، میرمحمد یعقوب ،تکنالوژی وانتقال آن در شرایط فعلی افغانستان مجله اطلاعات صنعتي افغانستان.

۱٦- فروزش، محمد ابراهیم ،بقای صنایع داخلی درگرو سرمایه گذاری های مشترک مجله اطلاعات صنعتي افغانستان اسد ۱۳۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام

د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د ښوونیز نصاب د انکشاف ریاست د ټولنې د عیني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلینو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې یې تخنیکي او مسلکي رشتې درلودې او لري یې، په لومړي سر کې یې تصمیم ونیو، چې په ښــوونیزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بیا کتنه وکړي او ورپســې بیا د شاګردانو او محصلینو د درسي کتابونو د تالیف لپاره مبادرت او کوښــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســابدارۍ څانګې د ښــوونکو په میړانې او همت سره د ادارې او حســابدارۍ درسي کتابونه تالیف شول تر څو په وړیا ډول د شاګردانو او محصلینو په واک او اختیار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شــاګردانو او د تخنیکي او مســلکي زده کړو د چارو له متخصصینو او همدا شــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صمیمانه هیله کیږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښــوونکو او د ادارې او حســابدارۍ څانګې د مســلکي غړو له لوري تالیف او تدوین شوي دي. د مســلکي، تخنیکــي او علمي مطالبــو او مفاهیمو د څرنګوالي په هکلــه خصوصاً د هغوی املایي او انشــایي اشــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شــان له ګرانو شــاګردانو او محصلینو څخه هیله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســتفادې پر مهال د هیواد اقتصادي ســتونزې، فقر او وروســته پاتې والی په نظر کې ونیسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زیار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلینو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنیکي زده کړو معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست
د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مدیریت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**